د شهيد أميرالمؤمنين رحمه الله جهادي خدمتونو او کارنامو ته ځانګړې ګڼه

شهامت

دشهيد أمير المؤمنين رحمه الله په وير څو کرښې....

لسم کال، لومړی، پرلپسې ۵۷مه ګڼه، شعبان ـ رمضان ۱٤۳۷هق، جون ۲۰۱٦م

- ❖ د مبتکر قايد د شهادت دردونکې پېښه!!
- ❖ د شهيد اميرالمؤمنين قيادي شخصيت
- ❖ دعاليقدرمنصور صاحب (رحمه الله) لار او مسير!!
- ❖ داميرالمؤمنين شهادت، دامريکا ناپاکه عزائم او د اسلامي امارت روڼ مستقبل
- ❖ مردی که امارت را همچو سلف اش نګهداشت
- ❖ دبيعتونو پراخ او نورمال بهير دامارت استحکام او عمق ثابت کړ
- ❖ اسلامي امارت کې درهبرۍ اغېز!
- ❖ د يوه محروم اتل په ياد کې
- ❖ د طالبانو د مشر د شهادت په اړه څو ناويلي حقايق!!...
- ❖ **بيعتونه او تعزيتونه**

داسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد دشهامت سره په مرکه کې:

د منصور صاحب رحمه الله شهادت به داسلامي امارت په تګ لاره، پاليسۍ، دمجاهدينو په جهادي روحيه او دريغ اغيز ونه کړي.

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

لسم کال، لومړی، پرلپسې ۵۷مه گڼه، شعبان -رمضان ۱۴۳۷هق، جون۲۰۱۶م

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنگي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد ''حقاني '' لطیف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحید''
نعیم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبیب

بیه :

یوه گڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارۍ په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانگه

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت
په غاړه نه اخلي.

لړلیک

گڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه....................................	۱
۲	دشهید امیرالمؤمنین قیادي شخصیت..................	۳
۳	د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد سره مرکه...........	۵
٤	د مبتکر قاید د شهادت دردونکې پېښه!!..................	۱۰
۵	دعالیقدر منصور صاحب رحمه الله لار او مسیر!!.............	۱۳
٦	اسلامي امارت کې درهبري اغیز!........................	۱۵
۷	دیومرحوم اتل په یاد کې..............................	۱۷
۸	دامیرالمؤمنین شهادت ، دامریکاناپاکه عزایم او د اسلامي....	۱۸
۹	دبیعتونو پراخ او نورمال بهیر دامارت استحکام او عمق.......	۲۴
۱۰	دمنصور صاحب څو بعدیز شخصیت......................	۲۶
۱۱	دمولوي محمد رستم حنفي ژوند لیک......................	۲۹
۱۲	دطالبانو دمشر په اړه څو ناویلي حقایق!!................	۳۲
۱۳	مردی که امارت را همچو سلف اش نگهداشت................	۳۶
١٤	هغه امیر چې طاغوت ترې ویره لرله......................	۳۹
۱۵	مونږ تلپاتې ژوند ته په همدغه لار ورځو!................	۴۰
۱٦	گلورینې پاڼې..................................	۴۲
۱۷	دشهید منصور صاحب سره دیوه مجلس خاطره...............	۴۴
۱۸	دامیر المؤمنین دشهادت او نوي امیر دتعین اعلامیه..........	۴۷
۱۹	تعزیتونه او بیعتونه..............................	۴۹

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک :Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

د شهید امیرالمؤمنین رحمه الله

په ویر خو کړښې....

د ۱٤۳۷هق کال دشعبان په ۱٤[۱۳۹۵کال جوزا لومړی]مه د افغانستان اسلامي امارت زعیم امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور دغاصبو او اشغالګرو امریکا یانو دبې پیلوټه الوتکې په برید کې دشهادت لوړمقام ته ورسید. انا لله وانا الیه راجعون.

له شک پرته په دې دردونکې خبر دهېواد دننه اوبهر دزرګونه دیني علماوو، طالبانو، مجاهدینو او لکونومسلمانانو زړونو ټکان خوړلی او له خفګانه یې د سترګونه اوښکې څاڅي.

شهید منصور صاحب د امیر المؤمنین ملا محمد عمرمجاهد رَحِمَهُ اللهُ دوفات وروسته په پوره تدبر زړورتیا، اومیرانه دمجاهدینو اومسلمانانودرهبری حق اداء کړ او داشغالګرو امریکایانو په وړاندې یې دمقدس جهاد فریضه په ښه عالي مورال سرته ورسوله چې سترې جهادي کارنامې او قرباني به یې په تاریخ او د مسلمانانو په یاد کې تلپاتي او وړباندې راتلونکي نسلونه به ویاړي...

رښتیا هم داسلام او مسلمانانو ددې ستررهبراومبتکر مشرناڅاپي شهادت داسلامي امارت اومجاهدینو لپاره نه جبرانیدونکې ضایعه او ملاماتونکې پیښه ده، ولې نوموړی حق پال قاید او مشر وچې دکردار اوګفتار دواړو غازي و او دسپېڅلي شریعت په حکمونودعمل لرونکورهبرانو دخصایلو او اوصافو نمونه و!

دامیر المؤمنین [ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ اللهُ] په څېرېې دخدای د دین په لار کې کالللي زحمتونه او دهېواد دازادی لپاره ترسره کړې کارنامې، قرباني او سترپاوې به یې په تاریخ کې په زرینو کرښو ولیکل شي، په خاصه توګه دامیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رَحِمَهُ اللهُ دنایب په حیث اوبیا دهغه دوفات وروسته دامیر المؤمنین په حیث دامریکایانو اونوروااشغالګروپه مقابل کې کارنامې او په ځوانمردانه روحیه او ورین تندي د ډول، ډول ستونزو، مصایبو، مشکلاتو اوناخوالو زغمل هغه لوړ افتخارت دي چې دشهادت وروسته هم ددښمن په وړاندې مجاهدینو اومسلمانانوته داستقامت روحیه ورکوي.

نوموړی دد ین اوهیواد پخاطر له ځان تیر شو خو په جهاد یې معامله ونکړه له اصولو او اهدافو یې انحراف ونکړ اونه له پوځي، اقتصادي او سیاسي پلوه دیداې دښمن عصري برترۍ مرعوب کړ ترپایه داماړت په اسلامي اوملي دریځ تینګ ولاړو داسلام او افغانانو د ازلي دښمن (امریکا) دتزویري غوښتنو اوارادو په وړاندې په کلک دریځ ولاړو.

او دځان وروسته یې دهیواد دیني قشرته د کردار اوعمل د جهاد او مبارزې داسې اسوه حسنه پریښوده، چې په برکت به یې داسلامي امارت لیکې د پخواپه څېر منظمې او پیاوړې پاتې وي.

هو! رښتیا هم په داسې وخت کې دامیرالمؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ دوفات غمیزه رامنځته کېدل چې دامریکا او صلیبي ایتلاف پرضد دنوموړي په قیادت کې روان جهاد دبري حتمي پړاوته نیږدي دی او خارجي یرغلګردکلابندۍ په حال کې دي لوی زیان دی! چې له امله یې هر مجاهد او طالب که مشر دی که کشر دردمن ښکاري ! خو الله تعالی حکیم ذات دی هغه پخپلو حکمتونو ښه پوهیږي راځئ! عهد وکړو چې دهرچا په ذمه هر کار او هرمسؤلیت دی هغه به په صادقانه توګه سرته رسوو! او ددښمن ددسیسو او توطیئو په وړاندې به خپلې حوصلې لوړې ساتوځو له خپل مسیر اوهدف نه د تخلف مرتکب نشو ژوند دجنګ تود ډګر دی ،دلته دخدمت او کار معنی داده چې په هرډول حالاتو کې مخ په بله تري ونه کړځوو.

اجازه راکړئ! داسلامي امارت رهبرۍ شورۍ او د اهل حل عقد مشرانو ته له دې امله مبارکې ووایو چې په ښه هوښیارۍ، اخلاص او اتفاق یې د فتنو دروازه بنده کړه او له ځنډ پرته یې دمنصور صاحب دشهادت وروسته دهیواد له نومیالی جید عالم شیخ الحدیث [مولوي هبة الله اخنداده صاحب] سره دنوي امیر په توګه بیعت وکړ اوهغه یې داسلامي امارت دنوي امیر په توګه غوره کړ! کوم چې ډېر پرځای،مناسب او مثبت انتخاب دی، داهل حل وعقد له لوري داسلامي امیر غوره کېدل دصحابه وو منهج دی، ځکه هغوی دمسلمانانو مصالح ترعامو خلکو ښه پیژني ، څنګه چې حضرت ابوبکر صدیق! درسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دفات وروسته دمسلمانانو خلیفه غوره شوی و، درهبرۍ شورۍ او دسیاسي او پوځي مسؤلینو اوزرګونه علماوو لخوا د دشیخ الحدیث هبة الله اخنداده د امیر المؤمنین په حیث انتخاب او ورسره بیعتونه داسلام اومسلمانانو د تاریخ د متواتر اومسلسل عمل پیروي ده. چې د مشرتابه د انتخاب لپاره داسلامي لاښوونو له مخې ترټولو اسانه ،معقوله اوغوره لارده

امریکایان اونور جهتونه دې دا حقیقت درک کړي چې دمنصور صاحب اویانورو مشرانو شهادتونه به د دوی داشغال په مقابل کې دافغانانو جهادي ولولې او احساسات زنده نکړای شي په دې سره به دجهاد مورچلونه او سنګرونه نور پیاوړي ګرم شي اوپه افغان ولس کې به جهادي احساسات راوپاروي، دمجادینو په لیکوکې به د وحدت روحیه لا پسې پیاوړي کړي، ځکه امارت دفکري دیني، نظریاتي او جهادي بهیر داسې نوم دی چې تصامیم او پریکړې یې اشخاصوته په پام نه بلکې افکارو او مقاصدو ته په پام صورت نیسي، په دې وجه به روان شهادتونه د دښمن په وړاندې د جهاد مسیر کمزوری او بدل نکړي ښه داده چې امریکا او مغرض جهتونه دحقایقو په درکولو دمسلمانانو پرضد روانه جګړه پای ته ورسوي او داسلامي هیوادو له اشغاله لاس په سرشي، جګړې ته طول ورکول به سیوا ددینه چې امریکایې ځواکونه نور ذلیل اورسواکړي بله لاسته راوړنه ونلري اونه به دمشرانو شهادتونه امریکاته ته د کوم ستر اوپام وړ بري چانس په لاس ورکړي....

شاهد غزنيوال

دشهيد اميرالمؤمنين قيادي شخصيت

له شکه پرته چې شهيد اميرالمؤمنين د فعاليت او عملي ابتکاراتو له مخې يو امتيازي شحصيت و.

نوموړي د پوځي، سياسي او اداري چارو د سمبالښت ځانګړی استعداد درلود. د اسلامي امارت د تأسيسي مشر ملا محمد عمر (مجاهد) رحمه الله د وفات تر پيښې وروسته يې له دغې درنې حادثې سره داسې نوښت وکاراوه چې هم په جهادي جبهاتو کې د مجاهدينو د جهادي فعاليت د جاري ساتلو لامل شو او هم د اسلامي امارت د تشکيلاتي نظام د متحد پاتيکيدو عامل.

له درنو پيښو سره مثبت تعامل او پرځپلو عزائمو ثابت پاتې کيدل د باعزمه مسؤلينو امتيازي خصوصيت وي، شهيد اميرالمؤمنين ته الله تعالی په هرډول شرائطو او مشکلاتو کې د دغه خصوصيت ښه حوصله ورکړې وه .

نوموړي د خپل جهاد او مبارزې د دوام لپاره د الله تعالی دا مبارک ارشاد خپل سرمشق ګرځولی و او کله هم د مصيبتونو او مشکلاتو په مقابل کې بيوسۍ او مايوسۍ ته نه و تسليم شوي.

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُواْ لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا اسْتَكَانُواْ وَاللّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ (١٤٦) آل عمران.

شهيد امير المؤمنين ته د اسلامي امارت د زعامت دروند مسؤليت د هيواد د تاريخ په ترټولو حساس پړاو کې وسپارل شو.حساسيت يې په دې کې و چې له يوې خوا د بهرنيو اشغالګرو په خلاف د افغانستان د مجاهد ملت برحق مقاومت د کاميابي درشل ته رسيدلی او له بلې خوا د دغه مقاومت د ځپلو او له منځه وړلو لپاره د مقاومت پټو او ښکاره دښمنانو خپلې ټولې هلې ځلې د مقاومت په متفرق کولو اوشيندلو باندې متمرکزې کړې وې.

شهيد اميرالمؤمنين د وخت د حساسيت په درک کولو سره خپل ټول جد و جهد د بهرنيو اشغالګرو په مقابل کې د مقاومت په جاري ساتلو باندې متمرکز کړ.

که څه هم چې دښمن له دغه محوري هدف څخه د امير المؤمنين د منصرف کولو لپاره ډول ډول سازشونه په کار واچول، د مقاومت له ليکو څخه د ځينو ضعيفو

او خود غرضه شخصیتونو د بیل والي او د مقاومت په داخل کې دځینو وحشي اجرت کارانو(داعش) په راپیدا کولو سره د مقاومت اصلي قیادت تر ډېر فشار لاندې ونیو ، خو د شهید امیرالمؤمنین جهادي عزم د دښمن دغه ټولې توطیې او سازشونه له ماتې سره مخ او له دې ټولو سازشونو او فشارونو سره سره یې بیاهم د اشغالګرو امریکایانو او د هغوی د داخلي اجیرانو په مقابل کې خپل جهادي مقاومت تر پخوا لا زيات منظم، مستحکم او پریوه متحد محور را وچورلاوه .

که د شهید امیرالمؤمنین د قیادت محدود وخت ته وکتل شي هغه په تیرو لسو میاشتو کې د مقاومت د بریالیتوب لپاره په جهادي ، سیاسي او اداري برخو کې د پام وړ فعالیتونه او اجراآت تر سره کړل.

په پوځي لحاظ يې د کندوز سوق الجیشي- ولایت په فتح کولو سر بیره د هیواد په مختلفو ولایتونو کې ډیرې سیمي د امریکایانو او دهغوي د اجیرانو له ولکې څخه تصفیه کړلې.

په سیاسي لحاظ يې د نړۍ له مختلفو هیوادونو سره د رابطې جوړولولارې چارې ولټولې اوعملا یې ځینې هیوادونه د مقاومت په رسمیت پیژندلو ته وهڅول.

په اداري برخه کې یې د اسلامي امارت ټول تشکیلات له سره منظم او د هرې برخې صلاحیتونه او واکونه مشخص کړل.

د شهید امیرالمؤمنین همدغه جهادي او سیاسي تحرک و چې دښمن يې له سختې وارخطايي سره مخ کړ، هغوی پوه شول چې د اسلامي امارت په خلاف یې ټول پلان کړې سازشونه او توطیې له ناکامي سره مخ دي.

امریکایان چې د خپلو مخالفینو په مقابل کې د استدلال ، منطق او انسانیت هیڅ معیار نه پیژني د دې په ځای چې په افغانستان کې د مقاومت له قیادت سره د ستونزې د حل په اړه مثبت تفاهم کړی وای او د هغوی معقولې طرحې و غوښتنې منلې برعکس د هغوی په مقابل کې د وحشت او زور کارولو لاره غوره او د هغې په ترڅ کې د مقاومت د متحرک او مبتکر قیادت د له منځه وړلو او شهید کولو بُزدلانه اقدام تصمیم غوره او امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد (منصور) يې شهید کړ.

خو امریکایان او د هغوی اجرتي همکاران باید په دې پوه شي چې د اشغالګرو په وړاندې د افغان مجاهد ولس برحق مقاومت شخص محوره مقاومت نه ؛ بلکې د باطل په وړاندې د حق هغه بي پروا فکري او جهادي پاڅون دی چې د شهیدانو له وینو څخه د تداوم او پرمختګ الهام اخلي او د الله تعالی په ځمکې باندې د الله تعالی د کلمې د لوړ والې لپاره د الله تعالی د دې مبارک ارشاد مطابق خپل فعالیت جاري ساتي :

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً { الأحزاب}۲۳

داسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد

دشهامت سره په مرکه کې:

د شهادت به د اسلامي امارت په تګ لاره، پاليسۍ، دمجاهدينو په جهادي روحيه او دريځ اغيز ونه کړي

محـــترم مجاهـــد صــاحب ســلامونه او پيرزوينې اومنه! خــوښ بــه شــو كــه لانــدې پوښتنو تــه ځوابونــه ووايــي څــو دشــهامت لوستونكو دقناعت او ډاډ وړ وګرځي :

١.... دامير المؤمنين ملا اختر محمد منصــور رحمــه الله دشهادت پيښه به داسلامي امارت په جهادي او سياسي دريځ او د عامو مجاهدينو په رواني حالت څه ډول اغيز ولري ؟

ځواب: بسم الله الرحمن الـــرحيم، الحمـــد لله وكفـــى والصـــلوة والسلام على عباده الذين اصطفى امابعد:

دمنصور صاحب رحمه الله شهادت درې اړخه لري:

لومړی: دده جناب لپاره خو تر ټولو ستر سعادت او د ابــدي ژوند پيل دی، د نعمتونو، دالهی رضا او د الله په لاره کې د قربانيدو لوی وياړ او برياليتوب يې تـــر لاســـه كـــړ چـــې دا د هـــر مجاهـــد او مسلمان لپاره دغبطې وړ خبره ده.

دوهم: داسلامي امارت د نورو مسئولينو، مجاهدينو او عـــامو مسلمانانو لپاره دمنصور صاحب شهادت په دې حساس وخت كـــې يوه دردناكه واقعه وه، يو لوی زيان وو او داسې يوه حادثه وه چې زه باور لرم چې تر ډيره به يې درد او غم د مجاهدينو په روحـــي او رواني حالت كې محسوس كيږي.

دريم: د منصور صاحب رحمه الله شهادت د اسلامي امارت په تګ لاره، پاليسی، دمجاهدينو په جهادي روحيه او دريځ كې به ان شاءالله هيڅ د پام وړ تغير لامل نشي او دا له څو وجهو:

الف: اسلامي امارت فرد محوره نهضت نه دی چې برياليتوب او ناكامی يې تر افرادو پورې اړه ولري، بلكې فرد خصوصا رهبری ته له درناوي سره سره د اسلامي امارت ټول مجاهـــدين د شرعـــي معلومو اهدافو پورې تړلي خلک دي.

ب: په اسلامي امارت كې راټول شوي ټول افراد كه مســـئولين دي او كه عادي مجاهدين، ټول پخپله خوښه، بې لـــه كـــوم جـــبر او اكراه، بې له كوم امتياز او دنيوي ګټې ديوه ارمان درلودونكي خلک دي چې څو يې هدف نه وي پوره شوي په همدې لاره تـــګ د ځـــان لپاره سعادت بولي، جهاد ديوې الهي فريضې د پرځای كولو په نيت كوي او په آسانی سره يې يو له بل څخه د پريكيدو ويره نشته.

ج: د اسلامي امارت ټول جوړښت د شريعت له مخې دی دلته تصاميم، اقدامات، پريكړې او فيصلې ټولې د الله د دين پـــه غوښـــتنه ترسره كيږي، چون اكثره افراد يې په دين خبر او عالمـــان خلـــک دي، ډير په اسانی سره خپل وحدت حفظ كـــولای شي او دشريعـــت پـــه حكم دخپلو مشرانو اطاعت كوي، اعتماد پرې لري او پريكړوته يـــې درناوی كوي.

ترهغو چې الله تعـــالی تـــه منظـــوره وه او د اســـلامي امـــارت كښتی پخپله شرعي مسير روانه پاتې وه، الله تعالی له انحـــراف او تزلزل څخه وساتله، نو زه په پوره يقين ويلـــی شـــم چـــې خـــارجي عوامل لكه د مشرانو شـــهادت، د كفـــارو لخـــوا ظلـــم او بربريـــت، د بيلابيلو جهتونو فشارونه، اقتصادي او مادي زيانونه، پـــه ګشـــت او ګذار بنديزونه، زخمونه، زندانونه او هجرتونه او داسې نور عوامـــل يې له خپله شرعي منهجه نشي اړولی او نه يې په دريځ كې بـــدلون ته اړ كولای شي.

٢ د رسنيو دا وينا[چې نوموړی دشـــهادت څخـــه څـــو ساعته مخكې په ايران كې وو] حقيقت لري كه پروپاګند دی؟

ځواب: د منصور صاحب رحمه الله عادت دا وو چې هر كار د اجرا لپاره به يې پخپله اقدام كاوه، سفرونه، دمجاهدينو سره ليـــده

کاته دا سې نور کارونه اکثره يې پخپله کول، بله مهمه خبره دا وه چې منصور صاحب ديو رهبر په توګه چې تر شايي لوی جهادی صف ولاړ وه، هڅه يې کوله چې ددې صف د خير او ګټې لپاره ډير کارونه ترسره کړي، د هيواد د آزادۍ لپاره له بيلابيلو جهتونو سره تماسونه ولري او چې له يوې سيمي نه بل ته د تګ اړتيا پيښېده، هغه په سر حدي ساحو کې يوې او بلې غاړې ته، ترسره کوله او داسې نور څه، نو ممکن منصور صاحب په يوه جهادي سفر بوخت وو چې ددغه پيښې سره مخ شو.

۳...... ايا اسلامي امارت دخپل مشر دشهادت پيښه څيړلې چې دښمن ولې وکړای شول هغه تعقيب کړي اوبيا يې په شهادت ورسوي ؟

ځواب: طبعی ده، اسلامي امارت په دې اړه کار پيل کړی، يو شی بايد ووايو چې منصور صاحب رحمه الله دخپلو جهادي اړتياو لپاره او دخپل زړور توب له امله تليفون او اکثره وخت آنلائن شيان استعمالول چې تر ډيره يې همدا د شهادت لامل کيدای شي ، تاسو پوهيږئ چې نن زمانه کې په دغو وسائلوسره د سړي ځای ځايګی خورا په آسانی سره کشف کيدای شي او تر بريد لاندې راتلای شي.

٤..... داسلامي امارت درهبري شوری په اعلاميه کې راغلي [چې نوموړی د تحميلي او تزويري پروسو دنه منلو له امله شهيد کړای شو] کولی شئ په دې برخه کې لږ څه توضحيات ورکړئ؟

ځواب: د مشر اميرالمؤمنين مرحوم له وفات څخه وروسته چې کله منصور صاحب د زعامت پيټی په اوږه واخيست، نو امريکايانو او ځينو نورو جهتونو طمعه لرله چې، اوس به مجاهدين د دوی د تزوير او فشار له مخې له خپلو اصولو تير شي، معاملوته به حاضر شي او دبيلابيلو پروسو له لارې به دکفارو په ګټه ګام کيږدي، خو په تيرو يولسو مياشتو کې دمنصور صاحب رحمه الله پاخه دريځ، د اسلامي امارت اصولوته کلکې پابندۍ او لا په کې جديت امريکايانوته ښکاره کړه چې دا سړی ، يو هوډمن سړی دی، دوی لاهم ديوه قوي رهبر په مشرئ د يو تجربه لرونکي جهادي جريان سره مخ دي، نو يې د شهيد منصور صاحب دشهادت اقدام وکړ، واقعا منصور صاحب د اسلامي امارت دمصالحو او د مجاهدينو د آرمانونو دساتلو په لاره کې شهيد کړل شو، که چيرې منصور صاحب رحمه الله خدای مکړه د کفارو په وړاندې نرمښت او ميلان ښودلی وای، يا د فشارونو ښکار شوی وای، يا يې پټو او ښکاره معاملوته لاس اچولی وای نو بيا دښمن دځان لپاره دومره ستر خطر نه باله.

٥....... دمنصور صاحب دشهادت پيښه دمی په ۲۲ مه نيټه وشوه خو ستاسو لخوا رسماً دمی په ۲۵مه نيټه تاييد او ومنل شوه چې هغه رښتيا شهيد شوی ددومره اوږده ځنډ اوسکتې لاملونه که راته په ګوته کړي؟

ځواب: هو! دمنصور صاحب د شهادت په منلو کې د ځنډ او سکتې علت تر ډيره تخنيکي وو، په دې معنی چې د اسبابو له امله موږ ژر نشوای کولای نتيجې ته ورسيږو، دا زموږ اړتيا وه، موږ لومړی ددې خبرې يقيني کيدوته اړ وو چې منصور صاحب واقعا شهيد شوی که نه، ځکه د منصور صاحب سره تماسونو لږ وخت نيوه، بل يې سفرونه پټ ترسره کيدل چې دملګرو په ټول جريان خبريدلو وخت ته اړتيا در لوده ، کله چې پخلی وشو، بيا د مجاهدينو د وضعيت د کنترول لپاره د نوی زعيم تعين اړين وو، ځکه په داسې مواردو کې شرعي حکم دادی چې د مسلمانانو مشر به هرڅه ژر معلوميږي، نو دغې ټولې پروسې طبعا وخت ونيو، په جنګي حالاتو کې د مشرانو يوځای کيدل هم يوه ستونزه وه، چې خبره زمانګيره شوه.

٦..... ځنګه چې د هر ګوند او ډلې لپاره دمشر يا رهبر مړينه يوه لويه صدمه اوزيان ده، په نړۍ کې ډيری کامياب تحريکونه هغه مهال له ناکامۍ سره مواجه شوي چې کله هغوی مشر يارهبر له لاسه ورکړی د اسلامي امارت لپاره ديو کال نه په کمه موده کې د دوه مشرانو دمړيني خبر څومره جدي او نه جبرانيدونکې ضايعه بولي په روانو عملياتوبه منفي تاثيرات ولري کنه؟

ځواب: موږ مخکې وويل چې د منصور صاحب رحمه الله شهادت زموږ لپاره غميزه ده، لويه صدمه ده او نه جبرانيدونکی زيان دی، خو دا ټول په شخصي لحاظ، په دې معنی چې د منصور صاحب رحمه الله موجوديت زموږ لپاره لوی نعمت وو، همدا راز مخکې تر ده د مشر اميرالمؤمنين ملاصاحب مرحوم موجوديت موږ ته لوی نعمت وو، او دنعمت زوال طبعا خوابدئ او افسوس لري،

ولی په اجتماعي لحاظ چې اهداف ورسره زیانمن شي، یا خدای مکړه صف وپاشل شي، یا اداري کمزوري شې دا سې نه ده، ځکه چې زموږ نهضت د ډېرو نورو تحریکونو پرخلاف فرد محوره نه دی بلکي هدف محوره دی، په اشخاصو نه یو راټول شوي بلکې په یوه هدف راټول شوي یو، ترڅو چې هدف وي ان شاءالله زموږ موجودیت به محفوظ وي.

کله چې په اهدافو کې کومه ستونزه رامنځته نه شوه، نو طبعی ده چې په عملیاتو او جهادي بهیر کې به هم چې د اهدافو د ترلاسه کیدو لپاره جریان لري هیڅ ستونزه نه رامنځته کیږي، بلکې برعکس لا به د مجاهدینو اهداف دقیق کیږي، لابه تعهد زیاتیږي، د دښمن په وړاندې به د انتقام جذبات لا پاریږي او لا به مو په ایمانونو کې قوت ډیریږي، ان شاءالله.

۷.... اوس مهال اسلامي امارت دخپل صف دننه اوبهر په سیاسي اوجهادي اوضاع پوره سلطه لري او که دیولړ ستونزې سره مخ دی ؟

ځواب: الحمدلله، زه ډیر په صراحت سره ویلای شم چې د اسلامی امارت رهبري، مشران او مسئولین په وضعیت کاملا تسلط لري، په سیاسي او جهادي وضعیت کې د دښمنانو دهیلو برخلاف هیڅ ستونزه، فتور یا کوم مشکل نه دی رامنځته شوی، لا هم په الله توکل او اعتماد لرو چې مشکل به مخې ته نه راځي . ان شاءالله

۸...... د امارت ، مجاهدینو او عامو مسلمانانو لپاره دمنصور صاحب شخصیت څومره مهم و؟

ځواب: دا خبره له لمر روښانه ده چې منصور صاحب رحمه الله د اسلامی امارت په صف کې یو آزمویل شوی بریالی مشر ـ وو، پخوا یې د ملا صاحب نیابت په ډیر ښه انداز کې وکړ، د ملابرادراخند له اسیرکیدو وروسته جهادي حالات یې ډیر ښه کنترول او پیاوړي کړل، دښمن ته یې سخته صدمه ورسوله، د اوباما پلانونه یې یو په بل پسې خنثی کړل، له امریکایي مهمو جنرالانو څخه یې یو په بل پسې لار ورکه کړه او له ناکامۍ سره یې مخ کړل، د اربکي سازۍ پروسه یې چې امریکایي جنرالانوطراحي کړې وه او د پاڅون نوم یې ورکړی وو ناکامه کړه، د داعش په نامه فتنه یې په نطفه کې خنثی کړه، د اسلامي امارت وحدت یې په سختو شرائطو او سختو حالاتو کې وساته، له پریمانه امنیتي او اقتصادي ستونزو سره سره یې د اسلامي امارت ادارې فعالې کړې، په سیاسي برخه کې یې د امارت لپاره آدرس رامنځته کړ، له جهادي او نظامي فعالیت څخه علاوه یې په نورو برخو کې په فرهنګي، دملکي تلفاتومخنیوي، مؤسساتو، صحت، تعلیم او تربیې ، اقتصادي، ارشاد او دعوت او ګڼو نورو برخو کې یې مؤثرې او مثمرې ادارې قوي کړې او پرمختګونه یې وکړل.

د داسې یو مبتکر مشر او شخصیت نه شتون طبعا چې د ټول صف لپاره، د جهادي بهیر لپاره او بیا د ټول ولس حتی مسلمانانو لپاره ډیره لویه ضایعه ده، لوی زیان دی ، له الله تعالی څخه غواړو چې نعم البدل یې رانصیب کړي او دده جناب لپاره یې خدمتونه د جنة النعیم د دخول سبب وګرځي.

۹..... دنوي زعامت تعینولو مرحله څنګه تیره شوه؟

ځواب: د نوی زعیم د ټاکلو مرحله د شرعي موازینو او حکمونو په پام کې نیولوسره په خورا بردبارۍ، حوصلې، هوښیارۍ او سنجیدګۍ سره تیره شوه، انسان چې کله د نوی زعیم د ټاکلو هغه مرحله د ګډونوالو له خولې واورئ، امیدونه لا ډیر شي، او په دې خبره یقین کول پوخ شي چې الحمدلله امارت ته الله تعالی ډیر سنجیده، باتجربه، هوښیار، بادرایته، عالمان، خبره او با تقوا مشران ورکړي چې زه خو یې د ټول صف، مجاهدینو او ولس لپاره لوی الهی نعمت بولم، که څوک له اسلامي امارت څخه لږ مخکې زمانه کې په جهادي بهیر کې د قدرت طلبۍ ، واک او ځواک ته د رسیدو تلوسه یاده کړي چې متأسفانه په ځینو جهادي مشرانو کې موجوده وه او بیا راشو د امارت د نن ورځې مشران ورسره پرتله کړو، نو موږ له نن زمانې څخه ان د صحابه کرامو د زمانې یاد ته بوزي، د اسلامي امارت د نوي زعیم د ټاکلو په مجلس کې هر غړي هڅه داکوله چې له مسئولیت اخیستلو څخه ځان ته نجات ورکړي، تر دې چې ځینو مشرانوته د زعامت وړاندیزونه وشول خو په ډیر عذر، تکلیف او حیرانتیا سره یې رد کړل او ځانونه یې له داسې مسئولیت حمل کولو څخه کم او ټیټ وبلل ، د شیخ الحدیث هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله سره هم بیعت دده دخوښې خلاف پرې ومنل شو، په هغه مجلس کې شاهدان حکایت کوي چې د ټول مجلس فضا دومره له صمیمیت، محبت ، تحمل ، تحنن، په الله توکل او الله تعالی ته له تواضع څخه ډکه وه چې تصور یې نشوای کیدلی، دهمدې اخلاص او ریښتونولۍ برکت وو چې بې له کومې

وړې ستونزې څخه هم ، په ډیره ښه وجه سره نوی زعیم وټاکل شو او بیا پراخ بیعتونه په ارامــه او پرســکونه فضــاکې تــرسره شــول. الحمدلله والمنة

۱۰. دنوي زعیم دتعین وروسته داسلامي امارت په لیکو کې وضعیت عادي شوی که د بیرني حالت ښه لري؟

ځواب: د شهید منصور صاحب د شهادت دخبر له خپریدو او د نوي زعیم له ټاکل کیدو څخه فقط ۳ ورځې وروسته مـوږ پـه جهادي جریاناتو کې لږ سکته لیده چـې د هیـواد پـه لـر او برکـې مجاهدین دفاتحه خوانی، تسلیت او بیعتونو په مجلسونو مصروف وو، نور حالت او وضعیت بیرته عـادي شـو، پرلپسـې پـه هلمنـد، کندهار، ارزگان او ځینو نورو برخو کې لوی بریدونـه پیـل شـو ل چې تاسو به هم اوریدلي وي، چې له دښمن څخه یې لار ورکه کړه، اوس وضعیت بالکل د پخوا په څیرعادي شـوي، مجاهـدین پخپلـو عملیاتو او پلانونو بوخت دي، هیڅ مشکل نه تر سترګو کیږي.

۱۱..... نړیـوالې رسـنۍ او داسـلامي امـارت مقابـل لوری(امریکا او اجیر دولت) وایي چې دطالبـانو مشرـ څکـه ووژل شو چې هغه سولې ته غاړه نه ایښوده اصلا دسولې پـه اړه امریکا او لاسپوڅې دولت څومره رښتینی دي ایا رښـتیا هم سوله غواړي کـه دسـولې پـه نامـه جریانونـه جعلـي او نمایشي دي؟

ځواب: اول خو د سولې اوجګړې په اړه پریکړې کول د امارت د لویو پالیسیو پورې اړوند مسئله ده شخصي موضوع نده او تـه هم د سولې په اړه غوره شوی دریـځ د منصـور صـاحب شخصيـ دریځ وو.

دوهمه خبره داده چې امریکایان تراوسه واقعا ریښـتوني او سولې ته ژمن نه دي، هغوی له یوې خوا د کابل اداړې پـه خولـه د سولې خبرې کوي، له بله لوري، بمبارونوته دوام ورکـوي، دخپلـو عسکرو دشتون موده اوږدوي، دخپل اشغال د غزیدا لپاره بیلابیلې بهانې لټوي، دکابل اداره هم بې واکه او بې ځواکـه ده، د تصـامیمو صلاحیت او ورتیا نلري، د اشغال د خـاتمې او پایتـه رسـیدو هـوډ ورسره نشته.

نو مخکې له دې چې د افغانستان اشغال پای ته ورسول شي، ددې ملت د وژنو او ځورونو څخه لاس واخیستل شي، دسـولې پـه نامه جعلي پروسې پرمخ وړل فکر کوم هیڅ ګټه نه لري هسې وخت تیرول او د امریکا لخوا ملتونه غولول دي.

۱۲..... دمذاکراتو په اړه داسلامي امارت رسمي دریځ څه دی او ولې په خبرو کې له ګډون څخه ډډه کوي؟

ځواب: اسلامي امارت د کور څښتن دی، امریکا یـو قـابض ځواک، که څوک د مسائلو ریښتونی حل غواړي باید پـه ریښـتوني لارو راشي، اسلامي امارت غواړي چې ملک یې آزاد کړل شي، اشغال پای ومومي، بهرني نظامي ځواکونه که یو دي که زر زموږ خـاوره او ځمکه پریږدي، دافغانانو وژنه بنده شي، زموږ په سر انعامونـه ایښودل او په سفرونو بندیزونه لګول پـای تـه ورسـیږي، بیـا کـه امریکایان له اسلامي امارت سره د دوو جلا جلا ممالکو پـه صـفت کوم مشکل ولري، کومه ګیله او بهانه ولري، هغه باید له مشروعو او دیپلوماتیکو لارو مطرح شي، افغانان کله هم ظالم خلک نه دي، د چا حق خوړونکي خلک نه دي، د چا په حریم او عـزت تیـری کـونکي خلک نه دي، نو امریکایان له څه څخه تشویش لري، ولـی سـیمه لا هم بې ثباته کوي، ولي دلته جنګ دوامداره ساتي، ولي دخلکو وژنه او کړول خوند ورکوي؟

دا ټول هغه مشکلات دي چې د امریکـایي اشـغالګرو لخـوا ایجاد شوي او باید هغوی یې بیرتـه هـم لـه منځـه یـوسي، اوکـه امریکایان لاهم خپل حماقت ته دوام ورکـوي، نـو مـوږ خـبرداری ورکوو چې زموږ ملت د ایل کیدو او ورکیدو ملـت نـه دي، دا ملـت ډیرې امپراطورۍ دړې وړې کړي امریکا دې هم دخپل سرنویشت انتظار وباسي.

۱۳..... دامارت په لیکو کې د خپلمنځي وحـدت روحیـه څومره پیاوړې او دیاد وړده چې پـه اړه یـې کومـه اندیښـنه شتون نلري؟

ځواب: موږ مخکې مکرراً اشارې وکړې چې د اسلامي امارت په صف کې د هیڅ ستونزې د رامنځته کیدا چانس او فرصت نشـته، زعامت په احسـنه طریقـه او احسـنه وجهـه ټاکـل شـوی، اداري تشکیلات او پرسونل مخکې له وړاندې په منظم شکل شـتون لـري، جهادي اهداف لاهم مهم شوي او د قربانیو د درنیدو له امله قیمتې شوي، د مجاهدینو دانتقام اخیستلو جذبات پیاوړي شوي، ددښـمن په وړاندې کرکه اونفرت ډیر شوي، په ټوله کې د مشرانو له شهادت

څخه وروسته په مجاهدينو کې له جهاد او شهادت سره تعهد ډېـر شوی او لا قوي شوی، چې دا ټول شيان مـوږ تـه ددې خـبرې لاړ راکوي چې هيڅ ستونزه باقي نه ده پاتې او نه يې هـم پـه نيـږدې راتلونکي کې کوم احتمال شته. ان شاءالله

۱۴... له نوي زعامت سره دبيعتونو بهيرکه لنډ و ارزوي څومره موفق او بريالی و؟

ځواب: له نوي زعامت سره دبيعتونو بهير پـه ډيـره تجربـه، ډېره تلوسه او مينه ترسره شو، د دښمن لخوا له بريدونو او بمبار له خطرونو سره سره، په ټول هيواد کې له بدخشان څخه رانيـولې تر فاريابه، له نورستان، او ننګرهار څخه رانيولې تر فـراه، بيـا لـه هلمند او نيمروز څخه رانيولې تر پکتيکا او خوست پورې ، له شرق تر غربه له شمال تر جنوبـه پـه ټـول هيـواد کـې علـماء کرامـو، مجاهدينو، عامو خلکو، مسئولينو او افرادو خپـل بيعتونـه تـرسره کړل، اوس هم دا لړۍ لا روانه او د تکميل کيدو په حال کې ده.

۱۵ .... دشهامت له لارې داسلامي امارت مجاهـدينو او ملګرو ته څه پيغام لرې؟

ځواب: زه د مشرـانو او کشرـانو مجاهـدينو ديـوه ورور پـه صفت، چې په دې جهادي صف کې خدمت کـوم، لـه ټولـو څخـه غوښتنه کوم چې لومړی بايد د پيښو جرياناتو پـه اړه صـبر ،زغـم اواستقامت وکړي او بيا يې په مقابل کې د اسلامي امارت د دريځ او غبرګون په اړه له الله تعالی څخه ټول شکر ګذار ووسو، لاهم عـذر او زارۍ وکړو چې الله تعالی مو دې دا د شهيدانو په وينو او غوښو جوړ شوی صـف نـه را خرابـه وي، الله تعـالی دې د دښـمن ټـول دسائس پرلپسې ناکام کړي.

ټول مجاهدين وروڼه بايـد دخپلـو مشرـانو اطاعـت وکـړي، پرهغوی د نيکو ګمان او اعتماد وکړي او داکار د الله تعالی د رضـا لپاره وکړي، مشرانوته د لاتوفيق دعاګانې وکړي.

ټول بايد پخپلو خپلو ځايونو کې خپل خپل مسئوليت اداکولـو ته متوجه شو،که ټول خپل کارونه په ښه مينه، ښه اخـلاص ، پـوره قوت او ښه دقت سره ترسره کړو، لا به موهم جهـادي صـف قـوي کيږي، لا به موهم دښمن ناهيلی کيږي، لابه خپل هدف ته ورلنډيږو.

مهمه خبره داده چې ولس بايد لـه اسـلامي امـارت څخـه او امارت بايد له ولس څخه شکر ګزار ووسي، مجاهدين دهمدې ولس دحريـت او آزادۍ لپـاره پـه خپلـو غوښـو قربـانۍ ورکـوي، دمنصورصاحب رحمه الله د شهادت جريان دې دوی وګـورئ، هغـه هيڅ کوم دنيوي امتياز نه غوښت اونه يې دکوم شخصي ګټې لپـاره هلې ځلې کولې، کورنۍ يې اوس هم خواره اوپـه خـراب اقتصـادي وضعيت کې پاتې ده، خو ټوله سعيه يې دهمدې ولـس او هيـواد د ازادۍ لپاره وه، که چيرې دمجاهدينو مبـارزه نـه وای، نـن بـه پـه افغانستان کې وضعيت بل ډول وای ،ډېر انسانان به ګمـراه شـوي وای ، ځکه د دې ملت د ګمراهۍ او کفرتـه د بللـو لپـاره کفـارو د نظامي ځواک ترڅنګ نور هم ګڼ وسائل په کار اچـولي، خـو ددې ټولې عامې فتنې مخې ته مجاهد ولاړ دی، نو په ملت لازمه ده چـې دخپلو مجاهدينو وروڼو ترڅنګ لا هم کلک ودريږي او لا يې هم لاس نوی وکړي.

مجاهدين وروڼه بايد د ولس حق وپيژني، په جنګي حالاتو کې دقهري قوې استعمال ته ضرورت پيښيږي، خو پام مـو بايـد داوي چې داقهرۍ قوه ملت رانه خوږ نه کړي، دا قهري قـوه اسـتعمالول دملت د خپګان او بې زارۍ سبب ونه ګرځي، دچـا حـق رانـه تلـف نشي، په چا ظلم رانه ونشي، دچا عزت رانه هتک نشي، د چا حيثيت رانه صدمه ونه ويني، دا مسئوليتونه بايد سره درک کړو، نور بـه ان شاءالله ،الله تعالی دا امتحان رالنډوي او موږ ټول د آزادۍ او حريت له نعمت څخه حتما برخمن کيږو او په ملک کې به مو دالله په فضـل او کرم سره اسلامي حاکميت بيا اعاده کيږي، خو صبر، حوصـله او زغم غواړي، الله تعالی فرمايي:

(كَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا لِـمَا أَصَـابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّـهِ وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا وَاللَّـهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ ﴿آل عمران: ١٤٦﴾

ژباړه: له دې نه مخکې ډېر داسې پيغمبران تير شـوي، چـې دهغوی په ملګرتيا کې ډېر خدای پالونکي خلک وجنګيدل، د الله پـه لاره کې چې کوم غمونه پرهغـوی راغلـل، هغـوی پـرې زړه مـاتې نشول، هغوی کمزوري ښکاره نه کړه، هغوی (دباطل په مقابل کې) سر ټيټ نه کړ، الله تعالی همداسې صبرکونکي (مؤمنان) خوښوي.

واخردعوانا أن الحمدلله رب العلمين

ذبيح الله مجاهد د اسلامي امارت ويندوی

ابوظهير

دمبتکر قاید دشهادت دردونکې پېښه !!

د۱۳۹۵ لمریزکال دجوزا په لومړۍ نیټه دافغانستان داسلامي امارت مشر امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور دامریکا یې بې پیلوټه الوتکې په برید کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید انا لله وانا الیه راجعون.

دنوموړي دشهادت پېښې دهېواد دننه اوبهر لوی شمېر مسلمانان په خاصه توګه په ازادۍ مین افغانان دویر اوغم په ټغر کینول، له دنیا څخه هره ورځ خدای خبر څومره خلک داخرت په سفر درومي! خو داسې خلک خال خال پیداکېږي چې دهغوی په مړینه یاشهادت دي نړدې په ټوله اسلامي نړۍ کې مسلمانان دغم اوښکې توی کړي! اویادي دنړۍ په هرځای کې ربښتیني اومخلص مسلمانا ن دهغوی مړینه خپل غم وبولي....

یا دي دهغه چا په بیلتون اوفراق کې له سترګو نه اوښکې توی کړی چې په ژوند کې یې یوځل هم نه وي لیدلی !ربښتیاهم دمنصور صاحب په دردونکي شهادت له ختیځ نه ترلویدیځه مسلمانان غجمن بریښي او له امله یې پخپلو زړونو کې یودرد او غم محسوسوي.

الله تعالی دي درجات لوړ کړي نوموړی داسې شخصیت و، چې شهادت یې نه یوازې دهغه درنې اومجاهدې کورنۍ لپاره دروند غم اوزیان دی بلکې په سهي معنی دټولې اسلامي نړۍ په خاصه توګه دافغان ولس اجتماعي غم اودردی ، چې په وجه یې هر با احساسه افغان او مسلمان دردمن او غمجن ښکاري.

دامیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ اللَّهُ دشهادت پیښه یوازې له دې امله نه جبرانیدونکې ضایعه نده چې هغه داسلام او مسلمانانو دازلي دښمن هېواد (امریکا) دبې پیلوټه الوتکې په برید کې په شهادت ورسید بلکې له دې امله چې هغه داسلامي امارت او مسلمانانو یوزړه سواند، مهربان ، موفق او کامیاب مشر و، دګران دهېواد ازادۍ او خپلو اکۍ ګټلو علمبردار و داسلام او مسلمانانو ددفاع قوي مبارزو، شپه ورځ دمجاهدینو ا ومسلمانانوپه خدمت بوخت و او په قوي عزم اومیرانه یې په هېواد کې دصلیبي یرغل په وړاندې دتاریخ لوی افغان جنګ رهبري کاوه

هغه په دې کې دومره مخلص ، وفاداراوسرشار و چې آن له ځانه بې پروا و،د خپلو وینو قربانۍ یې هم دریغ نکړه، خپل ځان اوهر څه یې قربان کړل خو داغیار دنامشروعه ارادو اوشومو اغراضوته یې خدای پال سرټیټ نکړ دې ځانګړنو ته په پام ویلای شو چې دشهید منصور صاحب دقربانۍ مثال په نړۍ کې یې ډېر کم مندل کېږي چې دیوګوند رهبر خپله وینه دخپل دهدف لپاره قربان کړې ...

دا داسلامي امارت ځانګړتیاده چې مشران او قیادت یې له شهادت او قربانۍ سره دومره سر شاره مینه لري چې ورنه خپلې وینې هم نه دریغوي، داسلامي امارت مؤسس [امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد رَحِمَهُ اللَّهُ] هغه اولوالعزمه هستي وه چې دخپلې حقې داعیې څخه دژوند تر وروستیو سلګیو وروسته نشو اونه یې اغیارته یې خپل خدای پال سرټیټ کړ منصور صاحب هم د خپل سلف په نقش قدم په قوي عزم اوهود

ترپایه دکومې دسیسې ښکارنشو او نـه یـې داشـغالګرو پـه وړانـدې پـه جهـاد اومبارزه کې نرمې راوسته او نه دخپل سر او خپلو وینو له قربانولو څخه په شاشو.

په دې علاوه ارواښاد امیر المؤمنین (منصور رَحِمَهُ اللَّهُ) یو ستر عملي مبتکر اوپه کارپو مشرو، دځان دننه یې دیو پراخ نظام درهبرۍ کولو توان اوصلاحیت درلود، هم دا وجه وه کله چې دملا برادر اخند داسارت وروسته داسلامي امارت دچارو ټول مسؤلیت نوموړي تـه ورکـړل شو، نو په پوره امانتدارۍ او دیانتدارۍ سره دامارتي چارو په رهبرۍ کولو یې په ټول هېواد کې دمجاهدینو صفوف لا تقویـه او منظم کـړل او پـه دښمن دمجاهدینو لخوا دپریکنده جنګـي عملیاتو او تاکتیکونونوښت یې رامنځته کړ، چې له امله یې دښمن د درنو زیانونو او تلفاتو زغملوته اړشو او ور تـه دافغانستان لویشت، لویشت خاوره سور انګار وګرځیده

پـه دې سربیره منصور صاحب یونظم خوښونکی مشر و، هغه لوموړی دنیابت په دوره کې او بیا دامارت په دوره کـې داسلامي امارت اداري تشکیلات هغسې چې دوخت ،حالاتو ، ظروفو او شرایطو اړتیاوه جوړ اومنظم کـړل، دچارو دقانوني او اصولي ګرځولو پـه موخه یې دنیږدې ټولو ادارو اوکمیسیونو لپاره کاري لائحې ترتیب او جوړې کړې، پـه کومو کـې چـې دهـرې ادارې اوکمیسیون مشخص مسؤلیتونه او مقررات ښودل شوي اوبیا یې هرکمیسیون او اداره پـه دې مکلفـه ګرځـولې وه چې خپل کارونه دټاکلو اصولو له مخې پرمخ یـوسي، پـه اداروکـې داداري نمیګړتیاوو دلمنځه وړلـو پخاطر یـې لازم پلانونـه او تدابیر په کار واچول چې دهغو پـه وجه نن داسلامي امارت پـه ټولـو ادارو کې مونږ دیو ښه نظم او دسپلین شاهدان یو

شهید منصورصاحب داسلامي امارت پـه لیکـو کـې دامیـر المؤمنین ملامحمد عمرمجاهد رَحِمَهُ اللَّهُ څخه وروسته منلی مشر و، ترکومه ځایه چې مامحسوس او لیدلي دامارت ټولو مشرانو اوکشرانو یې کلک اطاعت کاوه او ورته احترام یې لاره او ارواښاد منصور صاحب هم پخپلو ملګرو ، مجاهدینو او ولس مهربان و، زړ سواند او خواخوږی مشر و دامارت له کشرانو او مشرانو سره یې برخورد همیشه له درناوي او خلوص نه ډک وو

دهېـواد دعلمـي قـشر دقربـانیو قـدردان او دعلمـاوود لاربـوونو او مشورومنونکی و ، وخت پـه وخـت یـې دهغوی (علماوو) رایې پوښتلې اودهغو په رڼا کې یې دعمل کوښښ کاوه او هـم یـې مجاهدین دعلماوو لارښوونو تـه متوجه کول او ددې لپاره چې داسلامي امارت کارونه یومخ داسلامي شریعت له اصولو سره سمون ولـري پـه مختلفـو سیاسي، جهادي، علمي او فرهنګي برخو کې یې دعلماوو نظرونه اخستل اوبیا یـې دهغو پـه اړه مجاهدینو اومسؤلینو ته هدایت ورکاوه

دلـوی مـلا صـاحب مړینـه چـې داسلامي امارت لپاره له قـوي حـادثې او جټکې څخه کمه نه وه، خو شهید منصور صاحب پخپل مدابرانه قیادت سره دهغـه دځای تشه داسې ډکه کـړه چې هیڅ محسوس نشوه چې ګواکې امیـر المؤمنین دې له نړۍ حرکت کړی وي، بلکل دهـم هغه په نقش قدم یې جهاد ته دوام ورکـړ او په هېواد کې یې دمجاهدینو مورالونـه او روحیات دومـره لـوړ کـړل چې آن مجاهدینو په تیرو پینځلس کلو کې پـه لومړي وار ولایتونه دسقوط سره مخ کړل او پراخې یې سیمې یې تـر خپلـې سلطې لاندې راوستې ا.

منصور صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ یونه ستړی کیدونکی مشر و، هغه دخپل راتلونکي څخه ناهیلی نـه و، دهېواد دازادۍ لـه مسیرڅخه پـه بلـه نـه تـه، سره ددې چې اشغالګرو کوښښ وکړ چې هغه پـه مختلفو حیلو اوبهانو له دغه مسیر څخه واړوي حتی تردې پورې چې دنورو پـه لمسون اواشارو یوشمېر دخپل صف ملګري یې پرضد راپورته شول او ورسره له بیعت نه منکر شول او وربانـدې د درواغو تهمتونه اوبهتانونه یې ولګول خو منصور صاحب دا هر څه په سره سینه وزغمل، دخپل هدف نه یـوانېچ هـم

په شاه نشو دچا دتهمتونو او پروپاګندې په لومو کې ښکار نشو.

اشـــغالګرو دنومـــوړي جهـــادي پلانوناکامه ګرځولو لپاره مختلفې دسیسې او تـوطیئې پـه کـار واچـولي دځینـو خودغرضـو او ضـعیفو اشخاصـو لخـوا دبغاوت ارتکـاب هـم دا راز دامریکـایي ځارګرو ادارو په طراحۍ دداعش فتنه پیدا کیدل او دهغوی لخوا پـه مجاهـدینو بریدونه اوعملیات پیلول هغه ستونزې وې چې له امله یې امارت دکاله دننه دیوجدي ګـواښ او مشـکل حالـت سره مخ شـو منصور صـاحب د وخـت دنزاکـت پـه حسـولودعلماوو پـه فتـوی اومشـوره دداعشیانو دځپلو لپاره ګامونه پورته کړل، چې دخدای په مرسته په لنډ وخت کې دغه دواړه فتنې په نطفه کې خنثی شوې او امـارت او مجاهـدین دهغـوی لـه شر څخه خوندي شول

پـه جهـادي میـدان کـې دهېـواد پراخې سیمې یې د نومـوړي امـارت پـه دوره کې داشغالګرو څخه ازادې شوې او دمجاهدینو واک ته ورغلې په ټول هېـواد کې مجاهدینو تهجمي عملیات پیـل کـړل ددښمن قوي مرکزونه یـې ونـړول اوپـه داشغالګرو یې دژوندانه کړۍ تنګه کړه

په سیاسي میـدان کـې یـې داسـلامي امارت لپاره یومعلـوم ادارس پیـدا کـړ او دهغه له لارې یې دنړۍ دمختلفو هېوادو نو سره اړیکې او تماسونه جـوړ کـړل پـه مهمو نړیوالو کانفرانسـونو کـې دامـارت استازو ګډون وکـړ چـې دهغـو لـه لارې امارت وکړای شول څو دځپلـو مظلومـو خلکو غږ ترنړیوالو ورسـوي او هـم یـې ددغـــه ادارس لــــه لارې دګونتنـــامو دوحشتونو له تـور زنـدان څخـه دامـارت څو مهم مشران دیو امریکا یـې بنـدي پـه مقابل کې ازاد کړل په دې توګـه مرحـوم یو جامع او مبتکر مشر و، چې په شهادت سره یې یوه لویه خـلاء راغلـه لـه ښښـتن تعـالی نـه ورتـه ددې ټولـو زحمتونـو او سترپاوو په بدل کې فردوس جنت غواړو بیرته پاتې کورنۍ ته یـې دصبر غوښتنه کوو او داسلامي امارت دنوي مشر [اشیخ الحدیث هبة الله اخنداده] لپاره د دکفارو دشرڅخـه دحفاظـت ،نجـات اوپـه ټولـو کارونو کې دموفقیت او بـري دعـاء کـوو

پای

قلم ولې مهم دی؟

قاري سعيد

قلم فکر بدلوي او د فکر بدلون د نړۍ بدلون دی.

د انسان ټول اعضاء د فکر تابع دي، خو د افکارو په توجیه، رهنمایي او طراحۍ کې ستره ونډه د قلم ده.

د قلم او ټوپک د تناسب په اړه ویلی شو چې ټوپک د قلم څووم لاس مأمور دی. تر هغو چې قلم د کومې جګړې فتوی نه وي امضاء کړې، تر هغو چې په قلم له کوم هیواد سره د جنګ اعلامیه نه وي لیکل شوې او تر هغو چې د قلم مکتوباتو جنګیالي ته د جګړې لازمه اراده او د مشروعیت روحیه نه وي ورکړې، ترهغه وخته ټوپک سره اوسپنه ده.

خو قلم چې څومره د مثبتو مقاصدو لپاره کاریږي د همـدومره ورانـي تمه هم ترې کیدای شي.

د کمونیزم د پلار کارل مارکس قلم په شلمه پیړۍ کې نړۍ له یـوه خونړي خطر سره مخامخ کړې وه چې د اسیا او اروپا لسګونه میلیونونـه انسانان یې بدمرغه کړل.

د یوه ټولنې د نیکمرغۍ لپاره د ښو قلموالو شتون حتمي ضرورت دی تر څو ټولنه د سعادت په خوا رهبري کړي

(خلیل - عزیز)

دعالیقدر منصور صاحب رحمه الله لار او مسیر!!

امریکایانو اوغلامانو یې که دافکر کړي وي، چې داسلامي امارت دزعیم عالیقدر ملااختر محمدمنصور ،(رحمه الله) په شهادت سره به داسلامي امارت نظم او جهادي فکر له ستونزو او خنډونو سره لاس او ګریوان کړي او په ترڅ کې به یې په افغانستان ددوئ مفسد او سیکولر رژیم دارام ساه واخلي ښکاره او منل شوی حقیقت دی چې امریکا یان او تالیځتي یې دلوی حماقت او اشتباه ښکار شوي دي .

دلیل یې دادی چې داسلامي امارت اډانه او ډانچه داشخاصو او افرادو په چاپیرچل اووجودبانډي نده متکي ، که داسې وای نو دمرحوم عالیقدر ملامحمدعمر مجاهد (نورالله مرقده) په وفات به تربل هروخت اوهرچا زیات داسلامي امارت مراندي لړزیدلي او کمزوري شوي وای ، خو ولیدل شول چې دمرحوم ملاصاحب وفات نه داچې دمجاهدینوجهادي روحیه کمه اوله ځنډ سره مخ کړه ، بلکې الله تعالی داسلامي امارت دقیادت لپاره یوداسې شخصیت اودملاصاحب دسنګر ملګری ولورواوه چې دخپل قیادت په لنډه موده کې یې په نظامي ، سیاسي او نورو برخو کې دومره لاسته راوړني ترګوتوکړي ، چې دامریکا او کفري اشربانې یې د۱۴ کلونو ټول پټ دامونه او دراتلونکو څوکلونو خطرناکي دسیسي یې شندې او رسوا وګرځولي .

دعالیقدر منصور صاحب تر مدبرانه قیادت لاندې ، دکابل داجیر رژیم څلور لکه اردو او امنیتي قطعات چې په روزلوپې امریکایانویوه نیمه لسیزه خواری کړي وي او په ملیاردونو ډالرېې پرې لګولي وو دعزم اوعمري عملیاتو په توره یې اوږدو کې دهیواد په هره برخه کې له شاګرځ سره مخ ، ټول جنګي تکتیکونه یې دړي وړي وګرځول، دهیواد په ۸۰فیصده ځمکه داسلامي امارت نجات بښونکی بیرغورپول شو.

په سیاسي میدان کې عالیقدر منصورصاحب په خپل بیساري زراکت د نړۍ غوږو ته داسلامي امارت برحقه مبارزه په معقولو ټکواودلایلو ور ورسوله او ترډیره بریده یې عام نړیوال ذهنیت اوسیمه یزقضاوت خپل کړ

پرهغه سربیره یې داسلامي امارت دداخلي نظم دلاښه استحکام او چلیدو په نیت اوهم دولس دمصالحو دخوندیتوب لپاره تل پاتي ګامونه پورته کړل

دا اودیته ورته نوري لاسته راوړني وي چې مجاهد منصور رحمه الله دنړیوال طاغوت په مخ کې نه برداشت کیدونکی څواک اوګواښ جوړ شو، چې بالاخره یې دهغه په شهیدولو لاس پوري کړ.

مونږ امریکایانو او لاسپوڅو ته یې وایو ، مرحوم منصور صاحب که څه هم اوس جسمانشته او له خپل حقیقي مالک (جل جلاله) سره وصل شوی ، خو ترشا یې یو خورا میرنی او مجاهد ملت قرار لري ، هیڅکله داسې سوچ ونکړی چې دمنصور رحمه الله په شهادت سره به دهغه لار اومسیر

کمزوری او بې حوصلې وګرځي ، داحقيقت له زړه نه درک کړي چې اوس به هر مجاهد او دامت هر غازي له ځان څخه دشهيد منصور رحمه الله دجوړولو هڅه کوي ، کټ مټ به دهغه نقش قدم اختياروي اوداسلام له ابدي دښمنانو اومنافقينو څخه به پوښتنه کوي چې په کوم جرائت او سوچ مومسلمانانو له يوه مدبر ، خواخوږي او مجاهد رهبرڅخه بې برخي کړل

امريکايان او غلامان يې بائيد ددې حقيقت او حقانيت رمز هم پيدا کړي چې داسلامي امارت دزعيم له شهادت ورسته ، دقيادت په سر ولې يووړوکي هغه مخالفت چې هغوئ ورته سخت منتظر او ليواله و رانغی ، په ډير عاجل فرصت داسې يو مناسب قيادت او بهترين زعامت منتخب او رامخې ته شو ، چې دلوی او متعال رب (جل جلاله) په نصرت به دشهيد منصور (رحمه الله) ټولو ديني او جهادي هيلو اوارمانونو ته دعمل جامه وراغوندي

مونږ امريکايانو او غلامانو ته يې په صراحت وايو چې اسلامي امارت يو قوي منهج اوپخه داعيه لري هغه هيڅکله دشخصيتونو په تغير اوشهادت سره بدلون نه پيداکوي او نه هم هغه څوک چې داسلامي امارت دقيادت مسند ته رازي او په دغه منصب فائزکيږي هغه دې الله مکړه دومره کمزوری ووسي چې ستاسي په اخطارونو او تهديدونو وا رخطاشي اوهغه څه ته چې تاسې (سوله) وايی اوپه حقيقت هغه دافغانستان دلوړو ارزښتونو او ديني خپلواکی جنازه پورته کول دي په سر يې لوبي او معاملې تيار شي (انشاالله تعالی)

جهاد په عباداتو کې ساری نه لري

مفتي ابوماريه

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قيل: يا رسول الله، ما يعدل الجهاد في سبيل الله؟ قال: {لا تستطيعونه} فأعادوا عليه مرتين أو ثلاثاً، كل ذلك يقول: {لا تستطيعونه} ، ثم قال: {مثل المجاهد في سبيل الله كمثل الصائم القائم القانت بآيات الله لا يفتر من صلاة ولا صيام حتى يرجع المجاهد في سبيل الله. }

ژباړه : ابوهريرة رضی الله تعالی عنه وايې : يوتن پوښتنه وکړه : ای دالله رسوله ! دالله تعالی په لاره کې له جهاد سره کوم عمل برابريدلی شي ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل : نه ؛ بل داسې عمل نشته چې تاسويې سرته ورسوئ اوهغه په اجر کې دجهاد سره برابروي ؟ هغه تن دغه وړانديني پوښتنه دوه درې ځله تکرار کړه ، خورسول الله صلی الله عليه وسلم به هرځل په هماغه وړاندينيو تورو سره جواب ورکاوه ، اوورته ويل به يې : لاتستطيعونه : تاسو بل داسې عمل نشئ کولی چې هغه دې دجهاد سره برابر وي.

اوبيارسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : دمجاهد مثال داسې ده لکه يوتن چې ټوله شپه دالله تعالی په عبادت تيره وي ،يعني لمونځ کوي اودقرآن کريم تلاوت کوي ،نه له لمانځه ستومانه کيږي اونه له روژې څخه .يعني لکه يوتن چې څلورويشت ساعته دالله تعالی په عبادت کې مشغول وي ، مجاهدچې دالله تعالی په لاره کې جهادته ولاړشي نوهمداسې يې ټولې شپې دالله تعالی په يوبهترين عبادت کې تيريږي . لکه په يوه بل حديث کې راغلي : فان نومه ونبهه في سبيل الله . يعني ويښه اوخوب يې بلکه هره سايې دالله تعالی په لاره کې ده .اوهغه اجر ورباندي ورکوي.

اسلامي امارت کې درهبرۍ اغیزا

(بت شکن)

دایوه منل شوې یا مسلمه خبره ده ،چې دیوه جهادي یاسیاسي حرکت پرمخیون کې ،ددې غورځنګ د قیادت مؤثریت عمده نقش لري ،کله چې دکوم تحریک لاربنود دحسن تدبیر ،، غوره دیپلوماسۍ،تقوی ،تجربې اوهوښیا رتیا له ليدلورى نه بهرمند وي او په سمه توګه دخپل تحریک سوق او اداره وکړای شي، نو ناشونې نده، چې دده ددې سجنیدګۍ په برکت دا حرکت هیواد شموله او نه یوازې په خپل هیواد کې یې اغیزې ښکارې ،بلکې دنړۍ په آفاقو کې خپل ظهور ښیي او چې کله کدر رهبري لدې اوصافو نه عاري وي، نو مخکې تلل خو پرېږده ، چې په ډیره لنډه موده کې لاسته راوړنې بایلي او ژرخپل تحریک ته دپای ټکی ږدي .

دې کې هم کومه شبهه نشته، چې دیو حکومت ،امارت او یوې جامعې دانسجام لپاره دمشرتابه یا زعامت ټاکنه، که یوسیاسي ضرورت دی ،نوهمداسې یوه شرعي اړتیا هم ده ،اسلامي شریعت هم ددې حکم کوي ،چې دولسونو او اقوامو دسالمې رهبرۍ ،دشرعي حدودو دتطبیق او تنفیذ ،دوګړیو ترمنځ داصلاح ،دجهادي چارو دتنظیم ،دکفارو نه دخپلې اسلامي خاورې دساتنې او نوروقضائي ، اخلاقي او بین الدول سیاست ،دعوت اوداسلام داشاعت اونشرغوندې ذیصلاح اموراتولپاره دې زعیم او امیر ضرور وي او دا زعیم دې داهل الحل والعقد دشورى دغړیو دبیعتونواو خوښې په صورت کې دمسلمانانود خلیفه یا امیرالمؤمنین په نامه ونومول شي ،ولسونه او وګړي ددې مشرتابه په اطاعت اوپیروۍ مکلف ګرځي او پایله کې یوه منظمه حکومتولي مینځته راځي .

داسلامي امارت داخلي تشکل او قیادي شخصیتونه هم ددې اقدارو او ارزښتونوپه رڼا کې رامینځته کیږي او دولسونودوحدت مظهر بلل کیږي ،لومړی ملامحمدعمر مجاهد رح دحمل دمیاشتې په (۱۳۷۵/۱۶ش)نیټه دکندهار ښارکې د(۱۵۰۰۰)علماوودبیعت په صورت کې دړومبي ځل لپاره دامیر المؤمنین په حیث غوره او بیادده تر وفات وروسته، ملااخترمحمد منصور رح دعلماوو،جهادي مسؤلینواو اهل خبره وو،دبیعت په نتیجه کې دزعیم په توګه غوره شو،اوس چې هغه هم په (۲۱/۵/۲۰۱۶ز)نیټه دامریکایانوپه یوه ظالمانه حمله کې شهیداو خپل مقصدته ورسید، نوداسلامي امارت رهبري شورى درأیوپه اتفاق سره شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله دنوې زعیم په حیث اعلان او دبیعتونو لړۍ ورسره لا دوام لري .

اسلامي امت چې دخلفاوو له پیر نه تراوسه پورې، دزعماوو او اهل مشرانودشهادت سره نابلده ندی پاتې شوي ،بلکې تل یې ځیګر دیهودو او نصاراوو غشو سورى کړی

اوکفارو پرې خپله سينه يخه کړي ،مګر دغرونوحوصلواو پاخه عزم په برکت يې دنړۍ دا مستکبرين بري ته ندي پرېښي او نه يې ددوئ په وړاندې دشهادتونو په زغملو شاته تګ کړی .

هغه چې دهيرولو وړنده ،هغه داده، چې اسلامي امارت کې دزعامت مسئله هم دشرعي اوهم د عرفي لحاظه يوه ستره اړتياده او وي به، خو طالبان بيا داسې قشر دی،چې هر يو يې ځان يومسؤل او دخپل زعيم غوندې دجهاد کار ته مخلص بولي ،که چيرته نوی زعيم کلونه کلونه هم ونه ټاکل شي، دکفارو په وړاندې هرطالب ځان پدې ملامته بولي، چې دخپل مشرتابه دوجود په شان خپله سينه ديرغلګرو غشو ته سپر کړي او روان جهادي کاروان همدا تاند او ځپاند وساتي ،دلته هر طالب ځان له چانه کم نه بولي او نه ځان دجهاد په کار کې له چانه شاته کوي ،دجهادمورچلونه بهانده کولو اود اسلامي امارت اهدافو ته دخپل شخصي ـ ا وذاتي کار غوندې وفاداري ښيي او هماغومره اخلاص پکې کوي .

نو پداسې يوه صف کې چې هر طالب يې دخپل محبوب امير مينې دومره ليوني کړی وي، چې ځان دمرحوم اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهدرح او شهيد منصـــــور رح دآرمانونو تمثيلونکي ګنـې ،نـه دکومـو ماديـــاتو هيلــه ورسره وي ،نــــه دکومې چوکۍ او هوس اميدونه ،بلکې سوچه غيبي مينې دداسې کيفياتو سره مخا مخ کړی وي،داسې انګيري چې ديوه فداکار انسان ارزښتونوباندې ښه پوه او دهمدې لارې لاروی دی .

بويه چې د(سپيني او توري مانی) بوالهوس) مشران ،به هيڅکله ددې غورځنګ سمندرې څپو ته بندی وانه چوي او نه به يې کرغيړن ارمانونه سرته ورسي ،چيرته چې معنويت ،للهيت اوسپيڅلي مقاصد ځای ونيسي، هلته بيا دمادياتو،نفسي خواهشاتو اودزر او تزوير دخاوندانو کډې باريږي او دخپل مقابل لورې سره دتصادم وسه له لاسه ورکوي .

دافغانستان نورو حرکتونوته په کتو ،داسلامي امارت تنه او بوده له علماوو ،سپين ږرو طالبانواو بااحساسه مسلمانانو څخه رغول شوي ده ،دوئ سره ديوه آسماني قانون، دپلي کولو فکر او نورو سره دغربي ولسواکۍ دترويج آندونه غاړه غړې دي ،دلته داسلام دستر پيغمبرصلی الله عليه وسلم وارثان دددې جهادي حرکت قيادت کوي او هلته د(عتبه ،شيبه ،ابوجهل او ابولهب)غوندې دپيغمبر صلی الله عليه وسلم دشمنان راغوند شوي ،دلته دسپينو پګړيو،سپينو جامو اوداسلامي صورت او سيرت خاوندان، خو هلته دغربي مادل سرونو،پتلونو،ټايي او خريلو مخونوهواداران وسله په لاس ولاړ دي ،دلته دقرآن او سنت حاملين او هلته دمنسوخ شوي تورات ،انجيل عاملين ،دلته دافغانستان دخاورې مينه وال او هلته دافغانستان دخاورې غله راټول شوي،خو چې هره خوايې راسپړې ،پرتلنه يې سره نه کيږي اونه يې دقيادتونواو موخو مقايسه شونې ده .

نوويلی شو، چې داسلامي امارت دزعماوو شهادتونه به، نه دمجاهدينو او مسلمان قام عزايم متزلزل نه کړي اونه داچې دجهاد دا روان بهيربه ټکنی کړي ، بلکې نور به يې دجهاد عزم ته هودمن اودخونکارو دښمنانوهيلې به تکامل ته پرېنږدي !؟



دیوه محروم اتل په یاد کې

دعابدلیکنه

زمــونږ انقــلاب او مبـارزه لـه دومـره سـختو پړاوونـو تېـره شـوه چـې اوس نـو لـه سـخت نـه سخت آزمـون تـه هـم پـه خلاصـه غېـرتن ورکـوي او نور نو فکر نه کېږي چې تردې دې هم له لویو ننګونو اونازکو حالاتو سره مخ شي، آن چې فکر کوم دنړۍ پرمخ به دبل اسلامي خوځښت داسې ببلګه ونه موندل شي، چې له دومره سترو ننګونو او سختو پړاوونو سره دې مخ شوی وي .

داخودلته ددې آرامې فضا دسکوت اوسـکون خبـره ده چـې دشـهید امیـر المـؤمنین پـه ویـر قلـم خوځـوو اودزړه خواله له کاغذ سره کوو، کنه په حقیقت کې دامـارت اوپـه ټولـه کـې دطالبـانو داسلامي تحریک دعروج او انحطاط هره شېبه یوتاریخ جوړوي.

دابه بیا همدا تـاریخ ثـابتوي چې دامبـارزین څـومره پرحقـه مبـارزه کلـک ولاړوو، چې نږدې ټوله نړۍ ورته یو لاس وه، خوله خپلې حقې داعیې لاس په سرنه شول اوپه ښه دول یې ترسره کړه، همداسې به دهغو اتلانو په اتلولۍ هم اعتراف وکړي، چې په دې دګرکې ترنورو وتلې څېرې وې، خو دوی په ببلابېلو نومونوتـورن او تـرور کـړل، نـن دهغـوی شاهکاري ددښمن پـه تبلیغاتو پټـه ده او په خلکو یې قدرنه شته، خو سبابه یې په ویارڅلي جوړیږي.

ولې دریغه، دریغه!! چې داځلک به بیـا تـرې محـروم وي، نـن یـې چـې لـه احسـان سره څـومره سـتره جفـاکیږي، دسـبا" کـاش" او " افسـوس" بـه یـې هیڅکله جبران ونه کړي.

که دظلم، وحشت، بې دیني، قتل، غارت، بې عزتی، خیانت، ترور، بربریت، او هیوادپلورنې پـه ضـد پخپلـه دفقیـد امیرالمـؤمنین مـلا محمـدعمر "مجاهـد" رحمـه الله مبـارزه او ابتکـار راواخلـو او هغـه احسـان چـې پـه افغـان ولـس یـې ولـوراوه اوهغـوی یـې لـه دې بـدبختیو وژغورل؛ یادکړو، نو بدیل او مثیل به یې پیدانـه شي، خـو سره ددې مـو هـم نـورو تـه منسوب اوغرضي وبالـه، پـه داسـې حـال کـې چـې نـورو ولسـونو ورتـه د " مجدد" لقب ورکړ.

زه یې چا لره وهم قدریې چا زده ...

همداسې په همدې پل تللی زمونږ بـل اتـل رهبردعـزم او اسـتقامت ځلـی شـهیدامیرالمؤمنین مـلا اخـتر محمـد" منصور" رحمه الله دی، چې نه یواځې په ژونـدیې پـه خپـل پاخـه تـدبیر دامـارت ستنې محکمې اوپه اصولو کلکې ودرولې، بلکـې پـه خپـل شـهادت یـې هـم روان مقاومت دومره محکم کړ، چې نـور بـه نـو هیڅکله دزعامت په ترور اوشهادت سره تجزیـه او اخـتلاف دغـه مقاومـت تـه لارپیدانه کړي.

دامغـه هـدف اوسـتر ارمـان و چـې امریکا اومتحدینو یې ترسره کېدو تـه ډېرې هڅې وکړې او نوموړی هم دهمدې هدف قرباني شو، داچې داقرباني ډېره ستره قرباني وه الله تعالی یې دوینو له لومړي څاڅکي سره دښمن تـه معکوسـه نتیجه او مسلمانانوته مطلوبه ورکه په لاس ورکړه،همـدا دشـهیدامیرالمؤمنین دوینو رنګ و چې ډېر ژر یې راووړ.

هغـه چـې امیرالمـؤمنین و اوپـه حقیقـت کـې دټولـو مسـلمانانو مشر- اوقائد و، په یواځې تن به یې په دښتو اوغرونـو کـې مـزل کـاوه اودپېچلـو لارو خورا کړاوونه به یې په یواځې تـن ګالل، خدای خبر چې څومره ترخې خاطرې به ورسره وې ددین اوخاورې پـه خپلواکۍ کې یې ډېرې لوږې، تندې تـیرې کـړې او همداسې ستړی ستومانه شهید هم شو.

بیـادې هـم یوڅـوک راولاړیـږي اونورو تـه دې منسوبوي اوپه حق کې دې دغلامۍ دالفاظو جسارت وکړي؟!!

نن چې څوک غلامان دي اونوروتـه خـدمت کـوي هغـوی هیڅکلـه لـه داډول کړاوونو سره مخ نه دي، بلکې له ټولو هغو حقوقوا برخمن دي چې نـن یـې مـونږ له غلامو واکمنو سره وینو یواځې هغه څوک ترې محروم دي چې دغلامۍ په ځای یې خپلواکي غوره کړي.

دامیرالمؤمنین شهادت،

دامریکا ناپاکه عزائم او د اسلامي امارت روڼ مستقبل

حسن مومند

هو! یواځې آخرت دبقا کور دی ؛ دنیا چې د فنــا دار دی پــرمخ یــې شــته ټــول څیزونـه فنـا کېـدونکي دي ؛ داد بقـا ځـای نـدی نوځکـه پکې نـه څـوک همېشـه پـاتې شـوی او نـه بـه پـاتې شي ؛نامتوپوهـان ؛ لـوی علـماء ، سـتر اولیـاء ، ددیـن امامـان اوحتـی چې انبیـاءعلیهم السلام چې دالله تعـالی ترټولـومقرب اومحبـوب بنـدگان وو هغوئ هم دلته تـل پـاتې نـه شـول اوټـول دفنا له دې دارنه دبقادار ته وکوچېدل .

دهرساکښ وفات دهغـه فناده اولـه دې فنا نه هیڅوک هـم خلاصېدونکی نـدی ؛ ددې فنا پرېکړه یـواځې الله تعـالی کـوي ؛ یواځې هغه ته دامعلومه ده چې پرچا پـه کوم وخت کې دافنا راتلونکی ده ؟ داهرڅـه لـه وړانـدې لیکـل شـویدي اوپکـې هـیڅ مخکیـوالی او وروسـته والـی نـه راځـي؛ همدې ته تقـدیر ویـل کېږي ؛ پردې دهـر مسـلمان کلـک بـاور ضروري دی اودا بـاور دایـمان داسې برخـه ده چې لـه دې پرتـه ایمان داعتباروړ نه گڼل کېږي .

امیرالمؤمنین ملا اخترمحمـد منصـور رحمه الله تعالی هم یو انسان و او دهمدې خدایې قانون له مخې یې په مقرر وخـت او ځـای کې روح لـه بـدن نـه جدا اودابـدیت پرلوریې پرواز وکړ .

دا چــې دا مودخپــل رب پرېکــړه ده مـوږ تـه پـه سر سـترگو قبولـه ده او درب العالمین پر قضارضا خپل شرعي مسئولیت گڼو خو په فـراق یـې چې د هېـواد او نړۍ ټــول ژمــن او باشــعوره مســلمانان اوخصوصـاًدنړۍ اوافغانسـتان مجاهـدین سـخت غمجـن اودردمـن دي او پـه آمونـو اواوښکو دزړونوددې غـم اودرد اظهـارکوي دا یـې هغـه طبعـی حـق دی چـې خـدای ورکړیـدی نو نـه یـواځې دا چې دغـم اودرد ددې اظهارنه موخپل رب نه منع کوي بلکې دا د انسانانو تـر منځ د خپلمنځـی تـرحم او همـدردۍ نښـه گڼـي نـو ورتـه مقبـول دی اورحم هم په همداسې رحم کونکو کوي .

اسـلامي نـړۍ نـن لـه ډېـر حسـاس پړاونه تېرېږي ؛ دا نړۍ ټوټې ټـوټې ده ؛ پــه مختلفولحــاظونو د ویــش ، افــتراق اوانتشــار ښــکارده ؛ دواحــد قیــادت نــه محرومه ده ؛ په مختلفوبرخوکې بې کـورني جنگونـه روان دي ؛ گڼ هېوادونـه یـې پـه خپلــو کــې سره ښــکر پــه ښــکر دي ؛ دبهرنویرغلونونه ددفاع توان یې لـه لاسـه ورکړیـدی ؛ زیـاتره برخـه یـې پـه عسـکري اواقتصــــادي لحــــاظ خـــــوراکمزوری ده اودکمزورۍ په همدې حالت کې یې پرضـد جنگي صـلیبي اتحـاد هـم رامنځتـه شـوی ؛ هغه اتحاد چې په انساني تاریخ کې ساری نـه لـري ، مشري یـې دامریکـا پـه څېـر زبېښاکگر، خونخوار وحشي زبرځواک کوي ؛ دې اتحاد ښه په سپین سترگۍ داسـلامي نړۍ پرضـد جنگ اعلان کړ او دسـتوني نـه دټـولې اسـلامي نـړۍ دتېرولوپـه موخـه داجنـگ عمـلاً پرافغانسـتان دیرغـل کولونـه پیل شو .

یولورتـــه ددوســـایلوپه لحـــاظ داســـلامي نـــړۍ ضـــعف و اوبـــل لورتـــه پراســـلامي هېوادونـــود بزدلـــو ،نـــااهلو اولاسـپوڅو مسـلطو حـاکمانو حاکمیـت و نوځکـه پـه ټولې اسـلامي نړۍ کـې ډېـره ستره ناهیلي خپره وه ؛ هیچا داگومـان نـه کولـوچې گینـی ددې سـترمادي طاقـت مقابلې ته بـه څـوک راووځـي اویابـه گینـې داسلامي نړۍ کوم گوټ دصلیبیانو دناپـاکو قدمونونه خوندي پاتې شي.

دناهیلۍ په همدې سترعالم کې چې دعـادي جنگـي وسـایلوسره طالبـان ددې ستراتحادمقابلې ته راووتـل نودصلیبیانو په مقابل کـې دعمـلي جهاد پـه پیـل کېـدو طیعــاً چــې ټــول مســلمانان خوشــاله ووخومیچا هم داگومـان نـه شـوکولای چې دوسایلوپه لحاظ کمزوري کم شمېر طالب مجاهـدین بـه پـه کـوچني افغانسـتان کـې دنـــړۍ ددې لویوطاقتونوپرضـــد داوږدې مـودې لپـاره جنـگ جـاري وسـاتلای شي ؛ دخاورې ازادول اودډښمن شکست خـوډېره لرې خبره وه .

خوچې الله تعالی غوښتل نوداهرڅـه وشول ؛ نه یواځې داچې کم شمېر طالبـانو دډېروعـادي اوکمزوروســایلوپرمټ ددې

ستر زبرځواک پرضد تراوږدې مودې پورې جنګ جاري وساتلای شو بلکې دې لوی دښمن ته يې داسې ملاماتونکي ګوزارونه ورکړل چې دښمن پخپله دشکست اعترافونوته اړشو نو دنړۍ دټولو مسلمانانو دامېد سترګې يواځې دطالبانو پرلورشوې اويقين ته يې پرېوته چې دمسلمانانو ددې ستر دښمن شکست اودمسلمان ملت نجات دطالب دوجود اوداسلامي امارت دبقا سره تړلی دی .

همدا لامل دی چې دنړۍ ژمن مسلمانان اسلامي امارت ته ډېر دقدر په نظرګوري ؛ په زړونوکې يې داسلامي امارت دزعيم ډېرلوړمقام دی اودطالبانوسره بې کچه مينه کوي ؛ په برياوو اوپرمختګونو يې ډېرخوشالېږي اوپه دردیې سخت دردمن وي نو ځکه وايوچې داميرالمؤمنين ملا اختر محمدمنصور رحمه الله پرشهادت نه يواځې دافغانستان مجاهد ولس بلکې ټوله اسلامي نړۍ غمجنه ده اوټوله پرې ژاړي .

دهغه رحمه الله تعالی دفراق داغم او درد طبعي دی خو دشهادت په کوم مرګ چې هغه ومړ هغه مرګ ډېردلوړې مرتبې والامرګ دی ؛ داهغه مرګ دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به يې سخته تمنا کوله اوفرمايل به يې چې : ځه داخوښه ګڼم چې دالله تعالی په لارکې بيا بيا شهيداوبيا بيا ژوندی شم .

نوځکه ددې لوېې مرتبې حصول دهرمسلمان خواهش وي اوهرمسلمان په خپلې دعا کې دالله تعالی نه دا سترمقام غواړي ؛ يومسلمان هم دبل مسلمان لپاره شهادت غواړي اودا دمسلمانانوپه خپل منځي صالحودعاګانوکې ډېره مهمه دعا ګڼل کېږي .

داسمه ده چې داسلام اومسلمانانو دترټولوستر دښمن په لاس چې دټولې اسلامي نړۍ دا دومره سترشخصيت ووژل شو دې ټول مسلمانان په طبعي لحاظ خفه کړيدي خوداهم دټولومسلمانانو عقيده ده چې دڅومره ستر کافر اوداسلام اومسلمانانو دلوی دښمن په لاس دمسلمان شهادت رامنځته کېږي په همغه اندازه دمسلمان شهادت هم لوی ګڼل کېږي .

دحقې لارې هرمجاهد ددين ،اسلامي خاورو اومسلمان ملت نه ددفاع اوداسلام دسرلوړۍ لپاره دخدای په لارکې جنګېږي اوهمدا يې اصل هدف وي خوپدې لارکې شهادت يې هم ستره هيله وي ؛ تل دشهادت تګی وي اوددې تندې دماتولو لپاره ځوځوځله دخپل تندي ماتولوته تيار وي ؛ منصورصيب هم دحقې لارې يوداسې مجاهد وچې تېرې ځه دپاسه دوه لسيزې يانې دخپل عمر کابونيمه برخه يې ياد هدف اوهيلې ته درسېدوپه موخه دخدای په لارکې په جهاد کې تېره شوه تردې چې الله تعالی دده په لاس دلويوجهادي اهدافوتحقق هم يقيني کړ اوهم يې هيله پوره شوه اوداسې پوره شوه ځرنګه چې ده غوښتله .

پراميرالمؤمنين ملا اخترمحمد منصورصيب چې دده سلف د ستر فراست ځښتن؛ د هيواد او ملت لوی غمخور ، رښتيني مدبر، د همت غر او د جرأت ، حريت او د قربانۍ سمبول عاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله تعالی اعتماد کړی و اوپه خپلو ټولو ملګرو کې يې دنيابت لپاره دده انتخاب وکړ اوبيا چې دامارت ټولو مهمو مشرانو دده په مشرۍ اتفاق وکړ دا دده لپاره دلته په دنيا کې لويه مرتبه اودخدمت ستره موکه وه . نوعام ، مسلمانان ،مجاهدين اودامارت مشران چې په دنيا کې دده په دومره لوی مقام خوښ وو په آخرت کې هم ورته دلوی مقام غوښتونکي ووچې دنړۍ دترټولووحشي ، خونخوارو اوظالمو کافروامريکايانوپه لاس دده دشهادت له لارې الله تعالی ده ته دامقام ورکړ او ارمانونه يې وپوره کړل .

ترکومه چې اسلامي امارت ته له دې لارې دلوی تاوان رسولو اودامريکا دفتحې ياشومواهدافوته درسېدلوخبره ده نودا حقيقت ټولې نړۍ ته له ډېر ورانده نه روښانه شويدی چې دطالب مشرانو شهادتونو هيڅکله هم د اشغالګرو پرضدرواني مبارزې کې هيڅ نقصان ، کمی اوتوقف ندی راوستی ځکه چې داجهاد اوپدې جهاد کې دالويې قربانۍ دکوم شخص لپاره ندي چې دهغه په تلو يا راتلو دې روان شي يا ودرېږي ؛ دامبارک عمل چې دکوم ذات لپاره کېږي هغه همېشه ژوندی دی اوترڅوچې دادنيا ودانه وي دهغه لپاره به داعمل جاري وي .

دشمېر په لحاظ کمواود وسايلوپه لحاظ کمزوروطالبانوچې دانساني تاريخ دترټولوستر جنګي اتحاد په مقابل کې هم داوږدې مودې لپاره جنګ جاري وساتلو اوهم يې دالوی دښمن دشکست تر سرحده راورسولو ددوئ ټولوداعقيده ده چې دا هرڅه يواځې دهغه ذات په فضل وشول دچالپاره چې داعمل جاري دی خو داسبابو دنيا ته چې نظر وکړونو دنړۍ ټول پوهان ،ځېرونکي ؛ سياستوال اودنظرڅښتنان دوستان اودښمنان وايي چې دطالبانو دکاميابۍ يواځنی سبب دطالبانو دصف وحدت اوپه واحد قيادت باندې راجمع

کېدل دي چې لله الحمد دا وحدت اوپه واحد قيادت باندې جمع چې څنګه وه هماغسې اوس هم ده .

ملامحمد عمرمجاهد رحمه الله تعالی چې داسلامي امارت زعيم او دطالبانو داسلامي تحريک مؤسس و وفات يې ستره حادثه وه ؛ دښمنانو خو به دخپلو رسنيو له لارې عمدا تبليغات کول چې طالبان به نور ديوغورځنګ په صفت نور باقي پاتې نه شي ؛ دوئ به ټوټه ټوټه شي ؛ اکثريت به يې وسلې په ځمکه کېږدي اونور به دبهرنـــو ځواکونـــو پرضـــد دجنـــګ روان ساتلوتوان له لاسه ورکړي .

کمـــزوري اوضــــعيف الايـــــمان مسلمانان ددوئ ددې تبليغاتونه اغېزمن وو ؛ عاومخلصو مسلمانانو کې ناهيلي خپره وه اومجاهدينوکې دافتراق راپيدا کېدوتشـويش محسوسـېدلو خـوآفرين داسـلامي امـارت پرقيـادت چـې دوخـت حساسـيت يـې درک کـړ؛ دصـف دوحـدت ســـاتلو اوپـــر يواميرډټولوافغانـــانو اوخصوصـاً مجاهـدينو دراټولولوپـاره يـې پرځان شپه او ورځ يوه کړه ؛ الله تعالی يې مرسته وکړه ؛ کوښښونو يې رنګ راوړ دصف وحدت پاتې شواو ټول مسلمانان په هماغه يو اميرټول شول کوم چې امير المـؤمنين ملامحمـدعمر مجاهـد رحمـه الله تعالی خپل ځای ناستی جوړکړی و .

رښـتيا داده چـې عـالی قـدر اميـر المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله ته الله تعالی ډېر لوی فراست ورکړی و ؛ په خپلو ملګروکې يې چې دچا انتخاب کړی اوپـرې يـې زيـات اعـتماد کـړی وهغـه هماغسې وخوت ځرنګه چې ترې اميد کېدلو ؛ هغه خپل مسئوليت په ډېر غوره او ويارمن ډول ترسره اودامارت حق يې ادا کړ ؛ دامارت دچارو اودجهادي امورودلازيات پرمختګ لپاره يې ډېرې کاميابې هڅې او ګـڼ جـدي اقـدامات وکـړل ؛ دعـــالي اهدافواوملي ګټودتحقق په لارکې يې هيڅ سترتيا ونه منله ؛ دصف واحد ساتلو ته يې ډېره توجو وکړه ؛ هغه په رښتيا چې داشدآء علی الکفار رحمآء بينهم نمونه وه ؛ په بيعت کې تاخير کونکي خوپرېږده کوموتنـانوچې په ښکاره مخالفت ښکاره کړدهغوئ پرخلاف يې ترآخره کوم سخت توری هم له خولې ونه ويست پرضد يې اقدام کول خوارئ خبره ده ؛ خوداشغالګرو په مقابل کې دپيل نه دمرګ ترساعته په کلک او ويارمن دريځ پاتې شو ؛ نه يې داشغالګروغوښتنې ومنلې ؛ نه يې زور ته سرټيټ کړ نه يې ګواښونو اوفشارونوته تسـليم شـو ؛ نـه يـې دچـا پروسـې اوپښـــنهادونه ومنـــل ؛ نـــه دمکـــارو خلکودتوطيو اودسيسو ښکار شو؛ نه يې دچا فشارونوعزم متزلزل کړ اونه يې دچاپه وينا خپل مسير پرېښود .

دهغه داسلامي امارت دزعامت موده لنډه وه خوپه لنډې مودې کې يې دمتين عزم ، کلک ايمان اوسرلوړۍ داسې کارنامې ترسره اوتاريخ ته پرېښودې چې تل به پـرې ټـول ژمـن مسـلمانان اوخصوصـاً مجاهدين وياړي اواتلولئ به يې تاريخ تل يادوي .

اميرالمـؤمنين رحمـه الله تعـالی لـه نړۍ سترګې پټې کړې خو په خپل عمر يې کومه داسې کوچنۍ خبره يا حرکت هم ونکړ چې د افغانانو پرتـاريخ تـورټکی شي بلکې په لږوخت کې يې چې څه وکړل هره کرنه يـې تـاريخ جـوړونکې وه چـې دا دټولـو مسلمانانو لپاره دوېړې خوښۍ خبره ده .

د اميرالمـؤمنين چـې کـوم مقـام او منزالت و شايد ګڼ متعصبين به ترې لاهم انکار کوي خو تاريخ به دالوړمقام اولويـه مرتبه هيڅکله هم پټه نکړي او زماني پس بـه ښـه پـه روښـانوټکو دده رحمـه الله دلويـــوالي اولـــوړوالي خـــبره ترقيامتـــه راتلونکو نسلونوته ثبت کړي؛ ځه پوره باورلرم چې تاريخ به دهغه يوه اتلولي هم هېره نکړي؛ پدې اړه به سم قضاوت وکړي او تـاريخ بـه هغـه رحمـه الله داسـلام ستروااو نامتو اتلانو څخه وګڼي .

داميرالمـؤمنين دشـهادت نـه پـس دامريکا تورپوستي ولسمشر-بارک اوباما دغرورنه په ډک فاتحانه انداز دهغه دقتل اعتراف و کړ اوويې ويل چې ,,که طالبانو دمـلا اخترمنصـور پـه څېـر دسـولې اومذاکراتو پروسه رد کړه انجام به يې دخپـل همـدې مشرـپه څېـر وي ؛ پـه راتلونکي کې به دامريکا دمفاداتودساتنې په موخه داړتيا په صورت کې دطالبانود مشر په شمول نور قيادت هم په نښه کړو ،،

بيا يې جاپان ته دسفرپرمهال وويل ,, طالبان دې پدې پوه شي چې دوئ به بيا پـه افغانسـتان کې واک تـه ونـه رسـېږي اونه به يې حکومت راشي ؛ افغانستان کې جمهوري دولت شـتون لـري ،موږهمدغـه دولت تقويه کوو ،،

داوبامـاخبرې څـومره ددپيلوماسـۍ ضد ؛ دوحشت اوغرورنه ډکې ؛ دحقيقت نه لرې ؛ نامعقولې اوپرتضاداتو ولاړې دي ؟! خـو څـوک شـته چـې دده پرضـد دحـق آواز پورتـــه او دده دخبروناممعقوليـــت او ناقانونيت په ګوته کړي ؟

اوباما دکابل اوسنۍ لاسپوڅې اداره جمهوري اداره یاپه بل عبارت دولس له لوري منتخبه اود ولس دخوښې اداره بولي داڅومره سپین دروغ دي ؟! که ولس یواځې په چوکیوباندې دناستولاسپوڅو ،رشوت خورو ،لوټمارانو اوملي خائنانونه عبارت وي نویقیناً اوسنۍ اداره ددوئ دخوښې اداره ده او دوئ یې بقاغواړي خوکه ولس دافغانستان دټولو اوسېدونکو نه عبارت وي نوبیا هرمنصف داپوښتنه کوي چې که دا جمهوري یا دولس دخوښې اداره وي نو ولې دافغانستان د شمال ،جنوب ،شرق اوغرب په هرې سیمې کې افغانان هغوطالبانوته په خپلوکورونوکې ځای ورکوي کوم چې داشغالګرو اوداشغالګروپه لاس رامنځته شوې اداري پرضدجنګیږي؟

دزرونو بې ګناه افغانانوقاتل اوپه ټول افغانستان کې منفورترین هغه رشید دوستم چې داوباما دولت یې هم ستر قاتل بولي اوورته امریکا ته دتلو ویزه نه ورکوي ددې اداري دمشراشرف غني داسې مرستیال دی چې دهغه په نه شتون کې همدی ددې اداري مشري کوي خوبیا هم اوباما داسې اداره دیموکراته اوجمهوري اداره بولي ؟!

اوباما داخترمحمدمنصور دشهیدولو لپاره وجه دابیانوي چې هغه دمذاکراتو پروسه کې خنډونه جوړول .

په ټولیزه توګه ټوله نړۍ اوپه ځانګړي ډول دملګروملتونوپه نوم نړیواله اداره باید پدې خبرې غور وکړي چې آیاداوباما په خبرې کې ګینی یوفیصد قانونیتوب یامعقولیت شته ؟ آیاپه نړۍ کې زوروروته داحق هم ورکړل شویدی چې که مقابل لوری ورسره مذاکرات نه کوي یاورته دمذاکراتولپاره شرطونه وړاندې کوي نوزورور به یې وژني ؟

دهېوادونو اودهېوادونو د مشرانو دیپلوماسي څه شوه ؟ داد انسانانو نړۍ ده که دځناوروځنګل دی ؟

دلته دغورځای دادی چې طالبانو خو ایله همدومره کړي چې دخپلې خاورې دآزادۍ په روان مخامخ جنګ کې یې امریکایي اشغالګرعسکر وژلي دي چې دا یې مشروع حق اودنړۍ دټولو قوانینوسره برابره خبره ده ؛ دادنړۍ په ټولو قوانینو کې ثبت ده چې داشغال پرضد دیوملت قیام اوجنګ کول دهغه ملت قانوني حق دی .

نوطالبانو دامریکا پرضدهیڅ ناقانونه عمل ندی ترسره کړی ؛ نه یې پر امریکایرغل کړی ؛ نه یې دامریکا یوه لوېشت خاوره قبضه کړیده ؛ نه یې وربانډې کلسترېمونه غورځولي ؛ نه یې پرامریکا کیمیاوي مواد استعمال کړي ؛ نه یې په امریکا کې کوم ښوونځی ، روغتون اوکلیسا بمبارکړې ، نه یې دکوم امریکایې کور وران کړی او نه یې په توره شپه کې په کور وراوښتي ؛ نه یې دانجیل په نوم دهغه کتاب اودعیسی علیه السلام په نوم دهغه پېغمبرسپکاوی کړی دکوم چې امریکایان ځانونه متبعین بولي .

پس طالبانوهمدا کړیدي چې داشغالګرهېواد سره مذاکرات یې دقابضوقوځونوپه وتلومشروط کړیدي .

موږ دټولې نړۍ اودملګرو ملتونو داري نه داپوښتنه کوو چې آیادطالبانو له لوري دیوشرط وړاندې کېدل دومره لوی جرم دی چې دطالبانوقائد دې پرې ووژل شي ؟؟؟

امریکایې فوځ چې پر افغانستان یرغل کړی ؛ داهېواد یې قبضه کړیدی؛ وربانډې یې کلسترېمونه غورځولي ؛ ددې هېواد په مختلفوسیمو کې یې کیمیاوي مواد استعمال کړي ؛ جوماتونه ، مدرسې ، ښوونځی ، روغتونونه ،جنازې ، ودونه ، آباد کلي اوښارونه یې بمبارکړي ، په تورو شپو کې دغریبو افغانانوپه کورونو وراوښتي دي ؛ دمسلمانانودمقدس کتاب قرآنکریم بې حرمتي یې کړیده نو اوباما او د امریکا نور مشران چې دهمدې فوځ مشري کوي اودهمدې اعمالو دترسره کولولپاره دا فوځونه را استوي آیا نړیواله ټولنه اودملګروملتونو اداره به ددې جرمونو نه پس بش ، اوباما او دامریکا نور مشران دقتل وړ وبولي ؟

اوآیا طالبان یې که په وژلوبریالي شي او ویې وژني دطالبانو داکړنه به تائید کړي ؟

نه هیڅکله هم نه ! ځکه چې امریکا خو امریکا ده ؛ پدې مادي نړۍ کې هغه زوروره ده ، بدماشه اودملګروملتونوپه نوم دغلامې اداري یواځنۍ باداره ده اوطالبان دمظلوم مسلمان ملت برخه ده نودطالبانو هره خبره اوعمل ردیږي اودامریکا هرڅه دقانون سره برابر اودمنلو وړ ګڼل کیږي .

داپوښتنه هم ډېره اړینه ده چې په نړۍ کې خو نور هم ډېر داسې څوک شته چې دامریکا سره په ډېرو امورو کې شدید مخالفت ښکاره کوي اوامریکا ته ګواښونه هم کوي آیا امریکا دومره نره ده چې دهغوئ دوژلو حق هم ځان ته ورکړي ؟

داوکراین په شخره کې چې امریکاپه روسانوسخت تنقیدونه کول ؛ په روسانو

یې تورلګولوچې په اوکراین یې حمله کړیده اودا داسې ده لکه په ټول لویدیځ باندې حمله نوآیا امریکا دپوتین دوژلوحق خان ته ورکولی شي ؟

امریکا دېرې هڅې وکړې چې شمالي کوریا داتومي وسلو جوړولونه منع کړي ؛ شمالي کوریا ته دترغیب اوترهیب ؛ غولولو او وېرولو حربه یې په کارواچوله خوشمالي کوریا یې هیڅ پروا ونه ساتله ، دامریکا هیڅ فشار یې ونه منلو اوښه په جرأت یې خپل اتومي پروګرام مخ په وړاندې بوتلو ؛ ښه په نره یودبل پسې اتومي ازمویني کوي ؛ اوس دا اوازې هم خپرې شویدي چې هایدروجن بم جوړوي ؛ ګوخلې ګواښونه کړیدي چې په جاپان اوجنوبي کوریا کې دامریکا موجودې اډې به نیست ونابود کړي.

نوآیا امریکا دشمالي کوریا په کوم مشر ددرون حملې کولوحق خان ته ورکولی شي ؟ امریکایان خو دومره بزدلان دي چې دشمالي کوریا په نوم یادولوېې لېنګي رپېږي .

همدا راز دچین ، وینزویلا کیوبا اوځینو نوروهېوادونوسره هم امریکا ستونزې لري اوپو یې هم خبره نه مني خو دیو هېواد دمشر دوژلواو وربانډې دحملې کولو تصور هم امریکا نه شي کولای ځکه چې امریکا بې حده بزدل دښمن دی ، دهغه چانه تل په سختې وېرې کې وي دچاسره چې مادي طاقت وي .

که دامریکاسره دطالبانو درای مخالفت دومره لوی جرم نه وي چې دطالبانوقائد دې پرې ووژل شي نوبايد اوباما چې دقتل اعتراف یې کړیدی نړیوالومحاکمو کې دمحاکمې لپاره راښکل شي او که داسې نشي. کېدای شي نړیواله ټولنه اوملګري ملتونه باید پدې اعتراف وکړي چې پرنړۍ دقانون نه بلکې دزور اوبدماشۍ حاکمیت دی .

دامریکا اوسني سترجنایت امریکا منافقت نړۍ ته ښکاره اوداخبره ښه روښانه کړه چې امریکا رښتیا هم خپلې موخې اوشوم اهداف په جګړې کې ویني ؛ هیڅکله نه غواړي چې په افغانستان کې جګړه ودرېږي اودافغانستان ستونزه دخبرو اترولې لارې حل شي ؛ امریکا یو فیصد هم په حقیقي معنوکې دطالبانوسره مذاکراتوته ژمنه نده ؛ دطالبانوسره مذاکرات اودوحشت نه په ډک اوناخوانمردانه ډول دطالبانودزعیم وژل ؟!

دامریکا د دماغونه لاهم دحماقت نه ډک غرورندی وتی اولاهم دخپلې غلبې خوبونه ویني ؛ دکوموطالبانوپه لاس چې په پنځلس کلن اوږدجنګ کې ټول صلیبي اتحادپه ګونډوشوددمماغوطالبانونه غواړي چې وسله دې په ځمکه کېږدي اودکابل لاسپوڅې اداره دې ومني او پکې راشامل دې شي .

خوعجیبه داده چې خپلې دحماقت نه ډکې همدې غوښتنې ته نوم دمذاکراتو ورکوي؛ شاید ګومان به کوي چې پدې توګه به خان نړۍ ته سوله پالی اوطالبان دسولې مخالفین وښایې چې داپوه ناکامه هڅه ده ؛ بالفعل قابض ، اشغالګر اودسونوزروبې ګناه انساناتوقاتل به څوک سوله پالی وګڼي ؟

دامریکا مکاره څېره طالبانو پېژندلې ده او دمنافقت نه یې ښه خبر دي نوځکه یې مذاکرات ددوئ په وتلو مشروطول او اوس چې پکې هیڅ ګټه نه ویني نوامیرالمؤمنین شیخ هبة الله حفظه الله داسې ردکړل چې نوربه یې بېخي نوم نه اخستل کېږي .

اوباما دا ګواښ هم کړی چې که طالبانو دملا اخترمحمدمنصور په څېر دسولې اومذاکراتوپروسه رد کړه انجام به یې دخپل همدې مشرپه څېر وي ،،

هر دعقل څښتن به بې له فکر کولودا وایې چې داوباما داخبره دحماقت نه ډکه طفلانه خبره او دخپل خان اوخپل ولس دغولولویوه ناکامه هڅه ده .

اوباما ژوندو هغو انسانانوته غږېدلوچې دټولې صلیبي ټلوالې په مقابل کې یې دطالبانو تېره ۱۵کلنه مقابله مخې ته ده .

پرافغانستان دیرغل نه وړاندې اودیرغل په ړومبو ورځوکې به چې امریکا کومې باټې وهلې اودغرورنه په ډک کوم انداز به یې چې طالبانوته ګواښونه کول ټولوخلکوته معلوم دي اوداهم دهرچا په علم کې ده چې دې ګواښونو د طالبانوپه ارادوکې هیڅ ډول بدلون نه و راوستی او د امریکا په مشرۍ کې رامنځته شوی دانساني تاریخ ترټولو لوی جنګي صلیبي اتحاد مقابلې ته چې د نړۍ بل یوطاقت هم د راوتلو جرأت نه شوکولای او ټول ورته تسلیم وو دملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په مشرۍ کې طالبان ددې ستر اتحاد په مقابل کې د استقامت د غر په څېر میدان کې ودریدل او په پوره مېړانې یې د شرمونکې ماتې سره ددې اتحاد مخامخ کولو پورې دا پیل شوې سپېڅلي جهاد جاري وساتلوچې دا یقینا د نړۍ په سطحه بې ساري اتلولي ده ؛ پدې جریان کې په لسګونوزره طالبان شهیدان

اوتپیان شول ؛ ګڼ شمېر پکې له اعضاءو نه محروم شول په لسګونوزره پکې دوحشت نه ډکو زندانونو ته ولاړل خودې هیڅ هم ددوئ عزایم متزلزل نه کړل ؛ نه دخپل مسیرنه واوښتل ؛ نه دخپلو اهدافونه تېرشول ؛ نه یې دښمن ته سر ټیټ کړ او نه هم ددښمن زورته تسلیم شول بلکې دهرې ورځې نه بلې ته یې خپله مبارزه دومره ځواکمنه کړه چې ټول صلیبي اتحاد یې په ګونډوکړ.

نو اوس چې اوباما ګواښونه کوي اودا ثمه ښکاره کوي چې دیو امیر په شهادت به طالبان خپله حقه مبارزه پرېږدي ؛ یابه دخپل معقول اومشروع دریځ نه واوړي اویابه هم دخپلوعالي اهدافونه تېرشي دایې لوی حماقت اودخان اوخپل ملت دغولولوناکام کوشش دی .

ټولې نړۍ ته معلومه ده چې اسلامي امارت په قوي بنسټونوولاړه یوه ځواکمنه ، په ښکاره ساده خوپه حقیقت کې خورا منظمه اداره ده دکشر اومشرمقام پکې معلوم دی ؛ دهېواد دزیرکوعلماءکرامو،سیاست پوهانو اوجهادي قائدینونه جوړه داهل الحل والعقد مقتدره شوری لري ؛ همدې شوری دامیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد رحمه الله تعالی دوفات داعلان نه پس ملا اخترمحمدمنصور رحمه الله تعالی د افغانستان داسلامي امارت امیر جوړ کړی و او دده دشهادت نه پس اوس همدې شوری په اتفاق شیخ القرآن والحدیث هبة الله آخندزاده دامیرالمؤمنین په صفت منتخب کړ او دامیرالمؤمنین ملا محمد عمرمجاهد رحمه الله مشرځوی دټولو مسلمانانو لوی محبوب مولوي محمدیعقوب مجاهد او د لوی جهادي قائدمولوي جلال الدین حقاني حفظه الله ځوی ستر اتل سراج الدین حقاني ته یې داول او دوهم نائبانومسئولیت ورپه غاړه کړ.

که څه هم دامر یومسئولیت دلویې قرباني غوښتونکی دی خوچې په شوری کې دامارت دزبده مشرانو پرېکړه وه نودرې واړوپه سرسترګو ومنله .

دډېرې خوښۍ اوافتخارځای دادی چې دامیر اودواړو نائبانو انتخاب ډېر د دیني احساس ، مینې ، اتفاق او اخوت په فضا کې وشو .

بیادډېرشکرځای دادی چې دانتخاب او اعلان نه سمدستي وروسته دامیرالمؤمنین شیخ هبة الله آخندزاده سره دامارت لویو او وړوتولو مسئولینو ،عامو مجاهدینو، دهېواد جیدو علماءکرامو اودهېواد عامو مخلصو مسلمانانو بیعتونه پیل کړل اوښه په دیني جزبې اوکامیابۍ الحمدلله دالړۍ روانه ده .

مکاردښمن یوځل بیاددرز اچولو هڅې وکړې ؛ ولس اودنړۍ مسلمانانو کې دتشویش اوبې اعتمادۍ خپرولو په موخه یې دخپلو غلامو رسنیو له لارې پدې اړه ډېر پوچ تبلیغات وکړل ؛ په پیل کې یې ویل چې دمشرۍ لپاره مختلف نومونه رامخې ته شویدي اودنوي امیر دټاکلوپرسرطالبان داختلاف ښکاردي خوچې داعلان نه پس دامیرالمؤمنین شیخ هبة الله آخند زاده سره په لوړه اوټیټه کچه داسلامي امارت ټولو مسئولینو بیعت اعلان کړ ؛هیڅ کوچنی مخالف غږ هم پورته نه شو او داتحاد ، اتفاق ، مینې او اخوت داسې فضا قائمه شوه چې ددښمن لپاره ترې انکار ناممکن شونونامراده اوناهیلی دښمن پخپله چپ شو .

ولس او ټول مسلمان ملت دې مطمئن وي چې زموږ نوی امیر به هم دخپلو دواړو سلفو: امیرالمؤمنین ملا محمد عمرمجاهد اوامیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور رحمهما الله په نقش قدم روان وي، جهاد به جاري ساتي؛ هیڅکله به هم د خپل اصلي موقف نه تېر نه شي او نه به هم د عالي اهدافو په سر د چا سره سودا وکړي ان شاء الله تعالی.

امریکا دې پدې پوه شي چې په تېروڅه دپاسه دوه لسیزوکې دامارت ارکانودډېرې تجربې ترلاسه کړې ؛استعدادونو یې ډېره وده وکړه ؛اوعلم کې یې ډېرزیاتوالی راغلو .

مبالغه به نه وي چې ووایو :دامارت په زرونومشرانوکې دامیرتوب اهلیت شته نوځدای مکړه که یوپه بل پسې دامارت هرڅومره مشران له دښمن په لاس شهیدان شي ددښمن پرضد روانی مبارزې کې به هیڅ کمزوري رانشي. بلکې ددښمن په مقابل کې به دمجاهدینو غیض اوغصب لاپسې زیات اوددښمن نه دانتقام اخستلو احساس به لاپسې قوي شي او همدا احساس به امریکا اوټول قابض ځواکونه دهلاکت داسې کندو ته وغورځوي چې ترې به بیا ترعمره راپورته نشي. ان شاءالله تعالی.

د بیعتونو پراخ او نورمال بهیر

دامارت استحکام او عمق ثابت کړ

أبوعابد

د ۱۳۹۵ لمریز کال د جواز دمیاشتې په لومړۍ نیټه د اسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین ملااختر محمد منصور صاحب د امریکایي بې پیلوټه الوتکې په برید کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

د نوموړي د شهادت د خبر په اعلام سره کفري رسنیو،د طاغوت مشرانو اود هغوی محلي ډنډورچیانو د تبلیغاتو، تبصرو او اظهاراتو یو داسې بهیر پیل کړ،چې پخوا یې بیلګه نه وه لیدل شوې. دوی هڅه کوله په دې تبلیغاتي هجوم سره مجاهدین تر رواني ضربه لاندې ونیسي، د امارت د مشرانو اذهان مغشوش کړي. د ابتکار او اقدام حوصله ترې واخلي او په دې توګه متحد مجاهدین په یوه حساسه مرحله کې د تشتت او افتراق له خطر سره مواجه کړي.

خو لله الحمد، الله تعالی د اسلامي امارت مشرانو او کشرانو ټولو ته په دې امتحاني او بوږنوونکي مرحله کې غیرمعمولي ثبات،زغم او د پریکړو د کولو لپاره وړ جرأت او استعداد ورنصیب کړ. د اسلامي امارت رهبري شورى په سخت حالت کې د حالاتو ابتکار په لاس کې واخیست. او د نوي زعامت په تعین او د بیعتونو د سلسلې په پیل سره یې د مجاهدینو زخمي زړونه ټکور کړل.

د اسلامي امارت د رهبري شورى له پریکړې سره سم شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب د امیرالمؤمنین په حیث وټاکل شو او سمدستي ورسره د بیعتونو او ملاتړ د غونډو لړۍ پیل شوه.

د افغانستان او نړۍ په ګوټ ګوټ کې د اسلامي امارت منسوبینو په دې مرحله کې یو ځل بیا متحد اسلامي امارت او مستحکم جهادي صف ته د ژمنتیا بیلګه وړاندې کړه. پرته له تعلل او ځنډ څخه یې له نوي زعیم سره بیعتونه وکړل. د افغانستان د ټولو ولایاتو جهادي مسؤلینو،د کمیسیونو اعضاوو، ولسوالانو، قاضیانو، ډلګي مشرانو او عامو مجاهدینو په پوره شوق او ذوق سره له نوي امیرالمؤمنین حفظه الله سره على السمع و الطاعة خپل بیعتونه اعلان کړل.

د اسلامي امارت د بیلابیلو کمیسیونونو په نمایندګۍ د هر کمیسیون رئیس هم له جناب شیخ صاحب هبت الله اخندزاده صاحب سره بیعتونه وکړل او په دې توګه یو ځل بیا داسلامي امارت وحدت او استحکام خوندي او ددښمنانو هیلې په اوبو لاهو شوې .

د اسلامي امارت دداخلي همغږۍ او اتحاد د ثبوت په شان د نوي امیر سره د بیعت سلسلې دا خبره هم روښانه کړه چې اسلامي امارت په عام اولس، کلیو، بانډو، ښارګوټو او ولسي سیمو کې څومره ژورې ریښې او عامه ملاتړ له ځان سره لري.

د شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور له شهادت وروسته د افغانستان په ټولوولایاتو کې په ولسي سیمو کې د شهید امیر د فاتحې او له نوي امیر سره د بیعت د غونډو سلسله هم پیل شوه. جالبه دا وه چې عام اولس په ډیرو هغو ځایونو کې هم د فاتحې او بیعت مراسم جوړ کړل چې د ګوډاګي حکومت د نفوذ ساحې بلل کیږي.

د کابل ګوډاګی رژیم چې د عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد له وفات وروسته په پلازمینه کابل کې د فاتحو غونډو وارخطاء کړی و، دا ځل یې اعلان وکړ چې که هر چا په کابل کې د شهید منصور صاحب د فاتحې غونډه جوړه کړه نو سخته سزا به ورکړي.

خو ددښمن له دې اخطار سره سره رسنیو راپور ورکړ چې د کابل مربو ط چهاراسیاب ولسوالۍ کې په سلګونو عام خلک راټول شول، او د شهید منصور صاحب د فاتحې په مراسمو سربیره یې له نوي امیرالمؤمنین سره په پوره زړورتیا خپل بیعت اعلان کړ او په دې توګه یې ثابته کړه چې عام اولس که څه هم د حکومت د واک په ساحه کې ژوند کوي خو زړونه یې له مجاهدینو سره تړلي او د سر په بیه یې حمایت او ملاتړ کوي .

د شهید منصور صاحب له شهادت وروسته په اسرع وقت سره د نوي زعیم تعین،د بیعتونو پراخه او هیواد شموله سلسله،د ټولو مجاهدینو علی الاتفاق بیعتونه،د ولس له منخه د پراخ ملاتړ غبر راپورته کیدل او د څو ورځو په بهیر کې بیرته د امارت اوضاع عادي حالت ته ستنیدل او ددښمنانو ناامیده کیدل. دا ټول هغه حقائق دي چې د اسلامي امارت د زیربنا او بنسټونو په مضبوطیا دلالت کوي او موږ ته دا زیری راکوي چې لله الحمد، اسلامي امارت کومه داسې کمزوري او آسیب پذیره ډله نه ده چې د زعامت په له منځه تلو سره وپاشل شي او یا یې تهدابونه ولړزیږي.

بلکې دا یوه داسې پخه،څواکمنه او محکمه ونه ده چې ریښې یې د اسلامي امت تر زړونو پورې غځیدلې دي،د بې شمیره مخلصو مؤمنانو په وینو او خولو سیرابه شوې او د الله تعالی نصرت ورسره داسې شامل حال او ملګری دی چې د زماني د بدخواهانو پوکې او بادونه یې نه شي کاواکه کولی.

هوکې، اسلامي امارت د حق او شریعت هغه ډیوه ده چې د بې شمیره بدخواهانو دپوکیو په منځ کې یې خپل ژوند او پایښت ساتلی دی او په خپله بقاء سره یې دښمنان همیشه ناامیده کړي دي. چې په دې ډول ددې آیت کریمه مصداق پاته شوی چې الله تعالی فرمایي: یریدون لیطفئوا نورالله بافواههم والله متم نوره ولو کره الکفرون . ژباړه : کافران اراده لري چې د خپلو خولو په پوکیو د الله تعالی رڼا خاموشه کړي، حال داچې الله تعالی د خپلې رڼا بشپړوونکی دی اګر که کفار دا بده ګڼي.

د بیعتونو د پراخ او فراګیر بهیر په تعقیب د جهادي فتوحاتو سلسلې هم وښوده چې د زعامت انتقال د عامو مجاهدینو په روحیاتو هیڅ بد اثر نه دی کړی،په دې لړ کې په هلمند ولایت کې پراخ فتوحات او د لشکرګاه دروازو ته د مجاهدینو رسیدل په کندز کې د بایومیټریک په واسطه ددښمن د مهمو افرادو موندل، په لوګر ، کابل او ګڼو نورو ښارونو کې په دښمن دقیق او څپونکي ګوزارونه هغه څه و چې په خیال پلوونو کې ډوب دښمن یې نور هم وارخطاء او د مجاهدینو اتحاد، نظم او لوړ جهادي مورال یې ورته ثابت کړ.

په هرحال، له دې امتحاني مرحلې څخه د اسلامي امارت هسکه غاړه وتلو ثابته کړه چې طالبان د تامیل پرانګانو غونډې کومه کمزوري او بې ریښې ډله نه ده چې د مشر په وژل کیدو یې ټول نظم خراب، حوصلې ماتې او دیرش کلن تشکیلات او خوځښت یې له منځه لاړ شي.

بلکې دا خبره ثابته شوه چې امارت عمیق استحکام لري، پاخه بنیادونه، په نظریه ولاړ افراد، هوښیار ، بادرکه او جرأتمند مشران او په عین حال کې پراخ اولسي ملاتړ له ځانه سره لري چې ددې ظاهري فکټورونو په علاوه دا چې امارت یوه رښتیني او معیاري جهادي مجموعه ده د الله تعالی نصرت او مدد هم له ځانه سره لري چې په برکت یې دا ډله د ددښمن له سختو دسیسو، دامونو او تاریخي ازمویښتونو څخه تل هسکه غاړه او بریالۍ تېره شوې ده.

دمنصور صاحب

څو بعدیز شخصیت

سادات میوند

د طالبانو مشر ملا اختر محمدمنصور وروسته له هغه نړیوال شهرت ترلاسه کړ چې دطالبانو دتحریک دموسس او مشر ـ ملا محمدعمر مجاهد دوفات خبر نشر او نوموړی یې ځایناستی شو.

اختر محمد منصور دطالبانو دتحریک له پیل څخه ددغه خوځښت فعال غړی او د یو مسؤل شخص په حیث پاته شوی، منصور صاحب ته دتحریک په لومړیو کې دکندهار دنړیوال هوایي ډگر دمشرتوب چارې وسپارل شوې، وروسته چې طالبانو هرات، ننگرهار او کابل ونیو، نوموړی د افغانستان د سیاحت اوهوایي چلند وزیر شو او پرافغانستان دامریکا د یرغل ترمهاله پرهمدې دنده پاته شو.

منصور صاحب دهوایي چلند دوزیر په صفت افغانستان او افغان ولس ته ډېر زیات خدمتونه ترسره کړل، کنډوکپر هوایي ډگرونه چې هرڅه یې خراب شوی او چور شوی وو، بیا ورغول، بیلابیلي الوتکي اوطیارې یې ترمیم او یو تعداد یې نوي خریداري کړې چې په برکت یې افغانان دحج د فریضې داداء کولو لپاره له خپل هیواد څخه سعودي ته ولاړل، همداراز په داخل او دافغانستان څخه بهر الوتکو داسیا مختلفو هیوادونو، اروپا او..... ته سفرونه او پروازونه پیل کړل، چې داټول دهماغه وخت شرایطو اوامکاناتو ته په پام سره ډېر لوی اودروند کار اوخدمت و.

د امریکایې یرغل پرضد روان جهاد کې منصور صاحب ډېر لوی او بازر رول درلود، د یرغل په پیل کې د طالبانو له لوري د کندهار والي او د رهبري شورى غړی و، د ملا عبیدالله اخند ترنیول کیدو وروسته د ملا محمد عمر مجاهد له لوري د ملا برادر اخند د مرستیال په حیث غوره شو، د ملابرادر اخند ترنیول کیدو وروسته مشر ملا صاحب دخپل نائب په توگه غوره کړ.

ملا اختر محمد منصور دملا محمد عمر مجاهد د نیابت پر مهال د طالبانو په سیاسي او نظامي پرمختگ کې مخکښ رول ولوباوه، په پوځي ډگر کې یې د طالبانو دروزني لپاره معسکرونه جوړ کړل، نظامي قطعات یې رامنځته کړل، ددعوت او ارشاد، جلب اوجذب کمسیون یې ایجاد کړ، په قطر کې یې سیاسي دفتر پرانست، چې په توسط یې دمختلفو هیوادونو او جهتونو سره خبري اترې وشوې، د قطر دفتر له لارې په لومړي ځل د طالبانو استازو فرانسې، جاپان، ناروې اونورو هیوادونو ته رسمي سفرونه وکړل، دامارت پالیسي یې په رسا ټکو کې په خپله خوله نړیوالو ته توضیح کړه، طالبان په نړیواله کچه د سیاسي هویت او وجاهت څخه برخمن شول او دنړې مختلف هیوادونه دطالبانو سره اړیکو جوړولو ته هواداره او مایل شول.

تېر کال چې کله د ملا محمد عمر مجاهد دوفات خبر خپور شو، رهبري شورى چې داهل الحل

والعقد شرعي حيثيت لري، ملا اختر محمدمنصور يې دنوي زعيم په توګه غوره کړ.

منصور صاحب په داسي حساس وخت کي دطالبانو دمشر۔ په توګه وټاکل شو، چي د داعش وسله والو دهيواد په ځينو برخو کي سر راپورته کړی ؤ، خلګ يې په يو اوبل نامه ځورول، بندي کول او شهيدول، اسلام يې يوازي په داعش کي حصر کړی ؤ، له ځان پرته نور مسلمانان يې مشرکين اومرتدين بلل، افغان ولس له داعشي۔ وسله والو ډير زيات کړيده، منصور صاحب داعشي وسله والو ته استازي واستول او ورته ويې ويل چي تاسو څه غواړئ؟، که واقعا مو هدف دکفارو او دهغوی دلاسپوڅي رژيم دنابودئ او داسلامي نظام د قيام وي، راشئ داسلامي امارت غيړي ته، ځکه اسلامي امارت دهمدې ستر هدف لپاره دوې لسيزي وړاندي پاځون کړی، ډيري قرباني يې ورکړي، ستونزي يې ګاللي او مهمه داچي په عملي ډول يې اسلامي نظام نړی ته وښود.داعش نه يوازي داچي د طالبانو غوښتني ته يې مثبت ځواب ونه وايه، بلکي طالبان يې غلامان او ګمراهان وبلل او پرطالبانو يې حملې وکړې، طالبانو په ځوابي بريدونو کي داعش له ډيرو سيمو وشاړه او خلګ يې دداعش له شر څخه خلاص کړل، لنډه داچي دمنصور صاحب په قيادت کي طالبانو د داعش په ټکولوسره د ډيرو زياتو وينو د بهيدو او ديوې لويې فتنې مخه ونيوله.

منصور صاحب دمجاهدينو په نامه دهغو اختطافګرو او داړه مارانو مخه هم ډب کړه چي له يوې خوا يې خلګ دپيسو لپاره برمته کول اوځورول او له بلې خوا يې د طالبانو ترمنځ نفاق رامنځته کاوه.دې وروسيتو کي امريکايې خپروني وال ستريټ ژورنال دامريکايې چارواکو دااعتراف نشر کړ چي په ځينو ولايتونو کي دامريکا جاسوسي اداري سي آی اې او د کابل ملي امنيت دطالبانو پرضد د ملا رسول اخند په مشري داختطافګرو سره د وسلو او پيسو مرستي کړي دي اودوی يې هڅولي چي دطالبانو ترمنځ اختلافات ايجاد کړي.

دمنصور صاحب يوه بله ځانګړتيا داوه چي دافغانستان ټول وروڼه قومونه يې پر ځان راټول کړل، تاجکو، ازبکو، ترکمنو، هزاره وو اونورو اقليتونو نه يوازي داچي دنوموړي قيادت ومانه، بلکي عملا يې دمنصور صاحب په قيادت کي دلويديځ دنيواک پرضد مقاومت شروع کړ.

دمنصورصاحب شجاعت:

امريکا چي پرافغانستان يرغل وکړ دپيل په مهمواهدافو کي يې دکندهار هوايې ډګر ؤ، دهوايې ډګر مسؤليت دمنصور صاحب په غاړه ؤ، د مځکي له لاري دګل اغا شير زي اوخالد پښتون په مشري وسله والو پر هوايې ډګر حملې کولې، کوردينات يې امريکايې ځواکونو ته ورکول او دهوا له لاري بي ۵۲، ايف ۱۶ الوتکو او کروز توغنديو دشپې او ورځي هوايې ډګر دحملو لاندي نيولی ؤ، د کندهار هوايې ډ ګر هغه ځای ؤ چي پرافغانستان د يرغل له پيل څخه بيا دکندهار تر سقوط پوري د طالبانوځوار پياوړی دفاعي سنګرؤ، د کندهار د هوايې ډګر اهميت په دې کي ؤ چي دکندهار داشغال دروازه وه، که همدا هوايې ډګر پرې ښودل شوی وای، د يرغل په لومړی اونۍ کي به کندهار دسقوط له خطر سره مخامخ شوی وای. منصور صاحب ددې هوايې ډګر مسؤل او عمومي قوماندان ؤ چي په ډير شجاعت او جرئت سره يې دوې مياشتي پرله پسې د شپې او ورځي ددې ځای ساتنه وکړه.

دمنصورصاحب دتقوي يوه بېلګه:

منصور صاحب خپلي کورنۍ ته دامارت په چارو کي هيڅ ډول رول نه ؤ ورکړی، وروڼو او ډيرو نږدې خپلوانو يې دغربت ژوند کاوه. يو ملګري راته

دمنصـور صـاحب د ورور کیسـه کولـه، چـي منصـور صاحب ته ډیر پـه غوسـه ؤ، ویـل یـې: دی (منصـور) زموږ حال ویني چي سترږي یـو او لاس مـو تنـګ دی، موږ د یوځـه مرستي غوښتنه ځني و کـړه، خـو ده (منصور) راته وویل: وروره! دا څومره مال چي زما په تصرف کي دی، ته پوهیږي چي دانه دپلار ځخـه پـه میراث راته پاته شوی دی اونه هـم زمـا شخصي- مـال دی، دا دبیت المـال مـال دی نـو لـه دې مـال څخـه نـه کومـک درسره کـولای شـم او نـه بـه دمرسـتي تمـه راڅخه کوې.

د منصور صاحب په مشري د طالبانو پـه پـوځي لیکـو کـي پـه لنـډ وخـت کـي داسي نظـم، قـوت او دقوماندې فعال مرکز رامنځته شو چي پـه سـبب یـې طالبـانو ډیـر سـیمي، پـه لسـهاوو ولسوالی او حتـی دکندوز ستر ښار د دښمن لـه ګوتـو وایسـت اوخپلـه ولکه یې پرې ټینګه کړه.

منصـور صـاحب دطالبـانو تحریـک د یـو قـوي جګړ ییز ځواک سربیره په یو فعـال سـیاسي حرکـت هـم تبـدیل کـړ، د پـوځي فعالیـت ترڅنـګ یـې پـه سیاسي ډګر کي هم داشغال دختمیدو، داسلامي نظـام دنفاذ او دیو بسیا افغانسـتان لپـاره یـې ډیـري هڅـي وکړې، منصور صـاحب دطالبـانو تحریـک د یـومنظم حکومت په ډول تیار کړ، مسولیتونه، دنـدي او دکـار طرز العملونه یې داسي ترتیب کـړل چـي ډیـر وخـت وروسته به هم د طالبانو نظام دګډ وډۍ ښکار نشي.

د منصـور صـاحب پـر فعالیـت او لیاقـت دمقابل طرف اعتراف:

اوباما وویل منصور صاحب یې ځکه په نښه کړ چي په اصطلاح دسولي په مخ کي خنـډ ؤ، پـرایتلافي ځواکونو او افغان عسکرو یـې سختي حملې تنظیـم کړي وې او په راتلونکي کي هم یو لوی خطر ؤ.

د افغانستان دچارو د وتلي امریکـایي څیړونکـي بارنټ روبین په وینا منصور په دې وجه نـه دی پـه نښه شوی چي د سولي په وړاندي خنډ ؤ، د منصور د په نښه کیدو لوی علت داوه چي منصور کابـل کـي پرامریکایانو د یو ډیر لوی برید پلان درلود.

منصـور صـاحب دامـارت د نیابـت پرمهـال او وروسته چي کله داسلامي امارت د زعیم پـه حیـث وټاکل شو، دزمان او مکـان لـه سـتونزو، تهدیـدونو او کړاونو سره داسي مقابله وکړه چي په هـیڅ یـو مـورد کي هـم داسلام او هیـواد لـه لویـو ګټـو تېـر نشـو، د امارت خپلواک موقف یې وساته، دښمن ته یـې ثابتـه کړه چي ترځان تیریدای شو، خو تر علیا مصالحو او خپلواکی تیریده نشو زغملای.

منصور صاحب داسي رهبر ؤ چي دخپلي مبارزې دپیاوړتیا او پراختیا لپـاره یـې هـر ډول قربـانی تـه ځان چمتو کړی ؤ، سترپاوي، سفرونه او کړاونـه یـې پرځان منلي وو، آن تردې چي په کرایې ټیکسي- کـي ګرځیده، خو له خپل مسیر ځخه نه پرشا کیـده، پـه غرونو او ریګونو کي اوسیده، خو دنورو فرمایشونه یې نه قبلول.

د ملا اختر محمد منصـور پـه مشري د طالبـانو خوځښت په لنډ وخت کي په مختلفـو محـاذونو کـي ډیـر وځلیـد، نومـوړی ډیـر خیـرک، مـدبر، مشـوره اخیسـتونکی، ښـه غـوږ نیـونکی، حلـیم، شجاع او د مشرتابه د ډیرو ښو صفاتو څښتن ؤ، که پـه لنـډوییې ووایو نو ملا اختر محمد منصور صاحب هم د سـولي سړی ؤ هم د جګړې، هم یې سنګر ټینګ او قوي کړی ؤ او هم یې دفتر فعال ساتلی ؤ.

د جهاد او علم د ځلانده ستوري

مولوي محمد رستم حنفي ژوند لیک

لیکنه: مجاهد

شهید مولوي محمد رستم حنفي د ملک حبیب الله خان زوی د ملک عبدالقادر خان لمسی په قوم نورستاني او القریشي- د افغانستان دنورستان ولایت د دوآب ولسوالۍ د کلم د سیمې د شهیداء کلي اوسېدونکی په کال ۱۳۸۵ هـ ق کې یې په دینداره او علم دوسته کورنۍ دې فاني دنیا ته سترګې وغړولې.

تعلیم

شهید مولوی صاحب محمد رستم حنفي ابتدایي دیني تعلیم د خپل کلي د یو سپېڅلي عالم عبدالقادر څخه پیل کړچې تر دیارلس کلنی پورې یې دغه د تعلیم او تربیې سلسله جاري وه. وروسته دخپل مشفق او دین پرست والد صاحب په هدایت د لوړو زدکړو لپاره مولوی صاحب عبدالرزاق ته ولیږل شو چې مولوی عبدالرزاق د ګزین په مولوی صاحب سره شهرت درلود.

د شهید مولوی صاحب محمد رستم حنفي والد محترم اګر که خپله عالم نه وو خو د علم او د علماو سره یې زښته زیاته مینه درلوده له همدې کبله یې غوښتل او دا یې یو ارمان وو چې خپل دغه لایقه ځوی په دیني علومو سمبال کړي او دجامعي لپاره یې مصدر د خدمت د وګرزوي.

شهید مولوی صاحب هم د خپل والد محترم په دغه ارمان پوه وو او په ډیر شوق سره یې د مولوی عبدالرزاق سره دیني زدکړې ته دوام ورکړ.

په جهادي بهیر کې ونډه

کله چې یرغلګرو او وحشي- اوروسیانو د داخلي ګوډاګیانو او لاسپ پوڅو خلقیانو او پرچمیانو په مرسته په ګران هیواد افغانستان باندې کرغیړن تجاوز وکړ او د افغانستان جهاد پروره علماو د دوی پر ضد د جهاد فتوای ورکړه او د جهادي مبارزې اعلان یې وکړ په دغه وخت کې شهید مولوی محمد رستم حنفی د اولسو (۱۷) کالو وو. چونکې مولوی صاحب ګزین د خپلې سیمي یو مخور او مشر وو نو د وخت د تقاضا مطابق د خلکو لخوا جهادي قیادت هم ده ته وسپارل شو.مولوی ګزین خپله جهادي مبارزه پراخه کړه په همدغه اساس یې د نوموړي شهید والد محترم ملک حبیب الله خان یې د جهاد عمومی قوماندان وټاکه . نوموړي ملک حبیب الله خان د غربي نورستان په سیمه کې په جهادي مبارزه پیل وکړ نو له هم هغه وخت څخه شهید مولوی رستم حنفی د خپل پلار په قیادت کې جهادي بهیر کې شامل شو او په ډیره زړورتیا او دیانت سره یې دغه سپېڅلې مبارزه پرمخ بوتله.

پاتې دې نه وي چې د نوموړي شهید والد محترم ذهن او قامت ټول د جهادي مبارزې سره برابر وو قوي، زړوره، او د جګ قامت انسان وو له همدې کبله په خلکو کې د حبیب الله خان دراز په نوم سره شهرت درلود. د همدغه قوی جسامت او جهادي ذهنیت په اساس حبیب الله خان په ډیر کم وخت کې وکولی شول چې جهادي مبارزه ګړندی کړي چې له کبله یې په ډیر کم وخت یې د دوآب ولسوالی فتح او جهادي مبارزه یې د لغمان ولایت د علینګار ولسوالی ته وغزوله.

هجرت

اګر چې د شهید مولوی صاحب کورنی هجرت نه دی کړی وجه یې داد ه چې غربی نورستان یوه غرني او لرې پرته سیمه ده چې هیڅ کله هم د فاسد رژیم د ځواکونو تسلط وربانـدې نـدی راغلـی حتـی چـې د لغمان بعضې مجاهدین دغه سیمې ته هجرت کاوو.

اما خپله شهید مولوی صاحب ګاوندي هیواد پاکستان ته د لوړرو دیني زدکړو لپاره هجرت وکړ. او د پاکستان د چارسدې د

مشهورې مدرسې دارالعلوم اسلامیه چارسده ځخه پیل کړ. د یوه کال د تیریدو ځخه وروسته یې د مردان د سعادت دارالعلوم طورو کې داخله واخیسته. تر ځلورمې درجې پورې یې درسونه همدلته وویلې او بیا کوهستان ته ولاړ او هلته یې د داسو په سیمه کې په دارالعلوم اسلامي امینیه کې خپلو درسونو ته ادامه ورکړه. بیا د مانسهرې بټګرام تاکوټ ته ولاړ او د سیمې د مشهور عالم مولانا شهزاده سره شاګرد شو چې د یو څه درسونو د لوستلو ځخه وروسته یې د مردان سعادت دارالعلوم ته راوګرزیده او د مشهوره عالم مولانا غلام محبوب سره پاتې فنون ولوستل. بیا د صوابی دارالعلوم تعلیم القران شاه منصور ته د چیکسر مشهور عالم ماهرالمعقولات مولانا عنایت الله چیکسری د معقولاتو د تدریس لپاره راوستلی شو نو مولوی صاحب محمد رستم حنفی هلته تکمله ولوستله. همدغه کال کې ورسره د امارت اسلامی ځنې مشران هم ورسره همدرسه و لکه شهید اختر محمد عثماني وغیره. اومولوي رستم حنفي صاحب بیا ضلع سوات اجمیر ته ولاړ او د مولانا محمد صدیق سره یې وړه دوره وکړه. او د همدغه کال په رخصتیانو کې یې د افغانستان د علماو په قطار کې مشهوره څهره حضرت شیخ الحدیث محمد نعیم (المعروف کوڼ اخندزاده صاحب) رحمه الله سره د پیښور د بوړډ په سیمه کې د ضیاء المدارس په مدرسه کې تکراراً وړه دوره وکړه.

شهید حنفي صاحب په کال ۱۹۹۵ میلادی کې د سیمې د مشهورې دیني اداري دارالعلوم حقانیه ځخه د فراغت سند ترلاسه او د فضیلت دستار یې په سر کړ.

د جهادي مبارزې دوهم پړاو

چې کله مولوی صاحب په دارالعلوم حقانیه کې دوره کوله نو په همدغه کال د مرحوم امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریک ظهور وکړ. مولوی صاحب چونکه د تحریک د شروع ځخه د مخه د ختیزو ولایتونو د طالبانو د اهل سنت والجماعت د تنظیم د موسسینو ځخه وو او د نورستان او لغمان ولایتونو د اهل سنت والجماعت صدر هم وو. نو د تحریک د شروع کیدو سره د شوری مجلس یې وغوښت او د یوه هیئت په صورت کې یې قندهار ته سفر وکړ. او د امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله سره یې ملاقات وکړ. او چې کله بیرته راغی نو شوری ته یې دقیق معلومات ورکړل. نو شوری متفقه توګه د اسلامي تحریک ملاتړ اعلان کړ.

د مدرسې د دستاربندی ځخه سم دستي وروسته پر ځای د دې چې خپل کور ته ولاړ شي د قندهار په لور په تشکیل کې ولاړ. او په قندهار کې د ملا صاحب په هدایت په یوه تشکیل کې نیمروز ولایت ته ولاړ. هلته له څه وخت تېریدو وروسته د دښمن له خوا تهاجمي عملیات وشول. چې د سحر د لمانځه په وخت جګړه پیل شوه چې له کبله یې د ننګرهار ولایت مشهور عالم مولوي عزت الله عارف او مولوي یحیی په شمول ډیر ملګري شهیدان شول. او حنفی صاحب زخمي شو. چې د علاج لپاره د بلوچستان صوبې کوټې ښار ته منتقل کړی شو. او د تداوی ځخه وروسته تر دې وخته پورې جنوبي ولایتونه فتح شوي وو. نو له همدې کبله خوست ولایت ته راغي او بیا د هغه ځای ځخه په بیلا بیلو وختونو کې د جګړې اول خط ته د ملګرو د تربیت او مورال لوړولو لپاره چهارآسیاب او نورو خطوطو ته ته تلو. بیا له دې ځای ځخه بیرته قندهار ته ولاړ. او هلته د کنړ او د لغمان او نورستان د نمایندګی مشري یې کوله. او کله نا کله به مرحوم ملا صاحب د مشورې لپاره هم غوښت .

چې کله د مشرقی ولایتونو او د کابل د فتح هڅه پیل شوه نو شهید مولوی صاحب رستم حنفی د شهید ملا بورجان په مشری د مجاهدینو په کاروان کې شامل شو او د کابل تر فتحې پورې د مجاهدینو سره اوږه په اوږه په جهادي مبارزه کې بوخت وو.

دندې او وظایف

چې کله د افغانستان اسلامي امارت مجاهدینو کابل د الله تعالی په فضل او مرستې سره فتح کړ شهید مولوی صاحب رستم حنفي د شهر سازی او مسکن وزیر وټاکل شو. او چې کله دغه وزارت د فواید عامې په وزارت کې مدغم شو مولوی صاحب رستم حنفي د فواید عامې د وزارت دوهم معین مقرر شو او د اسلامي امارت د واکداری تر اخره پورې په هم دغه دنده کې پاتې شو.

د وزارت د مهمې دندې د سرته رسولو سره سره مولوی صاحب به کله کله د ملګرو د احوال پرسی او مرستې لپاره اول خط ته

هم ورته او ملګرو او مجاهدینو ته به یې د جهادي امور په رابطه عالمانه وینا وې او توصیې کولې. او د جهاد په فضایلو به یې تاثیر لرونکې ویناوې ورته اورولې.

د صلیبیانو پر ضد جهادي مبارزه

د میزان په ۱۵ مه کال ۱۳۸۰ لمریز کې کله یرغلګرو صلیبیانو د وحشي امریکایانانو په مشرۍ زموږ په ګران هیواد افغانستان باندې ناوړه تجاوز وکړ. شهید مولوی صاحب رستم حنفي د یوه تکړه مجاهد په څیر د جهاد په ړومبۍ لیکه کې ودریده او بیا جهادي مبارزې د دوام لپاره خپل پلارني ټاټوبي نورستان ته ولاړ. او له سره یې خپله جهادي مبارزه په ډیر شجاعت او زړورتیا پیل کړه. خپل ملګري یې د جهاد لپاره منظم کړل او وخت په وخت یې پر دښمن تعرضي عملیات وکړل.

د شهید مولوی صاحب او د هغه د ملګرو په شجاعت او د الله تعالی په مرستې په نورستان کې جهادي بهیر ژوندی او ګرندی شو چې وارخطاء دښمن د مجاهدینو د ځپلو لپاره څو څو وارې پر مجاهدینو باندې وحشیانه بمبار وکړ. چې د نورستان د شوک کلي هغه بمبارچې په نتیجه کې یې د هغه سیمه ۳۰ تنه عام وګړي شهیدان او ګڼ شمیر نور یې ټپیان کړل د یادولو وړ ده. خو الله تعالی هر ځل مولوی صاحب د دښمن له عملیاتو روغ او رمټ وساته.

په کال ۲۰۱۱ لمریز کې مجاهدینو د دو آب په ولسولی کې د شهید مولوی صاحب رستم حنفي په مشرۍ د یادې ولسوالی د نیولو لپاره قوي عملیات پیل کړل چې په نتیجه کې د دوآب ولسوالی د مجاهدینو لخوا فتح شوه وروسته بیا وارخطاء دښمن بمباري وکړه چې له کبله یې لسګونه ملکیان شهیدان او ټپیان شول او نوموړی مولوي صاحب هم پکې په سر باندې زخمي شو. چونکې په سیمه کې د علاج او معالجې لپاره خاص تدابیر نشته نو د مولوی صاحب د سر زخم په سرطان بدل شو. لکه څرنګه چې د نورستان د ولایت د جغرافیوي جوړښت له کبله د انتقال اسباب هم د نیست سره برابر دي د مولوی صاحب په ټپونو باندې تقریباً دوه کاله تیر شول. بلاخره دهمدې مرض له امله د فبروری په ٦ مه کال ۲۰۱۲ میلادي کې د دوشنبې په ورځ د رب ذوالجلال سره د ملاقات په سفر روان شو او خپل روح یې خپل اصلي څښتن ته وسپاره. انا لله و انا الیه راجعون

د مولوي د جنازې لمونځ د پاکستان په مردان بخشالي سیمه کې د نوموړي د ورور شیخ الحدیث مولوي محمد خالد صاحب په امامت اداء او همالته د هجرت په دار کې خاورو ته وسپارل شو.

د نوموړي اړوند یوه کرامتي خبره دا وه چې په یاد تاریخ کله چې په دوه بجو مولوی محمد رستم حنفي له دې فاني دنیا څخه سترګې پټې کړې او په ۷ بجو ماښام یې د جنازې د مانځه د آداء کولو نیته او وخت وټاکل شو نو په دومره کم وخت کې په دومره زیاته اندازه علماو، طالبانو، مجاهدینو او عامو خلکو ګډون وکړ چې تصور یې نه کېده.

خصوصیات او خوږې خاطرې

الله تعالی مولوی صاحب ته ډیر ښه صفات ورکړي وو چې یو څو یې په لاندې ټکو کې د یادولو وړ دي.

۱: صبر او استقامت

۲: تقوی او حلم

۳: سخاوت او میلمه پالنه

۴: شجاعت او بهادري.

۵: ملګرو سره په ورین تندي مخامخ کېدل.

٦: همیشه د ملګرو د انسجام او اتحاد په فکر کې کېدل.

۷: د اختلافاتو څخه ډډه کول او ملګرو ته په دې رابطه توصیه کول.

۸: همیشه په حق باندې ودرېدل.

۹: عاجزي او انکساري.

۱۰: په ملګرو کې محبوبیت او مقبولیت

د یادولو وړ ده چې شهید مولوی صاحب محمد رستم حنفي دری ورونه، یوه کونډه، دوا زامن او دری لوڼې شاته پریښودې. خدای تعالی دې د شهید جهادي او علمي خدمتونه په خپل دربار کې قبول کړي، روح دې ښاد او یاد دې تل پاتې وي.



لیکنه: موسی فرهاد 2016 د مي 29

د طالبانو دمشر د شهادت په اړه څو ناویلي حقایق!!...

۷ورځې مخکې د امریکا یوې بې پیلوټه الوتکې د ډیورنډ کرښې ته څېرمه د طالبانو هغه مشر په نښه کړ چې ۱۱ میاشتې وړاندې د دغه جهادي غورځنګ أمیر ټاکل شوی و.

ملا أخترمحمد منصور چې تر۱۱میاشتني أمارت وړاندې د طالبانو د اسلامي حرکت د مؤسس أمیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد نائب ؤ ؛ د هغه د مړینې د خبر تر افشاء کیدلو څو ورځې وروسته طالبانو هغه خپل أمیر ونوماوه.

نوموړی په داسې وخت کې د طالبانو امیر شو چې ګمان کیده طالبان د ټوټه کیدلو له انتهایي ستر چیلنج سره مخ ول ، خو ښاغلي منصور په ښه جرأت ، لوړ بصیرت او قائدانه صلاحیت سره نه یوازې داچې طالبان یې د پاشل کیدلو له خطر څخه وژغورلای شول ؛ بلکې تحریک یې نور هم متحد او په سیستماتیک شکل مضبوط کړ ،

هغه داچې— :

په لنډ ګند وخت کې یې د کورنیو اختلافاتو ، او د داعش په بڼه د نړیوالو او سیمیزو استخباراتي جالونو ډېرې عمیقې دسیسې شنډې کړې ،

—د خپلو جنګیالیو لیکې او جګړئیز پلانونه یې داسې تنظیم کړل چې د جنګ پوهانو له نظره طالب اوس د یو برلاسي وسلوال ځواک په توګه تصور کیږي . چې اغیز یې د سیاست په میدان کې ښه جوتیږي ،

—ښاغلي منصور د طالبانو تحریک ته داسې اداري آډانه تیاره کړه چې تعمیر او دفتر لرونکي جوړ نظامونه یې هم مقابله نشي کولای ، که أحیاناً له کوم مشکل سره مخ کیږي ، نو په څو ساعتونو کې یې د هغو ظوابطو او اصولو په بنا چې نوموړي ورته پرې ایښي ؛ په ډېره آسانۍ سره حل کولای شي چې ښه بیلګه یې دا اوس اوس د هغه وژنه او د نوي ځایناستي ټاکنه ده.

—د کارپوهانو له نظره ملا اخترمحمد منصور د طالبانو په تحریک کې داسې یو مشر ؤ چې تقریباً له همه جانبه اړخونو څخه په ټول پوره قائد ؤ.

نوموړي د نړیوالو او سیمیزو کړیو د سیاسي او نظامي فشارونو په وړاندې د خپل تحریک له بنسټیزو مواقفو څخه داسې دفاع وکړه چې که په دقیق ډول ورته وکتل شي ؛ نو هم یې خپل ولس د کابل د رژیم په پرتله ، له طالبانو څخه راضي کړ ، هم یې د سیمې د هیوادونو د اندیښنو په رابطه هغوی ته د پوهاوي او قناعت موندلو زمینه سازه کړه . او په مجموع کې یې ټولو هغو بې پرې نړیوالو ته ؛ چې په اشغال کې د امریکایي ائتلاف ملګرې نه دي ؛ د خپلې داعیې د برحقه ثابته ولو قناعت ورکړ ، له همدې ځایه وه چې ډېریو هیوادونو له طالبانو سره په مستقیم او غیر مستقیم ، علني او غیرعلني توګه د رابطو او اړیکو ساتلو لړۍ پیل کړې.

او دا کار يې د اشغالگرو قوتونو او د کابل رژيم لپاره خورا انديښمنه وونکی ؤ ، ممکن همدا لامل بـه وچې پـه ډېره لوړه کچه يې د ترور هڅه وشوه . او هغه يې د يو لـوړ پـلان لـه مخې د بې پيلوټه برید په نتيجه کې ترور او له منځه یووړ.

له دې هرڅه سره سره اوس چې د مرحوم منصور د شهادت پيښه رامنځ ته شوه ، ډېري داسي پوښتني هم ورسره رامـنځ تـه شوي چې بې ځوابه پاتي دي ،

اشغالگر او د کابل رژيم او په مجموع کې د اشغالگرو په ډالرو متمويله ميډيا له موقع نه په اسـتفادې هڅـه کـوي چـې د ناوړه تبليغاتو له لاري حقايق له خلکو پـټ کـړي ، ځيـنې هغـه کارونه چې د ملا اخترمحمد منصور د وژني پر مهال رامـنځ تـه شوي ؛ دوی غواړي چې هغه يې په ناسم ډول د خلکو په اذهـانو کې ترسيم کړي ، ولې حقيقت داسي نه دی ، که پـه ژوره توگـه وکتل شي ؛ هغه لا د طالبانو پر اسـتقلال ، حقانيـت ، اصـالت او خپلي برحقي مبارزې ته د هغوی پر ژمنتيا دلالت کوي.

پوښتني داسې مطرح کيږي چې:

– ۱څرنگه ملااخترمحمد منصور په پاکستان کې په نښـه شو ؟ ، ۲- هغه څنگه پاکستاني جوازکاغذ ونه ترلاسه کړي وو؟ ، ۳- پر گډه پوله پرتو هيوادونو ته يې د څه لپاره او څنگـه سـفر کاوه ؟ ، ٤- آيا هغه په دومره ساده شکل له يوه نـه بـل ځـای تـه سفرونه کـول ؟ ، ٥- د نومـوړي لـه شـهادته وروسـته د هغـه پاسپورت څنگه روغ پاتي و؟ ، په داسې حال کې چې مـوټر يـې په کامله توگه ويجاړ و ، ٦- آيا رښتيا هم نوموړی ايران ته تللی ؤ ، که تللی د څه لپاره ؟ ، ۷- نوموړی امريکايانو څنگه او د چا په مرسته کشف کړ ؟ ، ۸- منصور ولي د خپل امنيت سره دومره بې پـروا و ؟ ، ۹-آيـا د منصـور پـه شـهادت سره بـه د طالبـانو د دښمنانو هغه هيلي او توقعات پوره شي چې دوی يې اټکل کړی ؟..

زه فکر کوم چې دا ډول پوښتني د ډېرو خلکـو پـه اذهـانو کې گرزي راگرزي ، او د طالبانو دښمنان بيا په ډېر شور او زور سره د خپلي ميډيا په مټ دغه پورتني پوښتني د طالبانو لپـاره د شرم وړ گڼي او دا د هغوی په زيان بولي ، چې گويا پـر طالبـانو چې د کابل د رژيم کوم اعتراضات دي؛ هغـه د دوی د مشرـ لـه شهادت سره لا پسې رښتيا ثابت شـول . ولي چـې نومـوړی پـه پاکستان کې د امريکا لخوا په شهادت ورسيدی

خـو زه فکـر کـوم چـې حقيقـت د دې بـرعکس دی ، د دې لپاره به زه د څه مؤثقو مالوماتو پر بنا د پورتنيـو پوښـتنو د يـوه جامع ځواب د موندلو هڅه وکړم ترڅـو دغـه بـرعکس حقيقـت واضح شي.

د پوښتنو ځواب

لومړی داچـې منصـور څنگـه پـه پاکسـتان کـې پـه نښـه شو، مطلب دا چې د نوموړي اوسيدل په پاکسـتان کـې تثبيـت شو، دا حقيقت دی چې پر هغه باندي بريد پـه داسي منطقـه کـې وسـو چـې هغـه گـډه پولـه گڼلـه کيـږي ، او پـه دې ۱۸سـوه کيلوميتره طويله کرښه کې د دواړو غاړو د اوسيدونکو اوښتل را اوښتل هيڅ نوي خبره نه ده ،

بلکي زه دا وايـم چـې پـه دې سره دا هـم ثابتـه شـوه چـې ملامنصور او د طالبانو نور مشران چې پاکسـتان يـا کـوم بـل هيواد ته ځي ؛ هلته هغسي نه اوسي لکه څنگـه چـې يـې د دوی دښمنان تعبيروي ،

ولې چې هغوی پرته له کـوم پروتوکـول او پرتـه لـه کـوم سرکاري تضمينه د يو عام افغان مهاجر په توگه خپل ژوند کـوي ، او خپلي ضروري چاري پرمخ بيايي ، چې دا حقيقـت د منصـور د شهادت له سناريو څخه ښه جوتيږي ،

ملامنصـور پخپلـه پـه يـوازې سر د افغانسـتان د جنـوبې حوزې له کومي نامالومي سيمي څخـه حرکـت کـوي ، د تفتـان سرحدي ښار ته ځان رسوي ، له هغه ځايه بيا د کرايـي پـه مـوټر کې په ۱۳۰۰ روپۍ ځان ته ۱ سيټ نيسي او په لاره کې پرته له څه ويري او خطره بې لـه کـوم محافظـه ۲ سـوه کيلـومتره اوږد سفر کوي ،

نو له دې نه دوه ټکي خورا ښه جوتیږي یو داچې هغه ځومره جرأتمند سړی دی ، څومره بې آلایښه او بې تکلفه ژوندګي کوي ، په داسې حال کې چې د نورو نظامونو ډېر عادي چارواکي هم د ملت د بودیجې په ضایع کولو سره په ډېر شاهانه انداز سره تګ راتګ کوي ، خو د طالبانو مشر- د لاري په ټیکسي موټر کې په ۱۳روپۍ د ځان لپاره یو سیټ انتخابوي او بیا سفر کوي ،

دویم دا ورڅخه جوتیږي ، چې که چیري د کوم هیواد له استخباراتي یا عامه سرکاري ادارو سره یې روابط لرلای نو نن به یې په داسي عادي او خطرناک شکل سره سفر کولو ته اړتیا نه پیدا کیدله ، بلکې په سرکاري پروتوکول او یا لږ تر لږه په سرکاري تضمین کې خو به یې د امنیت سفر کولای شوای!..

—بله پوښتنه داچې هغه څنګه پاکستاني پاسپورت او تذکره ترلاسه کړي ، دا هم پخپله ښیي چې نوموړی د هغو زرګونو عامه افغانانو په څیر د پاکستان جواز کاغذونه ترلاسه کړي وو چې افغان مهاجر یې له پاکستانی حکومت څخه د هغوی د ورځني ژوند د ضرورتونو پخاطر ترلاسه کوي

—بل داچې ملااخترمحمدمنصور په ډېر عادي شکل د خپلو مجاهدینو د کاري ضرورتونو د پوره کولو او د هغوی د جهادي چارو د تنظیم او څارنې په موخه همیشه په دې لټه کې وو چې له یوه ځایه بل ځای ته سفرونه وکړي ، هغه داسې یو رهبر نه و چې په آرامه په یوه مسترحه مانۍ کې مرفه ژوند وکړي.

—بله خبره دا چې هغه واقعاً ایران ته تللی ؟ او د څه لپاره تللی و؟ زما د مالوماتو له مخې ملااخترمحمد منصور ډېر وخت د هیواد په جنوبي حوزه کې اوسیدی ، وخت نا وخته به یې د هیواد نورو برخو ته هم د تګ راتګ اړتیا پیدا کیدله ، ترڅو د خپلو مجاهدینو کارونه له نږدې تنظیم کړي خو چونکه د امنیتي مشکلاتو په خاطر دغه تګ راتګ یې آسانه نه وو ، نو دی اړ و چې له مختلفو لارو څخه کار واخلي ، په همدې خاطر د طالبانو یوې سرچینې ماته وویل : چې منصور یو یا دوه ځله له افغانستان سره ترلي د ایران او څو ځله د پاکستان سرحدي پولي په ترانزیټي ډول کارولي وي مطلب دا چې هري سرحدي پولي ته د دې لپاره اوښتی چې له هغه ځایه د دښمن د نه پاملرنې په وجه نسبتًا په آسانه ځان بلې سیمې ته ورسوي د بیلګې په توګه یوځل له جنوب څخه د ایران پولي ته واوښتی او له هغه ځایه بیا د پاکستان پولي او بیا له پاکستانه بیرته د خپل هیواد بلې هغې برخې ته اوښتی و چې هلته یې د تګ اړتیا وه، نو زه فکر کوم چې دا هم د منصور په فعّال او ویښ شخصیت دلالت کوي . زه فکر نه کوم چې دا دې د هغه او یا د ده طالب غورځنګ په اړه قابل اعتراض ټکی وي.

—بله پوښتنه دا وه چې پاسپورت یې څنګه روغ رمټ پاتی و ؟ اصلاً دا خبره حقیقت نلري چې پاسپورت پر همدې موقع ترلاسه شوی دی ، بلکې پاسپورټ د وژنې تر صحنې وروسته په تفتان کې له هغه دفتره ترلاسه شوی چې د نوموړي د دخولي او خروجي مراحل انجام سوي ول ، که تاسو فکر کړی وی چې پاسپورټ پر یو میز پروت دی بیا عکس تری اخیستل شوی او وروسته بیا خواله رسنیو ته اوچت شوی دی.

—بل دا چې منصور څنګه او د چا په مرسته کشف سو ،؟ آیا دا دومره ستره کارنامه ده چې امریکایی او له هغوی سره ترلي استخبارات ورباندي وویاړي ، ؟

زما د مالوماتو په آساس چې له طالبانو سره له نږدي سرچینو څخه ترلاسه شوي ؛ هغوی وایي چې منصور صاحب وخت نا وخته سمارټ تلیفون کاراوه ، ترڅو له خپلو ملګرو سره یې اړیکې آسانه او عاجلې وي . نو د سمارټ تلیفون او یا دې ته ورته نورو وسایلو په کارولو سره نن سبا ډېر عادي خلک هم کولای شي چې یو څوک تعقیب او پیدا کړي . زه فکر کوم چې دا هم د امریکایي استخباراتو چنداني د ویاړ وړ لاس ته راوړنه نه بلله کیږي.

دا بیله خبره ده چې د داسې وسایلو کارول د ښاغلي منصور لپاره مناسب و کنه ؟ ځیني کتونکي دا د هغه لا پرواهي ګڼي ، خو طالبان بیا دا هم د خپل مشر جرأت او له خپلو قاتدانه فعالیتونو سره د دلچسپۍ لامل بولي . ترڅو دا خطر هم پر ځان ومني خو جهادي فعالیت یې نیمګړی پاتې نه وي.

—دا چې د ملااخترمحمدمنصور په وژلو سره به د هغوی د دښمناتو خصوصاً امریکا او د کابل رژیم هغه توقعات پوره شي چې دوی یې په وژني پوري ترلي وو؟

زما په ګمان دا به د هغوی د یوې خیالي نقشې او مطلق تصور پرته بل هیڅ نه وي ، ځکه چې طالبان اوس نړۍ پیژندلي چې هغوی له نورو ډلو او نظامونو سره زیات توپیر لري ، طالبان یو ایډیالوژیک جوړښت دی ، چې د خپلو دیني معتقداتو او فکري مسیر لپاره مبارزه کوي ، د هیواد د آزادۍ په لاره کې خپله جهادي مبارزه نه یوازې ملي مسئولیت بولي ، بلکې عقیدوي او ایماني وجیبه یې هم ګڼي . او په دې لاره کې هر راز قربانۍ کمې ګڼي ، چې دا دعوه یې په دا یوه نیمه لسیزه کې دنیاوالو ته پخپل عملکرد سره هم ثابته کړې ده.

نو که څوک داسې فکر کوي چې د هغوي د مشرانو ، یا نورو افرادو په له منځه وړلو ، یا بندي کولو او یا نورو ډول ډول فشارونو سره به هغوی تر خپل هدف تیر او د دښمنانو غوښتنو ته به تسلیم شي : دا ناشوني بریښي ، طالبانو د خپلې اوږدې مبارزې په لاره کې خورا لوړې ژورې ګاللي چې ترټولو غټه پېښه یې د ۲۰۰۱م کال په اخیر کې د امریکایانو یرغل او د طالبانو نظام له منځه وړل ، او په شمال کې د امریکایانو تر نظارت لاندې د دوستم لخوا د زرګونو طالبانو قتل عام ، دا راز کیوبا ، بګرام ، پلچرخي کندهار او په پاکستان کې په بیلابیلو خفیه او ښکاره زندانونو کې د زرګونو طالبانو بندي کول ، او د کابل رژیم لخوا د ډېرو طالبانو غیرقانوني اعدامونه او دا راز د دوی د ډېرو نورو لوړپوړو قومندانانو او افرادو شهادتونه یې ښه بېلګې دي چې هغوی څوک په زور او ظلم سره له خپلې داعیې څخه اړولی نشي او نه یې خپلو غوښتنو ته تسلیمولای شي.

که څه هم امریکایي ولسمشر اوباما د منصور له وژلو سره سمدستي اعلان وکړ چې نور دوی خپل هدف ته نژدې شوی ، ممکن طالبان به د سولې په توم د دوی او د کابل د رژیم غوښتنې ومني ، خو دوې ورځې وروسته یې چې د طالبانو وضعیت درک کړ ، په جاپان کې یې یوې غونډې ته وویل چې ممکنه نه ده طالبان دې له خپلې تګلارې پرشا شي

او د کابل ګډ رژیم هم اوس دې نتیجې ته رسیدلی چې دوی نشي کولای طالبانو ته د زور او جبر له لارې ماته ورکړي ، دوی مجبور دي چې په سالمه او منطقي لارو چارو باندې باید غور وکړي.

لنډه دا چې:

اکثره وخت ، د وخت پیښې هم مهاله نشي فیصله کیدلای ، بلکې زیاتره پیښې داسې وي چې شفافیت او ریښتینولي به یې تاریخ ثابتوي.

د طالبانو د مشر ملااخترمحمد منصور پیښه هم یوه له هغو ده چې ، د تاریخ په پاڼو کې یې خپل تاریخي کردار ډېر مثبت ریکارډ کړ ،

تاریخ به ضرور ولیکي چې منصور هغه څوک و چې د هیواد د آزادۍ او د الله تعالی د دین د اعلاء په خاطر یې ، ډېر هغه څه تر شا کړي وو چې نړیوال اشغالګر یې د معاملې په کولو سره په بدل کې ورکولو ته تیار ول ، مګر هغه بیا هم خپل مسیر او خپل الهي مسئولیت ته دومره ژمن پاتې شو چې دمرګ سناریو ته یې ټول خلک هک پک او حیران پاتې شول.

پای



مردی که امارت را همچو سلف اش نگهداشت

نویسنده: انجنیر محمد نذیر تنویر

در شرایط افغانستان، رهبران عموماً نقش کلیدی داشته اند، تاجائیکه در عدم موجودیت شان؛ امور کشوری و تنظیمی را، دستخوش انواع بحران گردانیده و روش کاری ایشان را زیر سوال برده است. حتی در جریان های غیر اسلامی، این عدم موجودیت رهبران، باعث بطلان خط فکری ایشان نیز گشته؛ که احیاناً برای حضور سیاسی دوباره، لباس عوض نموده و در عدم هویت ضمیر اصلی شان، در صحنه حضور یافته اند، که مصداق این سخن در جریان های کمونیستی و سیکولار به وضاحت مشهود است.

اما در اسلام؛ در حالی که «رهبران رسالتمند» و افراد نخبه، نقش مؤثر در پیشبرد امور را داشته اند، مگر هیچگاه مسیر «خط فکری» را تحت شعاع قرار نداده اند. و اگر چنین اتفاقی نیز رخ داده باشد، نقص در رهبران بوده، که از مسیر «اسلام اصیل» عدول نموده اند. ایشان خود و مقلدین شان را در تاریکی های گمراهی زیر واژه اسلامی مسیر داده و فقط با شعارها و القاب بزرگ اکتفا ورزیده اند که در عدم موجودیت رهبر؛ احزاب شان یا ازهم پاشیده و یا در وابستگی حل گشته اند.

بلی! خالق هستی برای بندگانش می آموزد که افراد می آیند و می روند، اما «شریعت الهی» ماندگار است، ولو این فرد الگوی بشریت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم باشد:

وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ الْخُلْدَ ۖ أَفَإِن مِّتَّ فَهُمُ الْخَالِدُونَ ﴿الانبیاء:۳۴﴾

)ای محمد (او پیش از تو برای هیچ بشری جاودانگی قرار ندادیم؛ پس آیا اگر تو بمیری آنان جاویدان خواهند ماند؟!

اینجاست که الله)ج (مقام و منزلت محمد صلی الله علیه وسلم را نسبت به تمامی بشریت مشخص ساخته و وی را در مثال می گنجاند، که اگر وی بمیرد، دیگران چگونه جاودانه خواهند ماند؟ و در ضمن این دستور الهی صریحاً خط بطلان بر اندیشه های یهود و نصارا، صوفیزم و رافیضم (نسبت به حیات عزیر)ع(، عیسی)ع(، خضر-و امام زمان تخیلی) را نیز می کشد!

اندیشه ناب اسلامی و خط مشی آن، روی همین مطلب در سوره {الزمر:۳۰} و {آل عمران:۱۴۴} تأکید دوباره شده، که در ادامه این مطلب؛ الله)ج (مسلمانان را مورد پرسش قرار می دهد:

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۚ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ ۚ... ﴿آل عمران:۱۴۴﴾

جز این نیست که محمد پیامبری است که پیش از او پیامبرانی دیگر نیز بوده اند. آیا اگر وی بمیرد یا کشته شود، شما به آیین پیشین خود باز می‌گردید؟

بلی! تأثر و ریختن اشک، تمثیلی از قوت «صله رحم» در درون یک فرد می باشد، که معیار های انسانی و اسلامی وی را ثابت می سازد!

یکی از نشانه های ضعف ایمان یا زوال آن؛ درد نکشیدن و غمگین نشدن از برای دردهای مسلمانان است!

همانطور که غمگین نشدن انسان برای رنج هم نوعانش، نشانهٔ ضعف در انسانیت است، ناراحت نشدن مؤمن برای درد مومنان نیز نشانهٔ ضعف ایمان اوست.

اما رفتن به عقب، و تسلیم زورگویی های دشمن (زیر نام صلح) شدن؛ نه اینکه ضعف در ایمان را نشان می دهد، بلکه زوال ایمان را به اثبات می رساند!

اینجاست که «خالق هستی» رمز ابتلاء در «مشقت» و «آسایش» را در ادامه آیت {الانبیاء:۳۵} بیان میدارد.

زیرا ابتلاء دروازه ای است که هر انسان صادقی باید ازآن عبور کند!

و چرا باید ازین دَر ابتلاء بگذرد؟

تا الله)ج (آنانی را که واقعاً ایمان آورده اند، سره و خالص گرداند! که بعد از این غربال کاری و الک شدن «مجاهد» از «مجاهدنما» است، که کافران نابود می شوند} .آل عمران:۱۴۰-۱۴۱{

بلی! پیروزی مجاهدین راستین در گروی خلوص نیت شان رقم خورده است. زیرا مجاهدین راستین در هردو حالت (یعنی کامیابی و شهادت) رستگار هستند} :التوبه:۵۲{

پس این «ساز وبرگ» کفار؛ این طیاره های بی پیلوت؛ این جنگهای ستارگان و این همه «کش و فش» و هیبت معاندین اسلام؛ چیزی نیست، مگر از برای غربال و الک شدن مؤمنان!

خالق هستی می فرماید:

آیا پنداشتید که می توانید به بهشت داخل شوید، در حالی که الله مجاهدان و صابران شما را متمایز نساخته است!؟} آل عمران:۱۴۲ {و} البقره:۲۱۴{

با خبر!

وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ كِتَابًا مُّؤَجَّلًا ۗ

و هیچ کس جز به مشیّت و فرمان الله نمی میرد. سرنوشتی است مقرّر شده} !آل عمران:۱۴۵{

پس این همه «تأثر» ویا «خوشی» در افراد؛ نسبت به این بنده الله)ج (؛ که همه «هست و نیست» اش را در تجارت خالق اش گذاشت، از برای سنجش معیار ایمان «من و تو» می باشد!

آنانی که با دجال (امریکا)، جشن و سرور ترور یک مسلمان را براه می اندازند، دیر و یا زود، با ایشان یکجا حشر خواهند شدند؛

و آنانی که بر دجال اعتماد نموده و زورگویی های صلح وی را می پذیرند، تا دیر نشده، باید ازین واقعه درس عبرت گیرند؛

و آنانی که در برابر تجاوز و ستم، مجاهدت می نمایند. ازین حادثه درس صبر و استقامت را بیآموزند}هود:۱۱۲ {و بدانند که شهادت، هدیه بزرگ الهیست که نصیب هرکس و ناکس نمی شود!

پس تو ای مرد سنگر و سیاست؛ و تو ای کسی که؛ در مشکل ترین حالات، امور امارت را بدست گرفتی، و با حکمت همچو سلف ات (ملا محمدعمر مجاهد رحمه الله) ازآن پاسداری نموده و آنرا پاک نگهداشتی؛ برتو درود و سلام الله)ج (باد!

این شایستگی را الله)ج (برایت دانست تا با دستهای دجالان عصر، این دنیا را ترک گویی!

خالق هستی شهادت را بپذیرد؛ که چنین مرگ؛ مردن و نابود شدن نیست، بلکه:

چنین مرگ، آزادی انسان از ناتوانایی های دنیاست؛

چنین مرگ، پایان نیک دوره آزمایش است؛

و بلآخره چنین مرگ، طلوع حقیقت کامل است:

قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ۖ قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾

]سرانجام به جرم ایمان کشته شد، و بدو] گفته شد: «به بهشت درآی!» گفت: «ای کاش، قوم من می‌دانستند«

پس شهادت ات مبارک باد؛ ای ملا اخترمحمد منصور!

به یقین جهاد امر الهیست که تا قیامت ادامه خواهد داشت، و آمدن و

رفتن بزرگان و خوردان برآن هیچ اثری نخواهد داشت!

آنچــه اتفــاق مــی ورزد از جانـب الله)ج (ست؛ کـه بـدون شـک سرانجـام اش نیـز خیـر و نیکـی از بـرای مؤمنان و نظام هستی خواهد بود.

اما ویژگی شما باردیگر در تـاریخ اسلام ثبت گردید!

بلی! ویژگـی ثبات و پـایمردی در مسیر الله)ج (در عدم موجودیت رهبران؛ ویژگی یکـه در قـرن اخیـر، اصلاً تـاریخ افغانسـتان در بـین دولتمـردان و احزاب اش شاهد آن نبوده است.

پس بر همچو حرکـت، بـر همچـو اعضا و بر همچو شهامت و روحیـه بـالا؛ کـه در وقـت ازدسـت دادن بهـترین و عزیـز تـرین فـرد تـان، حـریم اخـلاق اسلامی را حفظ داشتید، باید فخر نمود!

درود و سـلام الله)ج (بـر شـما بـاد، ای فرزنـــدان امـــارت اســـلامی و ای مجاهدین راستین راه اسلام!

خالق هستی امیر شهید (منصـور صاحب) و امیر فقید (مجاهـد صـاحب) تان را بیآمرزد، و در جمع شهدای «بدر» و «احـد» ایشـان را حشـر بـدارد، و بـه بازمندگان ایشان اجر و صبر جمیل اعطا نماید، و شما مجاهـدان راسـتین امـارت اسلامی و امیر جدیـد تـانرا توفیـق بیشـتر در صبر و مجاهدت نصیب گرداند!

ای مؤمنان!

صبر پیشه کنید که سرانجام نیـک از بـرای پرهیزگـاران اسـت فَاصْبِرْ ۚ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿هود:۴۹﴾؛

و بدانیـد کـه الله)ج (برخـود لازم دانسته است تـا مؤمنـان را نجـات دهـد كَـــذَٰلِكَ حَقًّـــا عَلَيْنَـــا نُـــنجِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿یونس:۱۰۳﴾

دمسلمانانوپـه روژه نیـولوسره الله جل جلاله پـرملائکوبـاندي فخرکوي

مولانازکریارحمه الله تعالي) ژباړه : م/ ابوالطیب

عن عبادة بن صامت رضي الله عنه قال : ان رسول الله قال یوما وحضرنا رمضان اتاکم رمضان شهربرکة یغشیکم الله فیه فینزل الرحمة ویحط الخطایا ویستجیب فیه الدعا ینظر الله تعالی الي تنافسکم فیه ویباهي بکم ملئکته فاروا الله من انفسکم خیرا فان الشقي من حرم فیه رحمة الله عزوجل.

ژباړه:عبادۀ بن صامت رضي الله عنه فرمایي: یوه ورځ نبي کریم صلي الله تعالي علیه وسلم دروژي میاشتي تـه نـژدي وفرمایل:تاسوته دروژي میاشت راغله ډېره دبرکت میاشت ده،په دي میاشت کي الله جل جلالـه ستاسـو ولـوري تـه متوجه کېـږي ،رحمـت نازلوي.ستاسـودعاوي قبلوي،ستاسـوگناهونه بخښي ،ستاسـوتنافس سـیالۍ تـه گـوري اوپرملائکوبانـدي فخرکوي،نوتاسوخپله ښکي دالله جل جلاله په وړاندي وښایاست بدبخته هغه څوک دئ چي پـه دې میاشـت کـي هـم دالله جل جلاله درحمت څخه محروم سي.

فایده:تنافس ودې ته ویل کیږي چي په نېکوکاروکي یودبل سره سیالي وکړي اوهر یوددې کوښښ کـوي چـي ترهغـه بل زیات دخیرکاروکړي اوخپل فخروښیي، دفخردعوه کـوونکي دې راسي خپـل جـوهردي وښـیي دفخـرخبره نـه ده بلکـي دنعمت دشکریې خبره ده زکه څه هـم دخپـل نااهلیت پـه وجـه څـه نـه سم کـولاي خودکوریـوه ښـځه وویـنم چـي ددې کارډېراهتمام کوي زه ډېرخوشحاله سم دکورکارونوسره بیاهم دورځي پنځلس شل سـیپارې دورځـي تـلاوت کـوي الله جـل جلاله دي یي پخپل فضل سره قبول کړي اودزیات عبادت توفیق دي ورکړي.

هغه امیر

چې طاغوت ترې وېره لرله

حقمل ضیاء

هر هغه مسلمان چې د اسلام په ټولو بنیادي او اساسي اصولو او بناوو، د کلیمې د اعلا لپاره د جهاد، د مظلومو مسلمانانو د ژغورنې، له کفارو د اسلامي ځمکو د ازادولو، د اسلامي امت د وحدت او د اسلامي نظام او خلافت د قیام فکر او عقیده له ځان سره ولري او د دې اهدافو لپاره هلې ځلې کوي؛ د کفارو او د اسلام د دښمنانو له خوا خطرناک، تروریست، دهشتګرد، سولې ته خطر او د دې لایق اعلانیږي چې باید ووژل شي، بندي کړی شي او په هره ممکنه لاره یې مخه ونیول شي.

د پورته اوصافو لرونکو صادقو مسلمانانو او مجاهدینو په منځ کې ځینې خلک داسې وي چې په دوی د مجاهدینو او مسلمانانو وحدت جوړ وي، دوی د همدې ازادي غوښتونکو حرکتونو سر لاري وي، دوی د مبارزو مسلمانانو د روحی تسکین رول ادا کوي، دوي په مسلمانانو کې د ازادی فکر او شعور را پارولی وي او د دښمنانو په وړاندې له نورو مخکې په اول صف کې ولاړ وي نو په همدې سبب له هر چا د مخه د دښمنانو هدف ګرځي.

د شهید امیرالمومنین ملا اخترمحمد منصور) رحمت الله علیه (په شهادت رسول هم د اسلام د دښمنانو د لومړیو اهدافو څخه وو؛ چې په شهادت یې د زماني د لوی طاغوت امریکې د بېلابېلو ادارو مشرانو او چارواکو ښوښې ښکاره کړه او نوموری یې د خپلو شومو او اسلام د ښمنه اهدافو په وړاندې یو لوی خنډ وباله.

شهید امیرالمومنین د خپل اخلاص، صداقت او مدبرانه قیادت په برکت سره وشو کړای چې په ډېره کمه موده د زماني د کنو مشکلاتو او چلنجونو باوجود اسلامي امارت په پښو ودروي، د لوی رب په مرسته مشکلاتو ته د پای ټکی کېږدي، ټول مخلص مسلمانانو او په ځانګړي ډول د مجاهدینو زړونه را خپل کړي، د اسلامي امارت صف متحد او یو منظم کاري تشکیل رامنځ ته کړي، په جهادي ډګر کې د مجاهدینو روحیه لوړه کړي او پرله پسې لاسته راوړنې ولري او بل اخیره د اسلامي امارت د داخلي او خارجي ستونځو په حل بریالی شي؛ دا چې د شهید امیرالمومنین دغه خدمتونه د اسلام د دښمنانو د زغم نه وو نو په همدې سبب دی د دښمنانو ترټولو لوی هدف وګرځېد.

خو د اسلام او اسلامي امت دښمنان دي باخبره وي چې کله به هم د اسلامي قیادتونو په شهادتونو او وژلو سره دوی هدف ته ونه سېږي، مسلمانان به کمزوري نه شي ، خپل وحدت به مات نه کړي، له خپل مسیر به را ونه ګرځي، او کله به هم له خپلې حقې داعیې او په دې لاره کې له قربانیو ستړي او شاته نه شي.

دا عقیدوي صف دی؛ دا په افرادو نه بلکه په عقیده چلیږي، مسیر یې د اشخاصو او قیادتونو په شخصي تفکر نه بلکه د الهی ارشاداتو مطابق ټاکل کېږي؛ نو په همدې سبب که هر څومره قیادتونه هم له لاسه ورکړو پرځای به یې بل ټاکل کېږي او روان مسیرته به ادامه ورکوي.

د امیر المومنین شهادت مونږ ته لویه ضایع، لوی غم او یو لوی درد دی؛ خو دا درد له بل لوري راته یو داسې افتخار دی چې د سباط، اثار، وحدت، مقاومت او پایښت رویحه را کوي زمونږ عهد قوي کوي، دوستان او دښمنان را ته را پیژني، د خپلو مشرانو د صداقت ثبوت راته ورندې کوي او نورو لویو قربانیوته مو چمتو کوي.

په پای کې د لوی رب له درباره امیرالمومنین ته د شهادت قبولي او اعلی جنتونه، ټولو مسلمانانو او د هغې کورنی ته د صبر او په دې غم کې اجر، او د اسلامي امارت نوي قیادت ته د خدمت توفیق او مونږ ته د اطاعت توفیق غوړاو.آمین

موږ تلپاتې ژوند ته په همدغه لاره ورځو!

مفتي ابوياسر

دادغمونو

اودردونو دکې ورځې

دادوحشتونو اوکړاونوتوري شپې يواځې ددې عصر ـ په ترټولو سپيڅلو يواځې نه دي راغلي ،بلکه دبشر دسلسلې سره همداناخوالي دالله جل جلاله دلاري دربښتونو لارويانوسره راروانې اولابه روانې وي ځکه دبنده تقدس اوترفيع په همدغه کړاونو کې ده ،درنو غمونو اوپه قضاء باندي رضاء ددوئ کلکه عقيده ده . قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلاءً؟ قَالَ: " الأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الصَّالِحُونَ، ثُمَّ الأَمْثَلُ، فَالأَمْثَلُ .رواه احمد.سعدرض وايي له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې وپوښتل: په کوموخلگوزيات کړاوونه راځي ؟ راته وي ويل : په انبياو اوبيادامت په نيکوخلگو ،بياهغوئ ته په ورنږدي اوبياپسي ورنږدي خلقوته .

هو! زموږعقيده ده :چې لوی رب دغه ډول امتحانونه په خپلوډيرو سپيڅلواستازو اوپيغمبرانو راوستلي چې موږ ته يې په قرآن کريم کې پرې دادراکړې :

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ [ ]البقرة: ٢١٤]

آيا تاسو گمان کوئ !چې جنت ته به ځئ ؟ اوپه تاسو به دوړاندينيوخلکو [انبياو]حالات [کړاوونه] نه وي راغلي !چې بهرني اوداخلي سختيوکې به راگيروو [اودجهاد په لاره کې به] کړاونو سخت تکانونه ورکړل .تردې چې دوخت پيغمبر اوورسره مؤمنانويه ويل :دالله تعالی نصرت به کله راځي؟ نو لوی رب به ورته وويل :اگاه واوسئ چې دالله تعالی نصرت ډيرنږدي دی.

هو! دالله جل جلاله طريقه هم داسې راغلي : چې داغمونه به په خوښيو بدليږي ،داوحشتونه به له موږ گډه کړي اوتياری به سهارپيري ،سختی به مو په سوکاليو اوشدت به موپه نعمتونو بدليږي ،ان مع العسر يسرا ان مع العسريسرا .

نيستي به مو په شتمنيو واوړي اوبيماری زخمونه اودردونه به ددښمن په برخه شي ،نوربه تکانونه نه خورو ،اوپه دښمن به دمجاهدينو دتوروزلزلي وي . الا ان نصرالله قريب .

ستريپغمبر ابراهيم عليه السلام په همدغه دين باندي اسيرشو دمرگ فيصله ورباندي وشوه،تولوپه يوه اواز ورباندي پريگړه وکړه :قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانْصُرُوا آلِهَتَكُمْ] [الأنبياء: ٦٨] ويې سوځوئ اودخپلو خدايانو غچ ځيني واخلئ !.هغه اورته لويدل مگر صبر اواستقامت يې الهي فيصله داسي نازله کړه قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًاوَسَلامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ] [الأنبياء: ٦٩].

په موسی عليه السلام پسې ـ دفرعون لښکري ورسيدي ورسره خلقو جزعې فزعې پيل کړي چې إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ٦١]موږخوگيرشوو ،مگر موسی عليه السلام داډه و اوويل يې :[ان ربي سيهدين] دريابونه کوڅې کوڅې شول

.فرعون غرق شو اومصر دموسی علیه السلام دملګرو په لاس کې پریووت .

یوسف علیه السلام ځاه کې واچول شو،مګر استقامت اوثبات دمصر تربادشاهته ورسول اوویل به یې : أَنَا يُوسُفُ .... إِنَّهُ مَنْ يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ] یوسف: ۹۰]

دمحمد رسول الله خاتم النبیین په کور دمکې دبدمعاشانو له لوري چاپه وه،هغه راووت غارثورته ولاړ ، مدینې ته یې هجرت وکړ ،جهاد پیل شو ، سختی ګالل کیدې ،مګر لوی رب دفاتح په ډول مکې ته داخل کړ ، هو!بیاهغه ورځ هم راغله چې هر چابه فکرکول چې دامت حالت به څرنګه شي؟ رب العزت یې امت لا متحدکړ ،تردې چې ملګري یې دنړۍ دلویې برخې فاتحان شول ،

بلال ترتیرو لاندې داحد احد ناري وهلې مګر بیایې دکعبې په بام په لوړه غږ داذان کلمې اوورولې . تاتاریانو مو خلافت رنګ کړ مګر بیایې ماته وخوړه اوخپله ډلې ډلې په اسلام کې داخلیدل .

موږ بیاتکراروچې دالله تعالی په سپیڅلو بندګانو به دغمونواودردونو ورځې راځې .دا دالله تعالی یوعادت دی اودالله تعالی عادت تغیرنه خوري وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ تَبْدِيلاً [ ]الأحزاب: ٦٢]

مګر داهم عقیده لرو چې رب وایې :إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ . که مودالله تعالی ددین مرسته کوله الله جل جلاله به مونصرت کوي .

اوکه موږ په دې مسیر نورهم دقوي عزم څښتان شو نودرب الکریم داوعده مو هم په زړه ده : ان ینصرکم الله فلاغالب لکم .که مودالله تعالی ددین نصرت وکړ نوهیڅوک به په تاسو غالب اوبریمن نشي .

موږ بزدله دښمن ته وایو : که زموږ رهبران شهیدان کړئ . که موماشومان ټوټه ټوټه کړئ ، که موځوانان دارته پورته کړئ ،که مو مساجدوران کړئ ،که موکورونه وسوځوئ ،اونورهغه وحشت اوظلم چې تطبیق یې په اولس کوئ ،تاسوبه ددین دابله ډیوه خاموشه نه کړئ .يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ .. .. والله متم نوره ...

ددې سپیڅلي امت دښمنه ! موږ په دې کړاوونو لوړیږو ،تیتیږونه ،موږدحریت اودتل پاتې ژوندنعمتونوته په همدغه لاره ورځو.

زموږ عقیده ده :چې دالله عزوجل دین منصور دی ،ددې لارې هرلاروی منصوردی ،زموږ هرمجاهداوهرطالب منصور دی .

زموږ عقیده ده چې داقافله به منزل اوهدف ته رسیږي : وَمَنْ يَتَوَلَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا فَإِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ (٥٦)

زموږ عقیده ده چې دشیطان ډله به بالاخره ماته خوري . أُولَئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ (١٩)

په اخیرکې وایو چې که دالله تعالی په دین باندې مواستقامت اویقین په برخه و نودابه یادلرو چې ان نصرالله قریب

}إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلاَّ تَخَافُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ {]فصلت: ۳۰.[هغه زلمي چې درب دین مني اوبیاورباندې استقامت وکړي دنصرت ملکې به ورځې اوورته وایې به : چې ویریږئ مه ،غم مه کوئ ! اوهغه جنتونوته په ورتلوخوشحاله شئ چې له تاسوسره یې وعده شوي .

اودمورچل دشاعرصداهم واورئ :

ضاقت فلما استحکمت حلقاتها

فرجـــت وکنت أظنها لا تفرج

کله چې دکړاوونوکړئ تنګې اومحکمې شوې ،مافکر وکړ چې بیابه کله خلاصې نشي مګر وورریدې ،ماتې شو.

کلوړینې پاڼې

مجاهده!

رضوان الله (فیضاني)

مجاهـــده د ملـــت ســـترګې او ځـــان یـــې
تـــه هـــر چاتـــه بـــې انـــدازه قـــدردان یـــې

پـــر تـــا ویـــاړي ســـتا بـــری لـــه رب نـــه غـــواړي
د مـــؤمن ولـــس د هیلـــو ترجمـــان یـــې

اول رب تـــه او بیـــا تاتـــه لـــري تمـــه
د مظلومـــو د زخمـــي زړونـــو درمـــان یـــې

چې د دین په ننګ دې سر لاس کې نیولی
بس پــه دې وجــه پــه هــر مسلمان ګران یـې

حفاظـت دې الله وکــړه پــه هرځـــای کـــې
پـــر کفـــارو بانـــدې تنـــدر د اســـمان یـــې

د تکبیـــر چیغـــه دې ډېـــره هیبتـــي ده
تـه پـه سترګوکـې ازغـی د ټـول جهان یـې

کـــوره غـــدر او خیانـــت درنـــه ونشـــي
لـوی مسـؤول بـه بیـا د حشـر پـه میدان یـې

د زړه ســـر د ســـترګو تـــور د (فیضـــاني) یـــې
تـه ســـاتونکی د قـــرآن عظـــیم الشـــان یـــې

جنتي خیالونه

سید احسان الله الهام

د قلـم څـوکي تـه سـپارل مـي جهـادي خیالونـه
پـه مینـه مینـه راتـه راغلـل جنتـي خیالونـه

غـازي زلمـی راتـه عمـر غونـدي ښـاغلی ښـیي
بلاســـــپېڅلي دي والله دا حـــــماسي خیالونـــــه

سم ورکي ناست یې د حرم د منار سیوري ته یم
نظـر یـې مکـړې څـه کـوي دا څـه کـوي خیالونـه

نـه چـا بللـی نـه ورغلـی نـه ور تللـی شـمه
هلته مي وړي هلتـه مـي وړي هلتـه مـي وړي خیالونـه

تـر کـانو سـخته تـر ګـل نـازک او تـر بریښـنا ګړنـدي
تـر غـرو اوچـت دي دغـازي زلمـي زلمـي خیالونـه

تاند وي هڅاند وي ډیر محتاط احتیاط پـه کـار ور سره
ډیـر ګټـور هـم ډیـر زیـانمن وي د ځـواني خیالونـه

زړګی یې وچ کړې خو سړی له روا ژونده باسي
یـو دنیـاوي بـل شـیطاني او بـل نفسيـ خیالونـه

الهامـه ! ذهـن دي همـیش ورتـه چـوپړ کـي لـره
بـاسي د ظلـم ریښـې بـاسي عمـري خیالونـه

۲۹/۰۵/۲۰۱۶ پکتیا ګردیز

دستورو کمی نشته

نظام کندهاري

د آسمان پر مخ د ستورو کمی نشته
یو که لاړ شي خو د نورو کمی نشته

قرباني به مو جاري وي تر قیامته
د دې پاک دین د غمخورو کمی نشته

د عمر او د منصور پر مسیر درومو
پر دې لار سرونه پلورو کمی نشته

که له بڼ نه خزان یو ګل رانه یوسي
غوټۍ ګل شي ورته ګورو کمی نشته

حضرت شیخ هیبت الله بیعت قبول کړه
د لښکرو دي سمسورو کمی نشته

امارت دي راته شمعه وي روښانه
پتنګان رنګه را اورو کمی نشته

نه مو توري ستړي شوي دي نظامه
د قلم مو هم د تورو کمی نشته

دار

م. حمدي

دار په سر ختل مې أزموده خبره ده
دا نوې پیښه نده داز ړه خبره ده

د حق د وفایون کې هوسېږم شهادت ته
په دار که په زندۍ وي دایوه خبره ده

نعره د اناالحق مې غلې نه شوه لا خوریږي
رسیږم پرې منزل ته دار وره خبره ده

قاتل مې د شهیدو هیلوکله پرې پوهیږي
د دار په سر د نیاز او راز اوږده خبره ده

د دار ځوړند رسن که تور زلفان د حور العین دي
سینګار سینګار جنت بله خوږه خبره ده

سپارښته مې پیغام د انتقام دی هر اتل ته
مرګی په هر چا پور دی دا کره خبره ده

د شهید منصـــور صـــاحب سره دیوه مجلس خاطره

قاري حبيب

د ۱۴۳٦ هـ ق كال د صفر المظفر د مياشتي ۲۴ مه نيته وه، هغه وخت چې لا د مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد د وفات خبره نه وه اعلان شوې او شهيد منصور صاحب تقبله الله د امارت د نا اعلان شوي مشر په حيث دنده اجراء كوله نومړي غوښتل د اسلامي امارت دفرهنگي كميسيون له مسؤلينو، قلموالو،تخنيكي مجاهدينو او ټولو كاركوونكو سره له نږدې وگوري د هغوى كارونو وارزوي،پيشنهادات او خبرې يې واوري او مخامخ ورسره د زړه خواله وكړي.

غرمې ته له څه وخت پاته و چې منصور صاحب د فرهنگي كميسيون د ملگرو مجلس ته تشريف راووړ، فرهنگي مجاهدين يې د احترام په خاطر ولاړ شول، له هر ملگري سره يې په غيږ روغبړ وكړه،د روغبړ له پاى ته رسيدو وروسته دفرهنگي كميسيون محترم رئيس جناب متقي صاحب مجلس پيل كړ لومړى يې هر ملگرى ورته معرفي كړ،او بيايې لنډې افتتاحيه خبرې يې وكړې.

وروسته د ملگرو د انتظار موافق جناب ملا اختر محمد منصور صاحب خپلې خبرې په حمد او صلاة سره پيل كړې. چې مايې ځيني برخې په كاغذ راسره ياداشت كړې چې غواړم دلته يې له تاسو سره هم شريكې كړم.

جناب منصور صاحب په پيل كې له فرهنگي او قلمي مجاهدينو مننه او قدرداني وكړه او دفرهنگي كميسيون كارنامې يې وستايلې،نومړي وويل : لله الحمد زموږ مطبوعاتي او نشراتي كارونه له نظامي جهادي فعاليتونه سره غبرگ او څنگ په څنگ روان دي،دا ستاسو دمشقاتو او اخلاص بركت دى چې دا شعبه په ډيره ښه طريقه فعاله ده،دامارت مشرتابه ستاسو د هريوه ملگري د مخلصانه او دقيق كار قدرداني كوي او له الله تعالى څخه درته پوره پوره اجرونه غواړي.

نومړي وويل : موږ پوهيږو او نړيوال هم پوهيږي چې داسلامي امارت نشراتي فعاليت د امكاناتو په نسبت ډير پراخ او سريع دى،تاسو هر يو په خپل كاري بخش كې داسلامي امارت نماينده ياست او بايد دغه عهده په ښه توگه ترسره كړئ.

لله الحمد د فرهنگي كميسيون په رأس كې ټول اهل كسان دي،چې زموږ وربانـدې اعتماد دى او د فرهنگي كميسيون دمشرانو اهليت ددې سبب دى چې موږ له دې

جهته بیخي مطمئن یو، له همدې امله مو په تاسو ډېره پوښتنه نه ده کړې.

جناب منصور صاحب زیاته کړه : په فرهنګي او نشراتي کارونو کې باید ډېر دقیق واوسو،خپلې رسمي پالیسۍ ته مو باید همیشه پام وي او باید وربانديې پوه واوسو،نن سبا حالت ډېر سخت او همیشه بدلیدونکي دي چې له موږ نه ډېر دقت او هوښیاري غواړي.

نوموړي له دې وورسته د یوشمیر موضوعاتو په اړه لکه روان جهاد، لـه القاعده تنظیم سره د رابطې،د ښځو حقوق او تعلیم،د سولې مذاکرات او یوشمیر نورو موضوعاتو په اړه داسلامي امارت رسمي پالیسي- بیان کړې،چې دملګرو د قناعت سبب شوې، نوموړي له دنیا سره د تعامل په اړه زیاته کړه.

دنیا یا نړیوال حکومتونه ځکه له موږ سره توافق ته نه رسیږي، چې زموږ او ددوی ترمنځ په اساسیاتو او ارزښتونو کې ډېر تفاوت دی، اوسنۍ نړۍ له دین او دینداری ځخه بیلارې شوي ده، او شریعت ته هیڅ عملي اعتناء نلري، په داسې حال کې چې موږ شریعت ترټولو لوړ ارزښت بولو او دهمدې لپاره مبارزه کوو، دنیا له موږ غواړي چې له بعضې شیانو ورتیرشو له ځینو به دوی راتیر شي، دوی شاید راتیر شي ځکه ددوی ارزښتونه خودساخته دي، چې خپله یې جوړ کړي او په خپل یې فسخ کولای هم شي اما زموږ ارزښتونه خو اسماني دي ،موږ هیڅ داسې شی نلرو چې تر هغه تیر شو، مثلا دوی وایي له حدودو، د ښځو له حجاب او ستر یاداسې نورو اسلامي ارزښتونو راتیر شئ، خو آیا موږ له دې شیانو تیریدلای شو؟ ځواب واضح دی چې نه . ځکه همدا زموږ دین دی په همدې مکلف یو دا شیان موږ ته الله تعالی ټاکلي چې موږ یې منسوخ کولای نه شو.

نړیوال وایي چې امارت سخت دریځه دی، باید ووایم چې امارت سخت دریځه نه دی،موږ یوازې په دین ټینګې منګولې لګولې خو داچې نړیوال له دین ځخه پردي شوي نو موږ ورته سخت دریځه ښکارو.

باید ووایم چې د فتنو په دې دور کې همدا په دین اعتصام ددې باعث شوی چې موږ په نړۍ کې یوازې شو،موږ ددنیا په اعتبار یوازې یو مګر دالله تعالی په نزد یوازې نه یو، ځکه الله تعالی له موږ سره دی ، پریږده که دنیا راسره غاړه نه وړي خو موږ به په الله تعالی تکیه کوو،ځیني خلک وایي ستاسو ځواک دومره نه دی چې وطن ونیسئ باید ووایم چې موږ د وطن په نیولو مکلف نه یو بلکې د عقیدې په ساتلو مکلف یو.

په افغانستان کې روان جنګ زموږ یو ضرورت دی، هیڅوک له مستۍ جنګ نه کوي هرڅا ته ارامي خوند ورکوي، خو زموږ هیواد ته کفار راغلي دي،زموږ هیواد یې اشغال کړی او اسلامي نظام یې رانړولی دی،دوی زموږ په مفکوره کارلري،زموږ نسل راګمراه کوي او د داسې کفري فعالیتونو په وړاندې په موږ جهاد فرض عین دی.

جناب منصور صاحب نورې هم خورا په زړه پورې خرګندونې وکړې، نوموړی په سره سینه ژور غږیده او دمسائلو په اړه یې د مشرتابه دریځ خورا واضح بیاناوو، د نوموړي له خبرو وروسته د فرهنګي کمیسیون مرستیال مرحوم حقاني صاحب او ورپسې داسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد صاحب خبرې پیل کړې او بیا د مجلس هر ملګري ته د خبرو نوبت ورکړل شو ترڅو که د امارت د

پالیسۍ، کړنو او فعالیتونو پـه اړه کـوم نظـر، پیشـنهاد یـا اعتراض لري په ازاده فضاء کې يې مطرح کړي.

ددې مجلس په جریان کې د جناب منصور صاحب پـه لاس کـې قلـم او کتابچـه وه چـې د هـر ملګـري خـبره یـې یاداشتوله او بیا به یې که ځواب یا وضاحت غوښت په ډیر خوږه ژبه یې ورته ځواب وایه.دا مجلس دا برخه ځکه ډیـره جالبه وه چې د بیان پوره ازادي وه او د عمري حاکمیت یـوه ژوندۍ بیلګـه چـې د مجـس هـر عـادي ګـډونوال کـولای شوای خپل انتقاد یا وړاندیز په پوره جرأت سره د خپل امیر په وړاندې ووایي او د منصور صاحب لخوا یې هم په ویـړه تنده هرکلی کیده او واضح ځوابونه ورته ویل کیدل.

د مجلس په وروستۍ برخه کې منصور صاحب یو ځل بیا لنډې خبرې وکړې چې مـا لـه ځـان سره داسـې یاداشـت کړې دي.

منصور صاحب وویل: اسلامي امارت زموږ او تاسـو ګډ کور دی،کوښښ به کوو چې دا کور محفوظ وسـاتو او څوک یې رانه کنډو نه کړي،له تبعیض او تعصب نـه بایـد ځان وساتو،خپل منځـي اتحـاد، اطاعـت، تقـوا، اخـلاص او داعیالو اصلاح ته باید ډیر متوجه واوسو،ځیني ملګـري لـه تقوا څخه دا معنی اخلي چې یوازې په پیسو او مالي چـارو کې له حرامو ځان وساتي، خونه، تقـوا بایـد پـه هرڅـه کـې ولرو، له خپلو ملګرو سره په چلندکې،په خپـل جهـادي کـار او ټولو کړنو کې باید تقوا ولرو.

ددې په ځای چې دبل پـه عیبونـو پسـې وګرځـو بایـد خپل عیب ته متوجه واوسو، داسلامي امـارت پالیسـۍ یـا ځیني کړنې که درته ناسمې ښکاري په وړاندې یې په پټـو سـترګو اقـدام مـه کـوئ لړترلـږه یوځـل ځـان تـه موضـوع معلوموئ او وضاحت غواړئ.

د اسـلامي امـارت نائـب پـه پـای کـې لـه ملګـرو د خصوصي دعاګانو غوښتنه وکړه نوموړي وویـل سـخت او درونډ مسؤلیت ورلغاړې دی او ټـول ملګـري بایـد ورتـه د استقامت او اصلاح دعاګانې وکړي.

د مجلس له پای تـه رسـیدو وروسـته مـو لـه جنـاب منصور صاحب سره خدای پاماني وکړه. نوموړي په همـدې یوه مجلس زما غوندې د ډیرو ملګرو په زړونو کې ځان تـه ځای پیدا کړی و، نوموړی عاجز، ارام او په عیني حال کـې باثباته او جرأتمند سړی بریښـیده چـې د زعامـت لپـاره یـې فوق العاده وړتیا درلوده.

د نوموړي هجر که څه هم خورا دروند دی مګر دا چې د الله تعـالی تقـدیر دی مـوږ وربانـدې راضي یـو، هغـه سپیځلی انسـان واقعا یوازې د شهادت له مرګ سره جوړېده له الله تعالی څخـه ددې لـوی ویـاړ قبولیـت ورتـه غـواړم، موجوده زعیم جناب اخندزاده صاحب ته هم دده غونـدې تـر وروستۍ سلګۍ پورې ثبات او شریعت تـه د التـزام دعـاء کوم او الله تعالی ته سوال کـوم چـې د دښـمنانو لـه اذیـت څخه یې محفوظ وساتي.

آمین یارب العلیمن

د أميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور رحمه الله دشهادت
او نوي أمير دتعين په اړه داسلامي امارت د رهبري شورى اعلاميه

الحمد لله الذي بيده ملكوت كل شيء وإليه ترجعون. وإذا قضى أمرا فإنما يقول لـه كـن فيكـون. ولـه الحمد في السمـوات والأرض وعشيا وحين تظهرون. يخرج الحي من الميت ويخرج الميت من الحي ويحيي الأرض بعد موتها وكـذلك تخرجـون. ونشـهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ونشهد أن سيدنا محمدا عبده ورسوله الأمين المأمون، والجوهر المكنون . اللهـم فصـل وسـلم عـلى سيدنا محمد وعلى آله وصحبه الذين هم فيها عند الله راغبون وبعد.

قال الله تبارك و تعالى: مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَمَن يُؤْمِن بِـاللَّهِ يَهْـدِ قَلْبَـهُ وَاللَّهُ بِكُـلِّ شَيْءٍ عَلِـيمٌ ١١ وَأَطِيعُـوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ١٢ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ١٣ التغابن

ژباړه: هيڅ مصيبت د الله له حکم پرته نه پيښيږي او څوک چې پر الله تعالى ايمان راوړي د هغه زړه ته بـه هـدايت وکـړي او الله په هر شي پوره عالم دی. د الله اطاعت وکړئ او دپيغمبر اطاعت وکړئ خو که مخ واړوئ نو زموږ په پيغمبر يوازې ښکاره تبليغ کول دي. له الله تعالى پرته بل خدای نشته او مؤمنان دې پر هماغه الله توکل وکړي.

رضينا بالله ربا و بالاسلام دينا و بمحمد صلى الله عليه وسلم نبيا ورسولا.

د افغانستان اسلامي امارت په الهي قضاء د رضا اومحکم ايمان له روحيې سره اعلانوي چې د افغانسـتان داسـلامي امـارت زعيم أميرالمؤمنين ملا أختر محمد منصور تقبله الله د ۱۴۳۷ هجري قمري کال د شعبان المعظم د مياشتې په ۱۴ مه نيټـه د شـنبې پـه ورغ چې د ۱۳۹۵ لمريز کال د جوزا له لومړۍ نيټې سره سمون خوري د کندهار دريگستان اود بلوچستان نوشکي ته څېرمه په يـوه سرحدي سيمه کې د امريکايي طاغوت د بې پيلوټه الوتکې په بريد کې د شهادت لوړ مقام ته ورسيد. انا لله و انا اليه راجعون.

د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شورى د اسلامي امارت ټولو منسوبينو، مجاهدينو، افغان مجاهد اولـس، عـام اسـلامي امت او په ځانگړې ډول د شهيداميرالمؤمنين تقبله الله غمجنې کورنۍ ته د تسليت مراتب وړانـدې کـوي او د الله تعـالى لـه دربـار څخه شهيد اميرالمؤمنين تقبله الله ته د شهادت د قبوليت، الهي ديدار او جنت الفـردوس خواسـت کـوي، الله تعـالى دې پـه شـهيد منصور صاحب ورحميږي او د نومـوړي کورنۍ، قربيانو، مجاهدينو او اسلامي امارت ته دې په دې ستر مصيبت ، صبر جميل، اجر عظيم او نعم البدل ورنصيب کړي. آمين يارب العلمين.

مؤمنانو ورونو! تاريخ شاهد دی چې د اسلامي امت حقپال خوځښتونه هميشه د رهبرانو د شـهادت، وفـات يـا دغسـې نـورو درنو مصائبو سره مخامخ شوي دي؛ خو دغسې درنو مصائبوهيڅکله د ايمان د خاوندانو پښې نه دي لړزولي، بلکې هغـوی يـې نـور هم مضبوط کړي او په لوړ عزم او ټينگ ايمان سره يې تر وروستۍ مرحلې د برحقې مبارزې لار پاللې ده.

(وكأين من نبي قاتل معه ربيون كثير فما وهنوا لما أصابهم في سبيل الله وما ضعفوا وما استكنوا والله يحب الصابرين (١٤٦(

شهيد أميرالمؤمنين تقبله الله د الله تعالى بنده او د حق د لارې مجاهد و، نوموړي خپله فريضه په ډېره ښه او وياړمنه توګه ترسره کړه، د مرګ تر ساعته په خپل ايمان او برحق عزم محکم پاتې شو، د اسلامي امارت د زعامت په لنډه موده کې يې د عزم، ايمان او سرلوړۍ داسې کارنامې تاريخ ته پرېښودې چې هميشه به ټول مسلمانان په خاص ډول مبارزين او مجاهدين وربانديې وياړي.

نوموړی د زمان او مکان له ټولو سختو او امتحاني شرايطو سره سره نه خو د نړيوال طاغوت مکررو غوښتنو او ګواښونو ته تسليم شو، نه يې د چا د تحميلي او تزويري پروسو پيشنهادونه ومنل، نه له ګواښونو وويريد او نه يې هم داخلي او خارجي توطيو، دسيسو او فشارونو عزم متزلزل کړ.

شهيد منصور صاحب دامارت د زعامت وظيفه کټ مټ د خپل سلف اميرالمؤمنين ملا محمد عمرمجاهد رحمه الله په شان ترسره کړه تر دې چې له همدې وياړمن دريځ، قوي ايمان او توکل سره د يوه جهادي سفر په جريان کې د الله تعالى ديدار ته ورغی.

څرنګه چې د امام يا امير له شهادت يا وفات وروسته د مؤمنانو لپاره د نوي مشر نصبول د مسلمانانو په غاړه لازمي فريضه ده، د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شورى چې د ګڼ شمير علماء کرامو، د تفسير او احديثو د استادانو، متدينو سياست پوهانو او جهادي تجربې د خاوندانو معتبره شورى ده د يوه مجلس په دائرولو سره چې د اهل الحل و العقد له شرعي اعتبار څخه برخمن و، وروسته له ژور فکر، تدبر او هر اړخيز ديني او جهدي مصلحت سنجولو يې محترم شيخ الحديث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب د اسلامي امارت د نوي زعيم په حيث د شورى د ټولو اعضاء په اتفاق تعين او د شرعي امير په حيث يې ورسره بيعت وکړ، همدارنګه محترم الحج ملا سراج الدين حقاني صاحب

دمرحوم اميرالمؤ منين ملامحمدعمرمجاهدرحمه الله زوی محترم مولوي محمد يعقوب صاحب يې د مرستيالانو په حيث تعين شول.

د اسلامي امارت رهبري شورى خپل ټول مجاهدين او عام متدين ولس په دې شرايطو کې وحدت اوتوکل على الله ته رابولي، مجاهدين دې هيڅ تشويش نه کوي، لله الحمد موږ ناصر او پالونکي رب لرو، د اسلام او جهاد ډيوه چې دا څوارلس پيړۍ روښانه وه ترقيامته به همداسې ځلانده وي، د لله تعالى دشکر ځای دی چې موږ د اسلامي امارت په نوم يو جوړ او سالم نظام لرو، ددې نظام د ساتلو، پاللو او ټينګښت لپاره دا ټولو ديني وجيبه ده چې له نوي اميرالمؤمنين محترم شيخ الحديث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب سره بيعت وکړي او د نوموړي تر مشرۍ لاندې خپلې برحقې مبارزې ته دوام ورکړي.

همدارنګه د اسلامي امارت مشر تابه او رهبري شورى له ټولو مسلمانانو نه هيله کوي چې سر له سبا د دريو ورځو لپاره دشهيد اميرالمؤ منين ملا اختر محمد منصور رحمه الله د فاتحې او دهغه مبارک روح ته دثواب بښولو په نيت د قران کريم ختمونه وکړي. والسلام

دافغانستان داسلامي امارت رهبري شورى

١٨/٨/١٤٣٧هـ ق---- ٥/٣/١٣٩٥هـ ش ـــ ٢٥/٥/٢٠١٦م

بیعتونه او تعزیتونه

د اسلامي امارت د فرهنګي چاروکمیسیون لخوا د تسلیت او بیعت اعلان

د اسلامي امارت فرهنګي چاروکمیسیون مشرتابه دخپلو ټولو مسئولینو، غړو، کارکونکو او اړونداتو په نماینده ګي د شهید امیرالمؤمنین ملااخترمحمد منصور (رحمه الله) د وياړمن شهادت په اړه د امیرالمؤمنین درنې کورنۍ، دافغانستان مسلمان ولس، ټول اسلامي امت، په سنګر کې ناستو مجاهدینو اود اسلامي امارت نوی زعامت او ټولو مخلصو مسلمانانو ته د زړه له کومې تسلیت وايي، الله تعالی دې د منصور صاحب شهادت قبول او منظور کړي، کورنۍ او ټولو خواخوږو ته دې يې صبرجمیل او اجر جزيل ورپه نصيب کړي.

همداراز د فرهنګي کمیسیون مشرتابه، دخپلو ټولو مسئولینو، کارکونکو او ټول کاري پرسونل په نمایندګۍ داسلامي امارت له نوی زعیم امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب سره دالله په کتاب او د نبي کریم صلي الله په سنتو، دخلفای راشدینو په تګ لاره او د اهل السنة والجماعة د منهج له مخې په ټولو معروف کارونو،په خوښۍ او سختۍ کې په سمع او طاعت سره بیعت کوي، اخندزاده صاحب اومرستیالانوته له الله تعالی څخه توفیق غواړي او دخپلې هر راز همکارۍ او فرمانداري اطمنان ورکوي. والله علی مانقول وکیل

داسلامي امارت دصحت کمیسیون له خوا دتسلیت او بیعت پیغام:

بسم الله الرحمن الرحیم.(ولاتقولوا لمن یقتل في سبیل الله اموات، بل احیاء ولکن لا تشعرون) البقرة

زه مولوي محمد اسحق دصحت کمیسیون د مسؤل په حیث د دې کمېسیون د ټولو غړیو په نمایندګي د خپل شهید رهبر امیرالمؤمنین ملااخترمحمد منصور(رحمه الله) دشهادت له امله د اسلامي امارت ټولو مشرانو، مسؤلینو ، ټولو مجاهدینو او په ځانګړې توګه د قدرمن شهید درنې کورنۍ ته د زړه له تله دتسلیت عالي مراتب وړاندي کوم ،او د عا کوو چې الله تعالی دي دشهید کورنۍ او ټول مسلمه امت ته صبرجمیل او شهید منصورصاحب رحمه الله ته په فردوس جنت کې لوړ درجات ورنصیب کړي

خوشحاله یو چي الله جل جلاله دنعم البدل په راکولو سره زموږ د تاریخي قربانیو کور د نوي زعیم په نصب دسپېڅلي شریعت په چوکاټ کي دننه محفوظ کړ.

زه د صحت کمیسیون په نمایندګي د اسلامي امارت له نوي ټاکل شوي زعیم امیرالمومنین شیخ الحدیث والقران هبة الله اخندزاده (حفظه الله)سره خپل بیعت اعلانوو اوژمن یو چي په ټولو شرعي امورو کي به دامیرالمومنین امرته لبیک وایو او خپل جهادي خدمت ته به د دوی تر لارښوونو لاندي دوام

ورکوو. لوی خدای دي موږ ټولو ته ددېن په لاره کې دلازیاتو خدمتونو توان راکړي. امين

داسلامي امارت دیتیمانو او معلولینو اداري لخوا دتسلیت او بیعت اعلان:

بسم الله الرحمن الرحیم.(من المؤمنین رجال صدقوا ماعاهدوا الله علیه، فمنهم من قضی نحبه ومنهم من ینتظر، ومابدلوا تبدیلا.

د یتیمانو او معلولینو اداره دخپلو ټولو مسولینو،غړیو او همکارانو په نمایندګي د شهید رهبر امیرالمؤمنین ملااخترمحمد منصور(رحمه الله) دشهادت له امله د اسلامي امارت د رهبری شوری ، ټولو مشرانو، مسؤلینو ، ټولو مجاهدینو او په ځانګړې توګه د قدرمن شهید درنې کورنۍ ته د زړه له تله دتسلیت عالي مراتب وړاندي کوي ،او د عا کوو چې الله تعالی دي دشهید کورنۍ او ټول مسلمه امت ته صبرجمیل او شهید منصورصاحب رحمه الله ته په جنت کې عالي مقامات ورنصیب کړي.

همدا راز د خپلي اداري په نمایندګي د اسلامي امارت له نوي ټاکل شوي زعیم امیرالمومنین شیخ القران والحدیث هبة الله اخندزاده صاحب(حفظه الله) سره خپل بیعت اعلانوم اوژمن یم چې په ټولو شرعي امورو کي به دامیرالمومنین امرته لبیک وایو او خپل جهادي خدمت ته به د دوی تر لارښوونو لاندي دوام ورکوو.

لوی خدای دي دوی ته داسلامي نظام د قیام لپاره اوږد ژوند او موږ ټولو ته ددېن په لاره کې دلازیاتو خدمتونو توان راکړي. امين

د خوست ولایت د والي مولوي محمدعلي جان،مرستیال والي مولوي زین الله او دولایتي کمیسیون دمشر مولوي محمدانور له لوري د تسلیت او بیعت اعلان

بسم الله الرحمن الرحیم. الحمدلله والصلوةوالسلام علی رسول الله.قال الله تبارک وتعالی:کل من علیهافان ویبقی وجه ربک ذوالجلال والاکرام.

وبعد!د افغانستان مظلوم ملت اومجاهد اولس غیرت مند او با شهامته زلمي مجاهدین، دافغانستان اسلامی امارت ټولو مشرانو، کشرانو، کونډو، یتیمانو، شهیدانو کورنیو ته عموماء او دشهید عالیقدر امیرالمومنین ملااخترمحمد منصور تقبله الله کورنۍ ته خصوصا د خپل ګران امیرد شهادت په اړه د تعزیت او تسلیت مراتب وړاندی کوو.

دخداوند لایزال له درباره څخه ورته د لوړو درجاتوغوښتنه کوو، کریم اومهربانه خدای دي د عالیقدر امیرالمومنین کورنۍ او امت مسلمة ته صبرجمیل اواجرجزیل نصیب کړی.

کریم اومهربانه خدای جل جلاله دي نوی زعیم اوامیر داسلامی امارت له پاره نعم البدل وګرزوي.

لا یزال رب دې د ده شهادت دافغانستان دمجاهدولس له پاره خصوصا او د مسلمة امة له پاره عموما دلویو او سترو فتحو اوکامیابیوذریعه وګرزوي آمین.

ټول امت مسلمه ته دا څرګند حقیقت دی چی د تاریخ په اوږدو کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له زمانې څخه چې کله جهاد فرض شو،تر دې وخته پوری له کفری نړۍ سره د مسلمانانو مبارزه اومقابله روانه ده.

دا جهادي بهیر دومره انګیرلی شو چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم او خلفاء راشدینو تر قیادت وروسته د عمر بن عبد العزیز تر دورې پورې د مسلمانانو غیرتونه، فداکاری اوهجرتونه له تاریخ اولس څخه پټ نه دي.

په اوسني عصرکې د افغانستان داسلامي امارت دمجاهدینو قربانی د مخکنیو(اسلافو) دمسیر د ښه تعقیبولو بهترینه نمونه او بیلګه ده.

د عالیقدر امیرالمومنین شهادت زمونږ عقیده او مبارزه نشي۔ کمزوري کولای، ځکه چې یو خو شهادت د اسلام په قاموس کی مرګ نه دی بل دا چې زمونږمبارزه د یو سوچه هدف له پاره ده نه داشخاصولپاره.

په اخیر کې د خپل نوی امیر امیرالمومنین شیخ الحدیث والتفسیرهبت الله اخوند زاده صاحب سره د زړه له کومي بیعت کوو او وعده کووچی حتی المقدور به پوره اطاعت کوو.

د لوګر د عمومي مسئول ملارحمت الله،د لوګر دمجاهدینو،علماء کرامو او عامومسلمانانو له لوري د تسلیت او بیعت اعلان

بسم الله الرحمن الرحیم

زه ملارحمت الله(نجیب حاجی) دلوګرولایت مسئول دځان اودلوګر ولایت دمجاهدینو، علماء کرامواو عامو مسلمانانو په استازیتوب لومړی دشهیدامیرا لمؤمنین ملااختر محمد منصورصاحب تقبله الله دشهادت په مناسبت دده کورنۍ، داسلامي امارت منسوبینو اوټولومسلمانوته د زړه له کومي دتسلیت مراتب وړاندي کوم.

الله جل جلاله دې د ده شهادت په خپل عظیم دربار کې قبول کړي.

دوم داسلامي امارت له نوي زعیم جناب شیخ القران والحدیث مولوي هبت الله اخوندزاده صاحب حفظه الله سره دپورته یادوشویواشخاصوپه استازیتوب سره د بیعت اعلان کوم.

په اسانۍ اوسختۍ کې به ترڅوچې توان اوطاقت کې مووي، پوره او په اخلاص سره اطاعت کوم.

له الله جل جلاله څخه په ټولو شرعي امورو کې ورته کامل توفیق غواړم.

دپکتیا ولایت د محترم والي صاحب له خوا دځان، دپکتیا د ټولو مجاهدینو اوعامومسلمانانو په استازیتوب دتسلیت او بیعت اعلان

السلام علیکم ورحمته الله وبرکاته!

زه دپکتیاولایت له پاره د اسلامي امارت والی، دخپلوټولو مسئولینو اوهمکارانوپه استازیتوب دشهید رهبرامیرالمؤمنین ملااخترمحمد منصورتقبله الله دشهادت په مناسبت ټولو مجاهدینوته او خاص کر د قدرمن شهیددرنې کورنۍ ته د زړه له تله د تسلیت مراتب وړاندي کوم.

همداشان دپکتیاولایت د ټولو مجاهدینو او عامومسلمانانو په استازیتوب له نوي ټاکل شوي زعیم امیرالمومنین شیخ الحدیث و التفسیر شیخ هبت الله اخوندزاده صاحب سره د زړه کومي په اسانۍ اوسختي کې داسلامي شریعت په چوکاټ کې بیعت اعلانوم، په ټولو فرمانونو کې به یې دتوان ترحده اطاعت کوم.

د اسلامي امارت د استخباراتو د اداري د تسلیت او بیعت پیغام

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد ! فقد قال الله تبارک وتعالی فی القرآن العظیم :مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا . الأحزاب : ۲۳

د افغانستان اسلامي امارت د استخباراتو د اداري مسؤل معاونین او ټول ملګري د امیرالمؤمنین شهید ملا اختر محمد منصور تقبله الله د شهادت په مناسبت د افغانستان اتل، قهرمان، اومجاهد اولس، ټول امت مسلمه او په ځانګړي ډول د شهید امیرالمؤمنین تقبله الله ویرجنې کورنۍ ته د تسلیت مراتب وړاندې کوي او د الله تعالی له دربار څخه شهید امیرالمؤمنین ته د جنت الفردوس غوښتنه کوي، الله تعالی دې د امیرالمؤمنین تقبله الله قرباني، تکلیفونه او د اسلام په لار کې کړي خدمتونه قبول او منظور وګرځوي الله جل جلاله دې د امیر المؤمنین د سپېڅلو وینو د هر ځاڅکي په بدل او برکت سره په ګران شهید پروره هیواد کې سپېڅلی اسلامي نظام حاکم کړي او الله تعالی دې د نوموړي کورنۍ، دوستانو، مجاهدینو،

رهبري شورا غړو او د اسلامي امارت ټولو قدرمنو مشرانو ته په دې ستر مصيبت ، صبر جميل او اجر عظيم او نعم البدل ورنصيب کړي. اناالله وانااليه راجعون .

او همداراز د افغانستان اسلامي امارت د استخباراتو د اداري ټول منسوبين د نوي زعيم (عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ الحديث والتفسير هيبت الله اخندزاده صاحب) سره خپل بيعت په لاندې ټکو اعلانوي .

نبايعو اميرنا خادم الاسلام و المسلمين اميرالمؤمنين حفظه الله المتين معلم القرآن و الحديث الشيخ الفاضل هيبت الله اخندزاده صاحب على السمع والطاعة فى العسر و اليسر والمنشط والمكره وعلى اثرة علينا و على ان لا ننازع الامر اهله الا ان نرا كفراً بواحاً عندنامن الله فيه برهان وعلى ان نقول بالحق اينما كنا لانخاف فى الله لومة لائم والله على مانقول شهيد. والسلام

د مشرتابه د دفتر لخوا د تسليت او بيعت اعلان

د افغانستان اسلامي امارت د شهيد اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور (رحمه الله) د دردونکي شهادت د پيښې په اړه د مشرتابه د دفتر مسؤل او ټول کارکونکي يې د شهيد اميرالمؤمنين غمجنې کورنۍ او ټول اسلامي امت ته تسليت وړاندې کوي او د نوي عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ الحديث هبة الله اخندزاده (حفظه الله) سره خپل بيعت اعلانوي او د پوره اطاعت ژمنه کوي.

الله تعالى دې زمونږ د نورو اميرانو په شان له ده مبارک څخه هم د دين خدمت واخلي او الله دې ورته په دې لاره کې استقامت ور په برخه کړي.

دافغانستان د اسلامي امارت د ملکي تلفاتو دمخنيوي د ادارې لخوا دتسليت او دبيعت اعلان

الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى سيد الْمُرْسَلِينَ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّينِ .

اما بعد! قال الله تعالى:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ . [النساء الايه ٥٩]

و قالرَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم [مَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً »

أخرجه مسلم (عن ابن عمر) فى صحيحه (١٤٧٨/٣ ، رقم ١٨٥١) . و أبو عوانة (٤١٥/٤ ، رقم ٧١٥٣) ، والبيهقى (١٥٦/٨، رقم ١٦٣٨٩).

و قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى۔ اللَّهَ وَمَنْ أَطَاعَ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ عَصَى الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي(مسند الإمام أحمد بن حنبل برقم (٧٤٢٨) ج ٢ ص٢٥٢)

محترمو! لکه څرنګه چې د خداى تعالى ذات ازلي ، ابدي او هميشه باقي پاتيکيدونکي دى همدا راز د هغه حکمونه هم نه بدليدونکي دي .او عبادت به يي هم د هميش لپاره کيږي .زموږ د جهاد سپيڅلي مبارزه او په دې مبارزې کې تکليف او ستړتياوې د دې لپاره دي چې الله تعالى له موږ څخه راضي شي. او د يو شرعي امير په قيادت کې د جهاد سپيڅلي اهداف تر لاسه کړو. بناءً موږ د جهاد دا پاکه او مقدسه مبارزه په همدې عقيده پر مخ بيايو او دا زموږ نه بدليدونکي عقيده ده چې جهاد د خداى تعالى عبادت دى او الله تعالى تل تر تله باقي پاتې کيدونکى ذات دى نو د جهاد عبادت به يې د هميش لپاره وي.

بناءً زموږ د شهيد امير المومنين ملا اختر محمد منصور تقبله الله تعالى په شهادت سره زمونږ جارى جهادي مبارزه به نيمګړې نه پاتېکيږي او نه به زمونږ په اتحاد او اتفاق کې کوم کمواليراځي بلکې زمونږ روانه جهادي مبارزه به د الله تعالى د دې ښکلي قول موافق چې [وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا . (ال عمران /١٠٣)] او د حضرت عمر (رض) د دې

ارزښتناکې وینا موافق چې [. لاَ إِسْلاَمَ إِلاَّ بِجَمَاعَةٍ ، وَلاَ جَمَاعَةَ إِلاَّ بِإِمَارَةٍ ، وَلاَ إِمَارَةَ إِلاَّ بِطَاعَةٍ .] په پوره اتفاق او اتحاد او د نوي امير په اطاعت کې به نوره هم ګړندی شي (انشاء الله)

بناءً موږ د افغانستان د اسلامي امارت د ملکي تلفاتو د مخنیوي د اداري مسئول، معاونین دخپلو ټولو مسئولينو، غړو، کارکونکو او د ولايتي نمايندګانو په نماينده ګي د اسلامي امارتنوي امير اميرالمومنين شيخ هبة الله آخندزاده صاحب، محترمو معاونينو ، د اسلامي امارت مسؤلينو ، مجاهدينو، د افغانستان مجاهد اولس، عام اسلامي امت او په ځانګړي توګه د شهيداميرالمؤمنين تقبله الله غمجنې کورنى ته د زړه له کومې د تسليت مراتب وړاندې کوو او د الله تعالى له دربار څخه شهيد اميرالمؤمنين تقبله الله ته د شهادت قبوليت، الهي ديدار اود جنت الفردوس غوښتونکي يو، الله تعالى دې د شهيد امير المومنين کورنۍ، زړورو مجاهدينو او اسلامي امت ته په دې سترمصيبت ، صبر جميل، اجر عظيم او نعم البدل ورنصيب کړي. آمين يارب العلمين.

همداراز موږ د ملکي تلفاتو د مخنيوي د اداري ټول مسئولين (مسئول، مرستيالان، او ټولکارکونکي او ولايتي نمايندګان) د اسلامي امارت له نوى زعيم اميرالمؤمنين شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده صاحب سره دالله په کتاب او د نبي کريم صلي الله په سنتو، دخلفاى راشدينو په تګ لارو او د اهل السنة والجماعة د منهج په اساس په ټولو معروف او شرعي امورو کې په سمع او طاعت سره بيعت کوو، د نوي امير المومنين صاحب اومرستيالانوته له الله تعالى څخه د شريعت په نافذولو کې توفيق غواړو او دخپلې هر راز همکارى اواطاعت اطمنان ورکوو. وَاللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ

د اسلامي امارت د مجاهدينو د پوځي اکمالاتو د مسؤول تسليت او بيعت

زه حاجى ملا دوست محمد (سعيد) د اسلامى امارت د پوځي اکمالاتو مسول، د خپلي اداري او ټولو ملګرو فه استازيتوب د مرحوم اميرالمومنين ملا اخترمحمد منصور رحمه الله د وياړمن شهادت له امله د مرحوم مجاهدي کورنی د اسلامي امارت مقام او ټولو مجاهدينو ته تسليت وايم، د دې ترڅنګ د نوي زعيم محترم شيخ الحديث مولوى هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله سر ه د بيعت اعلان کوم.

د کاپيسا ولايت د مسؤول لخوا دتسليت او بيعت پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم. زه قاري احسان الله بريال د کاپيساولايت د جهادي مسؤول په حيث دعلماء کرامو د شورى، ټولو مجاهدينو او عام اولس په نمايندګي دشهيد اميرالمؤمنين ملااخترمحمد منصور(رحمه الله) دشهادت په مناسبت د اسلامي امارت درهبرى شورى، ټولومجاهدينو او د هغه درنې کورنى ته دتسليت عالي مراتب وړاندي کوم، لوى خداى دي شهيد اميرالمؤمنين ته دجنت لوړمقامونه او کورنۍ ته جزيل اجراوجميل صبروريه برخه کړي.

همداراز دټولو په نمائندګي داسلامي امارت له نوي زعيم شيخ هبة الله اخند زاده(حفظه الله) سره بالسمع والطاعة بيعت اعلانوم او ژمنه کوو چي ټول به خپل جهادي خدمت ته د ده ترامر لاندي لکه د پخواغوندي دوام ورکوو.

د لغمان ولايت دجهادي مسؤول لخوا دتسليت او بيعت پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم. زه ملا عزت الله عينک د لغمان ولايت د جهادي مسؤول په حيث دهمدې ولايت دټولومجاهدينو اوولس په نمايندګي دنړۍ ټولو مسلمانانوپه ځانګړي دول د افغانستان مجاهد ولس، د اسلامي امارت د رهبرى شورا، په مقدس جهاد بوختو مجاهدينواو د محترم شهيد قدرمني کورنۍ ته د شهيد اميرالمؤمنين ملا اخترمحمد منصور(رحمه الله) د شهادت له امله دزړه له تله د تعزيت او تسليت مراتب وړاندي کوم. خداى تعالى دي دده کورنۍ او قريبانوته د پوره صبرپه ورکولو هغه ته دخپلي رضا او جنت

لوړمقامونه ورکړي او دپاکو وينو له برکته دې په افغانستان کې د شريعت قانون حاکم کړي.

همدارنګه د ټولو مسؤولينواو مجاهدينو په نمايندګي له نوي زعيم حضرت شيخ هبة الله اخند زاده (حفظه الله) سره د قران اوحديثو په چوکاټ کې دبيعت اعلان کوم. محترمه مشره! موږ په کامله توګه ستا اطاعت کووفی العسر- واليسراوله تاسره بيعت کوو په جهاد اوشهادت باندي.

د اروزګان ولايت د مسؤول د بيعت او تسليت پيغام

زه حاجي يوسف أمين د ارزګان ولايت د مسؤل په حيث د ټولو محاذونو، محاکمو، ولسوالانو او نورو مسؤلينو په نمايندګي د اميرالمؤمنين شهيد ملا اخترمحمد منصور (رحمه الله) د شهادت له امله اسلامي امت، د اسلامي امارت ټولو مشرانو او د شهيد قدرمني کورنۍ او خپلوانو ته دزړه له کومي تسليت وايم، الله جل جلاله دي د ده شهادت قبول او قريبانو ته جميل صبر ورکړي

همدا رنګه د خپل مسؤليت د دايرې د ټولو مسؤلينو په نمايندګي له نوي امير شيخ الحديث هبت الله اخند زاده (حفظه الله) سره په پوره اخلاص په جهاد بيعت اعلانوم او ان شاء الله موږ به تر خپلو وروستيو سلګيو پورې د دوی په هر امر کې اطاعت کوو او دعاء کوم چې الله تعالی دي دی د دين د قيام او استحکام امير وګرځوي.

دبلخ ولايت والي ملامحمد يونس مخلص اوملګرو لخوا دبيعت اعلان

نحمده ونصلی علی رسوله الکريم امابعد ! فقد قال الله تبارک وتعالی فی القرآن العظيم : مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا . الأحزاب : ٢٣

د افغانستان اسلامي امارت لخوا د مزار شريف والي او معاون او کميسون رئيس د دې ولايت د عامو مؤمنانو په نمايندګي د اميرالمؤمنين شهيد ملا اختر محمد منصور تقبله الله د شهادت په مناسبت د افغانستان اتل، قهرمان، او مجاهد ولس، ټول امت مسلمه او په ځانګړي ډول د شهيد اميرالمؤمنين تقبله الله وغمجنې کورنۍ ته د تسليت مراتب وړاندې کوي او د الله تعالی له دربار څخه شهيد اميرالمؤمنين ته د جنت الفردوس غوښتنه کوي، الله تعالی دې د اميرالمؤمنين تقبله الله قربانۍ، تکليفونه او د اسلام په لار کې کړي خدمتونه قبول او منظور وګرځوي، الله جل جلاله دې د امير المؤمنين د سپيڅلو وينو د هر څاڅکي په بدل او برکت سره په ګران شهيد پرور هيواد کې سپيڅلی اسلامي نظام حاکم کړي او الله تعالی دې د نوموړې کورنۍ، دوستانو، مجاهدينو، رهبري شورا غړو او د اسلامي امارت ټولو قدرمنو مشرانو ته په دې ستر مصيبت، صبر جميل او اجر عظيم او نعم البدل ورنصيب کړي. اناالله وانااليه راجعون.

او همداراز د مزار شريف د ولايت د اداري ټول منسوبين د نوي زعيم (عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ الحديث والتفسير هبت الله اخندزاده صاحب) سره خپل بيعت په لاندې ټکو اعلانوي.

نبايعو اميرنا خادم الاسلام و المسلمين اميرالمؤمنين حفظه الله المتين معلم القرآن و الحديث الشيخ الفاضل هيبت الله اخندزاده صاحب علی السمع والطاعة فی العسر و اليسر والمنشط والمکره وعلی اثرة علينا و علی ان لا ننازع الامر اهله الا ان نرا کفراً بواحاً عندنامن الله فيه برهاناً وعلی ان نقول بالحق اينما کنا لانخاف فی الله لومة لائم و الله علی مانقول شهيد

د نظامي چارو د کميسيون د مشرتابه او اعضاؤ د تسليت او بيعت پيغام

د اسلامي امارت د نظامي چارو د کميسيون مسئول، مرستيال، منشي، د دې کميسيون د ټولو اړوندو حلقو مسؤلين او اعضاء د اسلامي امارت د فقيد زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور تقبله الله د وياړمن شهادت له امله ټول اسلامي امت، د افغانستان اسلامي امارت او په ځانګړي ډول د

شهید امیرالمؤمنین رحمه الله درنې کورنۍ ته د تسلیت او تعزیت مراتب وړاندي کوي.

شهید أمیرالمؤمنین رحمه الله په ډېرو سختو شرایطو کي د اسلامي امارت مشرتوب پر غاړه واخیست او هر ډول تکالیفو، فشارونو او سختو حالاتو ته یې په خپل متین عزم سره سینه سپر کړه، د اسلامي امارت وقار یې وساته، موږ شهید امیرالمؤمنین تقبله الله ته د الله تعالی له درباره د ده د ټولو سترپاوو په بدل کي د پاک رب جل جلاله دیدار او جنت الفردوس غواړو.

د اسلامي امارت د نوي زعیم شیخ الحدیث ستر فقیه الحاج مولوي هبت الله اخندزاده صاحب حفظه الله سره خپل بیعت اعلانوو او ژمنه کوو چې د محترم امیر حفظه الله هر شرعي امر به د یُسر- او عُسر- او د خوښی او ناخوښی په ټولو صورتونو کي عملي کوو، له الله تعالی جل جلاله څخه د اسلامي امارت نوی زعیم او مرستیالانو ته یې د نصرت او حفاظت غوښتنه کوو او دعاء کوو چې لوی رب جل جلاله د اسلامي نظام د نفاذ او استحکام توفیق ورنصیب کړي، الله تعالي دي د اسلامي امارت د زعیم حفظه الله په قیادت کي د ښو خدمتونو توفیق رانصیب کړي. آمین

د پروان ولایت د جهادي مسؤل تسلیت او بیعت

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد فقدقال الله تبارک وتعالی فی کتابه المجید، من المومنین رجال صدقوا ماعاهدوالله علیه فمنهم من قضی نحبه ومنهم من ینتظر وما بدلو تبدیلا. الایه

زه ملا محمدنسیم (مشفق) د خپل ځان له خوا اصالتا او د پروان ولایت د ټولو مسئولینو، ولسوالانو، رئسانو، دلگی مشرانو، جهادی قوماندانانو او د سنگر مجاهدینو لخوا وکالتا د شهید امیرالمومنین ملا اخترمحمد منصور تقبله الله د ویاړمن شهادت په اړه د منصور صاحب غمجنې کورنۍ، نوي زعامت او ټول امت مسلمه ته د زړه له تله تسلیت وایم، الله تعالی دي د امیرالمومنین شهادت په خپل دربار عالیه کي قبول او منظور وگرځوي او نوي زعامت ته دي الله تعالی عمر طویل ورکړي.

بیعت: همدار از زه د پروان ولایت د ټولو مسئولینو، د ولایت معاون مولوي شبیر احمد، د کمیسیون مسئول قاري نظرگل، جهادي مسئولینو، ټولو مجاهدینو او متدین ولس په نمایندگي د اسلامی امارت له نوي زعیم امیرالمومنین شیخ الحدیث مولوی هبت الله اخندزاده صاحب سره د الله جل جلاله په کتاب او درسول صلی الله علیه وسلم په سنتو د خلفای راشدینو په تگلاره او د اهل السنت والجماعت د منهج په اساس په ټولو معروف او شرعي امورو کې په سمع او طاعت سره بیعت کوم او نوی امیرالمومنین صاحب او مرستیالانو ته یې له الله تعلی څخه د شریعت په نافذولو کې توفیق غواړم

د بغلان ولایت والي صاحب د بیعت او تسلیت پیغام

د افغانستان اسلامی امارت د زعیم محترم شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور صاحب رحمه الله د دردونکی شهادت د پېښې په اړه د بغلان ولایت د مرستیال، د کمیسون مسؤل او ټولو علماوو مجاهدینو او عوامو په نمایندگی د شهید امیرالمؤمنین کورنۍ او ټول اسلامی امت ته تسلیت وړاندې کوم او د نوی امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبت الله آخندزاده (حفظه الله) سره په اسانی او سختی کي په سمع او طاعت سره بیعت کوو او خپل جهادی بهیر ته به دوام ورکوو.

د جهادي او علمي شخصیت مولوي رفیع الله مؤذن د کورنۍ دتسلیت او بیعت پیغام

د شهید امیرالمؤمنین شهادت د ټولې اسلامي نړۍ، اسلامي امارت، او افغان جهادي غیرتمند اولس لپاره ستره ضایعه ده.

د مرحوم مؤذن صاحب کورنۍ پدې ستر نه هېرېدونکي غم کې د شهید امیرالمومنین له کورنۍ، اسلامي امارت او ټول مسلمه امت سره ځان شریک بولي.

د مرحوم مولوي رفيع الله مؤذن کورنۍ د اميرالمؤمنين په توګه د شيخ هبت الله اخندزاده صاحب ټاکل يو پر ځای اسلامي او شرعي عمل بولي، او د زړه له کومې خپل بيعت ورسره اعلانوي.

د امارت لوړپوړو غړو، ټولو مسؤلينو او منسوبينو او افغان غيرتي اولس ته مشوره ورکوو چې د اميرالمؤمنين شيخ هبت الله آخندازده حفظه الله سره د بيعت د تجديد بهير ګړندی کړي، ترڅو د پيښې د عظمت څخه په استفادې د اسلام دښمنانو ته د مسلمانانو په منځ کې د درځ پيدا کولو موقع په لاس ورنشي. له الله څخه غواړو چې امير المؤمنين شيخ هيت الله آخندزاده د مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد او شهيد اميرالمومنين ملا اختر محمد منصور په څېر د اسلامي حدودو د ساتنې په خاطر د هر ډول فشار مقابله په پوره متانت او مېړانه سره وکړي.

د اسلامي امارت د معدنياتو ادارې د مشر، او غړو تسليت او بيعت

د اسلامي امارت د معدنياتو د ادارې مشر او د ادارې ټول غړي د شهيد اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور رحمه الله د وياړمن شهادت په اړه د مرحوم درنې کورنۍ، د افغانستان مسلمان ولس، ټول اسلامي امت، په سنګر کې ناستو مجاهدينو او د اسلامي امارت نوي زعامت او مخلصينو ته د زړه له کومې تسليت وايو، الله تعالى دې د منصور صاحب رحمه الله شهادت قبول کړي، کورنۍ او ټولو خواخوږو ته دې صبر جميل او اجر جزيل نصيب کړي، امين.

موږ د اسلامي امارت د اهل حل والعقد شورا لخوا له ټاکل شوي اميرالمؤمنين شيخ الحديث هبت الله اخندزاده صاحب سره د الله په کتاب او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په سنتو، د خلفاء راشدينو په تګلاره او د اهل سنت ولاجماعة د منهج مطابق په ټولو معروفو کارونو کې على السمع والطاعة بيعت کوو او هر امر ته يې په سختي او اسانۍ کې لبيک وايو او خپله اخندزاده صاحب حفظه الله او مرستيالانو ته يې له الله تعالى څخه توفيق غواړو او د خپلې هر راز همکارۍ او فرمانبردارۍ اطمنان ورکوو.

د بنديانو چارو کمېسيون د رئيس،مرکزي اعضاوو ، ولايتي مسئولينو او ټولو مظلومو اسيرانو د تعزيت او بيعت پيغام

نحمده و نصلي على رسوله الکريم امابعد ! د اسلامي امارت د بنديانو د تنظيم او خلاصون د چارو کمېسيون عمومي مسئول ، مرستيال ، اداري او مالي مسئول ، د عمومي ارتباطاتو مسئول ، د تحقيق او تفتيش د څانګې مسئول ،ټول ولايتي مسئولين او د هيواد په محابسو کې ټول مظلوم اسيران د اسلامي امارت د فقيد زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور تقبله الله د وياړمن شهادت له امله ټول اسلامي امت ، د افغانستان اسلامي امارت او په ځانګړي ډول د شهيد اميرالمؤمنين رحمه الله درنې کورنۍ ته د تسليت او تعزيت مراتب وړاندي کوي ، شهيد اميرالمومنين رحمه الله د اسلامي امت د وياړمن مشر، عاليقدر اميرالمؤمنين ملا محمدعمر مجاهد رحمه الله حقيقي وارث ، د هغه د سپېڅلي ارادې واقعي ممثل او د اسلامي امارت رښتينی پالونکی وو ، شهيد أميرالمؤمنين رحمه الله په ډېرو سختو شرايطو کي د اسلامي امارت مشرتوب پر غاړه واخيست او هر ډول تکاليفو ، فشارونو او سختو حالاتو ته يې په خپل متين عزم سره سينه سپر کړه او د اسلامي امارت وقار يې وساته ، موږ شهيد اميرالمؤمنين تقبله الله ته د الله تعالى له درباره د ده د ټولو سترياوو په بدل کي د پاک رب جل جلاله ديدار او جنت الفردوس غواړو

د بنديانو چارو کمېسيون عمومي مسئول او ټول اعضاء اصالتاً او د ټولو مظلومو اسيرانو په نماينده ګي وکالتاً د اسلامي امارت د نوي زعيم شيخ القرآن والحديث سترفقيه الحاج مولوي هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله سره خپل بيعت اعلانوو او

ژمنه کوو چې د محترم امیر حفظه الله هر شرعي امر به د یُسر او عُسر او د خوښۍ او ناخوښۍ په ټولو صورتونو کې عملي کوو ، له الله تعالی جل جلاله څخه د اسلامي امارت نوی زعیم او مرستیالانو ته یې د نصرت او حفاظت غوښتنه کوو او دعاء کوو چې لوی رب جل جلاله د اسلامي نظام د نفاذ او استحکام توفیق ورنصیب کړي ، الله تعالي دې د اسلامي امارت د زعیم حفظه الله په قیادت کې د ښو خدمتونو توفیق رانصیب کړي . آمین

دشهید شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب د کورنۍ لخوا د تسلیت او بیعت پیغام

زه مولوي نعمت الله مخلص د شیخ الحدیث مولوي عبدالسلام صاحب زوي د خپلې ټولې کورنۍ او مجاهدینو په نمایندګي د اسلامي امارت مشرتابه او د شهید امیرالمومنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله درنې کورنۍ ته دنوموړي د شهادت له امله د تسلیت پیغام وړاندې کوم.له الله تعالی نه ورته صبر جمیل غواړم.

همدا راز له نوي امیر شیخ الحدیث هبة الله اخندزاده صاحب سره خپل بیعت علی السمع والطاعة اعلانوم او دا ژمنه او وعده کوم چې په ټولو شرعي‌امورو کې به د امیرالمومنین امر ته لبیک وایو او د خپل جهادي فعالیت ته به د نوموړي تر لارښونې لاندې دوام ورکوو.

د اسلامي امارت د مؤسساتو کمیسیون د مشر او غړو تسلیت او بیعت پیغام

د اسلامي امارت د مؤسساتو د کمیسیوت مشرتابه او د کمیسیون ټول غړي د شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله د ویاړمن شهادت په اړه د مرحوم درنې کورنۍ، د افغانستان مسلمان ولس، ټول اسلامي امت، په سنګر کې ناستو مجاهدینو او د اسلامي امارت نوي زعامت او مخلصینو ته د زړه له کومي تسلیت وایو، الله تعالی دې د منصور صاحب رحمه الله شهادت قبول کړي، کورنۍ او ټولو خواخوږو ته دې صبر جمیل او اجر جزیل نصیب کړي، امین.

موږ د اسلامي امارت د اهل حل والعقد شورا لخوا له ټاکل شوي امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبت الله اخندزاده صاحب سره د الله په کتاب او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په سنتو، د خلفاء راشدینو په تګلاره او د اهل سنت ولاجماعة د منهج مطابق په ټولو معروفو کارونو کې علی السمع والطاعة بیعت کوو او هر امر ته یې په سختي او اسانۍ کې لبیک وایو او خپله اختدزاده صاحب حفظه الله او مرستیالانو ته یې له الله تعالی څخه توفیق غواړو او د خپلې هر راز همکارۍ او فرمانبردارۍ اطمنان ورکوو.

د شهید انجنیر محمود د کورنۍ تعزیت او بیعت

د درانه ویر پر تغر ټولو غمژنو ته تسلیت وایم، د امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور درنې کورنۍ، د اسلامي امارت ټولو مجاهدینو او ټول اسلامي امت ته د امیرالمؤمنین د شهادت تعزیت وړاندې کوم.

د خپلې ټولې کورنۍ او ملګرو په استازیتوب خپل نوي امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبت الله اخونزاده صاحب حفظه الله سره بیعت اعلانوم، الله جل جلاله دې ده ته او نائبینو ته د دې درانه مسئولیت اداء کولو توفیق ورکړي. آمین

د ټولو ولایاتو د زراعت اداري دمسئول تعزیت او بیعت

زموږ تاریخ له همدا ډول سرښندنو او فدا کاریو ډک دی، موږ فخر کوو چې زموږ امیر د خپلې داعیې په لار کې خپل پروردګار ته د خپل ایمان له ثبوت سره ورغی، الله جل جلاله دې د امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور شهادت قبول کړي او الله تعالی دې یې برکات په ټوله کورنۍ او امارت کېږدي.

په همدې مناسبت خپل نوي امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبت الله اخندزاده ته مبارکي وایم او ورسره د خپلې کورنۍ،

ملگرو، مجاهدینو او خواخوږو پـه استازیتوب بیعت اعلانـوم، د شریعت مطابق هر امر ته يې لبیک وایـو او الله جل جلالـه نـه غواړو چې په دې ستر امتحان کې زموږ شیخ امیر سوبمن تـر ډېل منزله ورسوي. آمین

پیام تسلیت و بیعت محاذ شهید مولوی محمود و مجاهدین ولایت نیمروز

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَ مِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَ مَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا ﴿٥﴾ سوره احـزاب بدینوسیله مراتب تسلیت خویش را به خانوادهٔ امیرالمومنین شهید ملا اختر محمد منصور رحمه الله تعالی ، جانشین ایشان حفظه الله تعالی ، شورای رهبری امـارت اسـلامی ، مجاهـدین امـارت اسلامی و کافهٔ امت اسلامی تتقدیم نموده و برای ایشان از الله متعـال جنـت الفـردوس و رضـای الله متعـال را خواهـانیم.

و روی المسلم فی صحیحه عن النبی صلی الله علیه و سلم انه قال : " مَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً"

و بدین وسیله مایان هـر یـک مولوی عبدالعزیز انصاری والی امارت اسلامی برای ولایت نیمروز، مولوی عبـدالله عـارف معاون والی، حافظ غلام الله فاتح معـاون قطعـهٔ نظـامی امـارت اسلامی و مسئول نظامی محاذ شهید مولوی محمود سـیف الله، به نمایندگی از تمام مجاهدین ولایت نیمروز و مجاهدین محـاذ شـهید مولـوی محمـود سیف الله رحمـه الله بـا شـیخ القـرآن و الحدیث مولوی هبة الله آخند زاده حفظه الله بیعت خویش را بـر قـرآن عظـیم الشـان سـنت سـنیهٔ حضـرت رسـول علیـه الصـلوة السلام و روش خلفای راشدین رضوان الله تعالی علیهم اجمعین و منهج اهل السنة و الجماعة اعلان می نمـاییم و بـرای جنـاب امیرالمـومنین حفظـه الله توفیقـات ربـانی را از درگـاه الله متعـال عاجزانه خواستاریم.

د بادغیس ولایت د مسؤول الحاج ملا عبدالله فهیم د بیعت او تسلیت پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم کل نفس ذائقة الموت

د شعبان المعظـم د میاشـتې پـه ۱۴ مـه نیټـه ۱۴۳۷ ه ق مطابق ۲۱ مئ ۲۰۱٦ زموږ د وياړلي هيواد په ځلانده تـاريخ يـوه بله پاڼه واوښته او د افغانستان د اسلامي امـارت زعـيم عاليقـدر اميرالمؤمنين ملا اخترمحمد منصور رحمه الله د صليبي اشـغالگرو لخـوا د بي پيلوټـه الـوتكي پـه يـوه ناځوانمردانـه حملـه كـې پـه شهادت ورسيد، انالله واناالیه راجعون.

شهيد اميرالمؤمنيين رحمه الله سره مې له نژدې ليـده كاتـه شوي وو، پر الله تعالى متوكل متواضع او خاكسـاره شـخص وو، د قوي ارادې او كلک هوډ څښتن وو، د درستو فيصلو محور يـې د مقدس شريعـت اصول او د اسـلامي امـارت لائحـه وه، د ده تشه كه څه هـم د خفگـان وړ ده خـو دا چـې د اسـلامي امـارت مؤسس مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمدعمر مجاهـد رحمـه الله د منصور صاحب رحمه الله په څير په سلگونو علـماء او مجاهـدين روزلي، باور لرم چې تشه به يې ډكه شي.

د خواشینۍ په دې حساسو شیبو کې زه د بادغیس ولایـت د ټولو ولسواليو ولسوالانو مربوطه كميسونونو او عـامو مجاهـدينو پـه نماینـدگي د شـهيد اميرالمـؤمنين رحمـه الله درنـې كـورنۍ، د اسـلامي امـارت رهـبري شـورى او د نظـامي كميسـونونو ټولـو اعضاوو ته تسليت وړاندې كوم.

زه د بـادغيس ولايـت د ټولـو ولسـواليو ولسـوالانو مربوطـه كميسونونو او عامو مجاهـدينو پـه نماينـدگي د رهـبري شـورى د محترمو اعضاوو د مدبرانه او قاطع پريكـړې هركلـى كـوم او پـه زغرده له نوي ټاكل شوي اميرالمؤمنين شـيخ الحـديث هبـت الله اخندزاده صاحب سره ډېل بيعت اعلانـوم او ژمنـه كـوم چـې پـه خوښي او خفگـان سـختي او اساني كـې بـه يـې هـر امـر تـه د شريعت په چوكاټ كې غاړه ږدم.

د بنديانو چارو كميسيون د رئيس،مركزي اعضاوو ، ولايتي مسئولينو او ټولو مظلومو اسيرانو د تعزيت او بيعت پيغام

نحمده و نصلي على رسوله الكريم امابعد !

د اسلامي امارت د بنديانو د تنظيم او خلاصون د چارو کمېسيون عمومي مسئول ، مرستيال ، اداري او مالي مسئول ، د عمومي ارتباطاتو مسئول ، د تحقيق او تفتيش د څانګې مسئول ،ټول ولايتي مسئولين او د هيواد په محابسو کې ټول مظلوم اسيران د اسلامي امارت د فقيد زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور تقبله الله د وياړمن شهادت له امله ټول اسلامي امت ، د افغانستان اسلامي امارت او په ځانګړې ډول د شهيد اميرالمؤمنين رحمه الله درنې کورنۍ ته د تسليت او تعزيت مراتب وړاندې کوي ، شهيد اميرالمومنين رحمه الله د اسلامي امت د وياړمن مشر عاليقدر اميرالمؤمنين ملا محمدعمر مجاهد رحمه الله حقيقي وارث ، د هغه د سپېڅلي ارادې واقعي ممثل او د اسلامي امارت رښتينی پالونکی وو ، شهيد أميرالمؤمنين رحمه الله په ډېرو سختو شرايطو کې د اسلامي امارت مشرتوب پر غاړه واخيست او هر ډول تکاليفو ، فشارونو او سختو حالاتو ته يې په خپل متين عزم سره سينه سپر کړه او د اسلامي امارت وقار يې وساته ، موږ شهيد اميرالمؤمنين تقبله الله ته د الله تعالى له درباره د ده د ټولو سترياوو په بدل کې د پاک رب جل جلاله ديدار او جنت الفردوس غواړو

د بنديانو چارو کمېسيون عمومي مسئول او ټول اعضاء اصالتاً او د ټولو مظلومو اسيرانو په نماينده ګي وکالتاً د اسلامي امارت د نوي زعيم شيخ القرآن والحديث سترفقيه الحاج مولوي هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله سره خپل بيعت اعلانوو او ژمنه کوو چې د محترم امير حفظه الله هر شرعي امر به د يُسر او عُسر او د خوښې او ناخوښې په ټولو صورتونو کې عملي کوو، له الله تعالى جل جلاله څخه د اسلامي امارت نوی زعيم او مرستيالانو ته يې د نصرت او حفاظت غوښتنه کوو او دعاء کوو چې لوی رب جل جلاله د اسلامي نظام د نفاذ او استحکام توفيق ورنصيب کړي ، الله تعالي دي د اسلامي امارت د زعيم حفظه الله په قيادت کې د ښو خدمتونو توفيق رانصيب کړي .
آمين

د کابل ولايت د مقام او د ټولو مجاهدينو د تسليت او بيعت اعلان

بسم الله الرحمن الرحيم الحمدلله وکفى والصلاة والسلام على عباده الذين اصطفى امابعد

زه بنده حافظ محب الله د ځان لخوا اصالة او د خپلو ټولو مسؤلينو او د سنګر د مجاهدينو لخوا د شهيد اميرالمؤمين ملا اخترمحمد منصور (نورالله مرقده) د وياړمن شهادت په اړه د امير المؤمنين درنې کورنۍ او ټول امت مسلمه، په سنګر کې ناستو مجاهدينو، او د اسلامی امارت نوی زعامت او په ديار هجرت کې ټولو مخلصو مسلمانانو ته نيابة او وکالة د زړه له کومې تسليت وايم، الله عزوجل دې د منصور صاحب شهادت قبول او منظور کړي، کورنۍ او ټولو دوستانو ته دې يې صبر جميل او اجر جزيل ورکړي (ان لله ما اخذ وله ما اعطى وکل شئ عنده باجل مسمى فالتصبر والتحتسب)

زه د کابل ولايت د ټولو کميسيونونو، جهادي مسؤولينو، عامو مجاهدينو او متدين ولس په نمايندګي د اسلامی امارت له نوي زعيم اميرالمؤمنين شيخ الحديث هبت الله اخند زاده صاحب سره د الله په کتاب او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په سنتو، د خلفاء راشدينو په تګلاره او د اهل السنت والجماعة د منهج له مخې په ټولو امورو کې په اسانۍ او سختۍ کې په سمع او طاعة سره بيعت کوم او اطمنان ورکوو چې په ټولو شرعی امورو کې به د امير المؤمنين اطاعت ته لبيک وايو.

ومن الله التوفيق

د پکتيکا په جاني خيل کې د لويي غونډې په ترخ کې بيعتونه وشول

د پکتکا ولایت په جاني خیلو ولسوالۍ کې یوه غونډه ترسره شوه چې ګڼو علماء کرامو، قومي مشرانو او مجاهدینو پکې ګډون کړی وو.

د غونډې په ترڅ کې لومړی د شهید امیرالمومنین ملا اخترمحمد منصور صاحب پاک روح ته دعا وشوه او بیا له نوي زغیم امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبت الله اخندزاده صاحب سره بیعتونه وشول.

په دې غونډه کې د جاني خیلو ولسوالۍ مسؤول ملا راشد او ډلګۍ مشر ملا غازي او محمد شاهین، د کمیسون مسؤل مولوي عبدالواجد جمشید، د دعوت او ارشاد مسؤل مولوي شبراحمد عباس او د بابو خیل، دینار خیل، شخیل، جلال خیل، د جانخیل، د جلالزو او د خنجکو قوم مشرانو پکې ګډون کړی وو.

دهرات ولایت دمسؤول دتسلیت اوبیعت پیغام

زه حاجي سردار دهرات ولایت دعمومي مسؤول په حیث دهرات ولایت دټولو مربوطه ارګانونو دمسؤولینو ، مجاهدینو اودهرات دمتدین اومجاهد ولس په نمایندګي داسلامي امارت ټولو منسوبینو اوبالخصوص دشهید امیرالمؤمنین ملااختر محمدمنصور رحمه الله تعالی درني کورنۍ ته دتعزیت اوتسلیت مراتب وړاندې کوم ، تقبله الله تعالی

وبعد زه دهرات ولایت دټولو مسؤولینو ، مجاهدینو او مومن ولس په نمایندګي له امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب حفظه الله تعالی سره دقرآني ارشاداتو په رڼاکې بیعت کوم

پیام تسلیت وبیعت مولوی فصیح الدین صاحب مسؤل والی بدخشان

پیام تسلیت وبیعت والی بدخشان: من مولوی فصیح الدین صاحب مسؤل ولایت بدخشان ازطرف خوداصالتا، وازطرف علماء کرام،ولسوالان ،رئیسان، مجاهدین وعام مسلمانان ولایت وکالتا مراتب تسلیت خویش را نسبت شهادت پر افتخارامیرالمؤمنین فقید ملا اختر محمد منصور رحمه الله به خانواده مرحوم،مقام امارت اسلامی وامت مسلمه تقدیم نموده وبه نمایندگی اشخاص فوق بیعت خویش را نیز با زعیم جدید امیر المؤمنین شیخ الحدیث هبة الله اخوندزاده صاحب اعلان میکنم ودرچوکات شریعت دریسر وعسر ازایشان پوره اطاعت می کنیم.

پیام تسلیت وبیعت مولوی برهان الدین والي ولایت بامیان

بسم الله الرحمن الرحیم حامدا و مصلیا اما بعد

اینجانب مولوی برهان الدن مسئول جهادی ولایت بامیان، واقعهٔ المناک واختناق بخش (از دست دادن زعم فقند امارت اسلامی) را به خانواده محترم امیرالمومنین منصور صاحب رحمه الله وهمه راکبین کشتی جهاد وکاروان استوار برپایه های ایثار وقربانی امارت اسلامي وهمچنان کافهٔ امت اسلامی تسلیت عرض میکنم.

لازم می دانم ازطرف خود، علمای کرام و طلبای مجاهدین ساکن بامیا ن ومجا هدنی که دربامیان همرایم جهاد مکنند بیعت خویش رادرچوکات شریعت (قرأن و حدیث) برسمع وطاعت درحال عسرـ ویسرـ) با زعیم جدید امارت اسلامي جناب شیخ صاحب هبت الله آخندزاده حفظه الله اعلان نمایم.

دست به دعا هستیم که الله متعال این کشتی جهادی را بسلامت به ساحل کامیابی برساند (و من الله التوفیق)

د سیاسي دفتر له خوا د شهید منصور صاحب د فاتحې مراسم د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې تر سره شول

نن د پنجشنبې په ورځ او د جمعې په مبارکه شپه، چې د ۱۴۳۷ هـ ق کال د شعبان المعظم میاشتې له ۱۹ او د ۱۳۹۵ د جوزا میاشتې له ٦ نیټې سره سمون خوري، په قطر هېواد کې د

افغانستان د اسلامي امارت د سیاسي دفتر له خوا د شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور صاحب د فاتحې مراسم د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې تر سره شول.

غونډه د مازدیگر په ۴ بجې پیل او د ماسختن په ۸ بجو پـای تـه ورسـیده، دغـه درنـې او مبـارکې غونـډې دوه برخـې درلودې، په لومړۍ برخه کې د قرآن کریم ختم وشو، ور پسې د شهید منصور صاحب او د اسلام د ټولو شهیدانو مبـارکو ارواحـو، او د مسلمانانو د اتحاد او اتفاق لپاره دعا وشوه.

د غونډې په دوهمه برخه کې پـه اسـلام کـې د شـهید، شهادت او جهاد د فضیلت، او د شهید منصور صـاحب د علمـي او جهـادي ژونـد او تـاریخي کارنـامو پـه اړه مفصـلې وینـاوې وشوې.

د غونـډې لـومړۍ وینـا د سـیاسي دفـتر د غـړي ښـاغلي مولوي صاحب جان محمد مدني له خوا پیـل شـوه، نومـوړي پـه اسلام کې د شهید او شهادت، او په اسلام کې د سیاست په اړه علمي او عالمانه وینـا وکـړه، ور پسـې د سیاسي دفـتر بـل غـړي ښاغلي شیخ صاحب شهاب الدین دلاور د شهید منصور صـاحب د شـهادت او د هغـه د ژونـد او تـاریخي کارنـامو پـه اړه خـبرې وکړې، په پای کـې د سیاسي دفـتر مشر ـ ښـاغلي شـیر محمـد عباس ستانکزي صاحب د جهـاد، شـهادت او د منصـور صـاحب دکارنامو، او د اسلامي امارت د نوي زعامت اړوند وینا وکړه.

درې واړو ویناوالا د مسلمانانو د کامیابۍ رمز په اتفاق او اتحاد کې نغښتي وګڼلو، پـه ځانګړي ډول پـه اوسـنیو حساسـو شرایطو کې، نوموړو د ځېلو خبرو په ترڅ کـې وویـل چـې د حـق په لاره کې ستونزې او کړاوونه شـته، لـه دې لارې سره قربـانۍ او شـهادتونه تـړلي دي، خـو هېڅکلـه قربـانۍ او شـهادتونه د مجاهدینو په برحقـه داعیـه منفـي اغیـز نشي ـ کـولی، بلکـې بـر عکس شهادتونه او قربانۍ د حق آواز او داعیه نوره هـم پیـاوړې کوي او مجاهدین ځپل هدف ته لنډوي.

نوموړو همدا رنګه په صراحت سره وویل چـې سـتونزې د زور له لارې نشي هوارېدی، د هېواد د رواني سـتونزې هـواری د اشغال په پای ته رسیدو او د اسلامي نظام په قیام کې دی.

غونډه د ماسختن په ۸ بجو د مولوي صاحب جان محمـد مدني په اختتامیه دعا پای ته ورسېده.

د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو کمیسیون لخوا د تسلیت او بیعت اعلان

قـال الله تبـارک وتعـالی مِّنَ الْمُـؤْمِنِينَ رِجَـالٌ صَـدَقُوا مَـا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَـا بَدَّلُوا تَبْدِيلا. (احزاب ،ایت ۲۳).

پورتني الهي ارشاد تـه پـه کتنـې سره د اسـلام د سـپېڅلي دین په لاره کې د جهاد لړۍ له شهادتونو ، قربـانیو او سرښـندنو ډکه ده ، ځیني په شهادت رسیږي او ځیني نور یـې انتظـار کوي او په همدې هیله دغه دجهاد سلسله را روانه ده.

په دې سلسـله کـې دافغانسـتان اسـلامي امـارت د زعـیم امیرالمومنین ملا اختر محمـد (منصـور) رحمـه الله لـه افتخـار او ویاړ ډک شهادت هم دی چې دده ورروستۍ هیله وه ، نو د تعلـیم او تربیـې او عـالي تحصـیلاتو کمیسـیون د مشرـتابه ، دکمیسیون د اعضاوو ، دمدارسو داستاذانو او ځپلو مربوطـو ټولـو کارکوونکو لخوا د عالیقدر امیرالمومنین درنې کورنۍ ، د اسـلامي امارت رهبري شورى او ټولو منسوبینو او دنړۍ ټولـو خواخـوږو مسلمانانو او ټول اسلامي امت تـه تسـلیت وړانـدې کـوي ، الله جل جلاله دې دهغـه ټـول جهـادي او اسـلامي خدمتونـه قبـول وګرزوي امین!

اودغه راز داسلامي امـارت لـه نـوي زعـیم او امیرالمـومنین شیخ الحدیث مولوي هیبت الله اخندزاده سره دځپلو کـارکوونکو په نماینده ګۍ ځپل بیعت اعلانـوي ، لـه الله جـل جلالـه څخـه دغه نـوي زعامـت، دهغـه مرسـتیالانو او داسـلامي امـارت ټولـو منسوبینو ته د لاښه خدمت توفیق غواړي .

د فراه ولایت د والي دتسلیت او بیعت پیغام

د فـراه پـه ولایـت کـې دفـراه ولایـت والي‌صـاحب ، د نظامي‌کمیسیون مسولینو،مجاهدینو او عامو ولسي خلګو د یوې پراخې غونډې پـه تـرڅ کـې د تسلیت او بیعت خـاص مراسـم ترسره کړل.دغونډې برخوالو د تکبیر د ملکوتي شعارونوپه بدرګـه کې له نوي امیر شـیخ الحـدیث هبـة الله اخنـدزاده صـاحب سره خپل بیعت اعلان کړ او ژمنه یې وکړه چې پـه سـختي‌او اسـاني کې به د خپل امیر امر ته لبیک وایي.

دسرپل ولایت والي دتسلیت اوبیعت مراسم ترسره کړل

د افغانستان داسلامي امارت دسرپل ولایت محـترم والي صاحب نن ماسپښـین دسرپـل ولایـت پـه مربوطـاتوکې دیـوې پراخـې غونـډې پـه تـرڅ کـې چې ګـڼ شـمېر شیخانو ، علـماء کرامـو، قـومي مشرـانو ، جهـادي مسـؤولینو ، دکمیسـیونونو مسؤولینو، قاضـیانو ، ولسوالاتو اوعامـه مسلمانانوپکې ګـډون کـړی ؤ دټـول مجاهـدینو ، مسـؤولینو اوسرپـل ولایـت دعامـه مسلمانانو پـه نماینـدګي داسـلامي امارت دشـهید امیرالمؤمنین ملااخترمحمدمنصــور رحمـــه الله تعـــالی دفـــاتحې پـــه لړکې دنومـوړي درنـې کـورنۍ ، متعلقینـو اوټولـو مسـلمانانوته د تسلیت مراسم ترسره کړل

وروسته نومـوړي دټولـو پـه نماینـدګي دنـوي تاکـل شـوي امیرالمؤمنین شـیخ القـرآن والحـدیث مولـوي هبـت الله اخنـدزاده صاحب حفظه الله سره د بیعـت اعـلان وکـړ اوغونـډه دنـوي امیرالمؤمنین او داسلامي امارت مجاهدینو دبریاؤ په دعاګانوسره پای ته ورسیده.

پیام تسلیت وتعزیت شورای اسلامی مردم هزاره

بسم الله الـرحمن الـرحیم مـن المـؤمنین رجـال صـدقوا مـا عاهدوا الله علیه فمنهم من قضی نحبه و مـنهم مـن ینتظـر ومـا بدلوا تبدیلا سورة الاحزاب ایة ۲۳

درمیان مؤمنان مردانی هستندکه برسر عهدی کـه بـا خـدا بستند صادقانه ایستاده اند بعضـی پـیمان خـودرا بـه آخـر بردنـد ودرراه او شربت شـهادت نوشـیدند ، بعضـی دیگـر در انتظارنـد؛ وهرګز تغییر وتبدیلی درعهد وپیمان خود ندادند.

آری چنین است سرانجام آنانیکـه بـرای اعـلای کلمـة الله وحاکمیت دین الله ج ونجاة سرزمین اش از اشغال بیګانـه ګـان میخواهم بـدین وسیله شـهادت امیرالمؤمنین شـاد روان مولـوی اخترمحمد منصور رحمة الله علیـه را بـه تمـام مجاهـدین امـارت اسـلامی افغانسـتان واعضـای خـانواده مرحـوم مغفـوررا تسـلیت ګفته به وارثین راه مولوی اخترمحمد منصور رحمة الله علیه صبر جمیل میخواهم وبرای امیر شـهید غفـران واسعه الله ج را آرزو دارم بـه امیـد پیـروزی اسـلام علیـه کفـار درافغانسـتان وجهـان اسلام از طرف شورای اسلامی مردم هزاره

دهیواد دغربي زون دحلقوي کمیسیون په نمایندګي دنظامي محاکمودمسؤول دبیعت اوتسلیت پیغام

دافغانسـتان داسـلامي امـارت د غـربي زون دهـرات ، فـراه اونیمـروز ولایتونـو دحلقـوي کمیسـیون پـه نماینـدګي د نظامي محاکمو مسؤول شیخ الحدیث الحاج مولوي عبدالهادي صاحب دشهید امیرالمؤمنین الحـاج ملااخترمحمدمنصـور رحمـه الله د ویـاړمن شـهادت پـه اړه دمرحـوم درنـې کـورنۍ ، دافغانسـتان مسـلمان ملـت اوټـول اسـلامي امـت او داسـلامي امارت نوي زعامت ته دتسلیت مراتب وړاندي کړل

همـداراز نومـوړي دیـاد حلقـوي کمیسـیون اونظـامي محکمي په نمایندګي داسلامي امارت له نـوي زعـیم عالیقـدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولـوي هبـت الله اخنـدزاده صاحب حفظه الله سره په ټولو معروفو کارونوکې په علی السمع والطاعة دبیعت اعلان وکړ.

د اسلامي امارت د محاکمو د عالي اداري تسلیت او بیعت

د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو د عالي اداري د مشرتابه او اراکین، علماء کرامو او د ټولو ولایاتو د محاکمو د محترمو قضاتو په نمایندګي د شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور تقبله الله د شهادت له امله درنې کورنۍ او د اسلامي امارت ټولو منسوبینو او عام متدین ولس ته د تسلیت مراتب وړاندې کوو، الله تعالی دې دوی ته جمیل صبر، عظیم اجر او ښه بدل نصیب کړي او شهید رحمه الله ته دې الله تعالی جنت الفردوس ورکړي.

موږ د نوي زعیم امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبت الله اخندزاده صاحب حفظه الله سره على السمع والطاعة بیعت اعلانوو او ژمنه کوو چې د ژوند تر اخري سلګۍ پورې به په ښه اخلاص خدمت او همکاري کوو.

محترم زعیم حفظه الله ته د مزید توفیق او دراز عمر دعا کوو.

پیام تسلیت و بیعت از طرف مولوي عطاؤ الله والي ولایت سرپل

الحمد لله وحده، والسلام على من لانبی بعده امابعد:

من بحیث مسؤول جهادي ولایت سرپل درمورد شهادت محترم شهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور(رحمه الله) ازطرف خود وازطرف همه مسؤولین، قاضی صاحبها، ولسوالها،و کمیسیون ولایتی تعزیت وتسلیت عرض مینمایم. وهمچنان به نمایندگي مجاهدین ولایت سرپل به امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبة الله ا خند زاد صاحب بیعت خویش را اعلان مینمایم وبرای جناب امیرالمؤمنین (حفظه الله) توفیقات رباني را ازدرگاه الله متعال عاجزانه خواستاریم.

د ننګرهار ولایت د توري بوړې جهادي محاذ دشینوارو ولسوالي د تسلیت او بیعت اعلان

الحمدلله والصلوةوالسلام على رسول الله.قال الله تبارک وتعالی (وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أَمْوَاتاً بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ)

زه حمزه د توري بوړې جهادي محاز یو ادنا مجاهد د ننګرهار ولایت د شینوارو ولسوالي نه لومړی د شهیدامیرا لمؤمنین ملا اخترمحمد منصور صاحب (تقبله الله) د شهادت له امله د اسلامي امارت د رهبري شورى ټولو مشرانو، مسؤلینو، ټولو مجاهدینو او په ځانګړې توګه د قدرمن شهید درنې کورنۍ ته د زړه له تله د تسلیت پیغام وړاندې کوم، الله جل جلاله دې د ده شهادت په خپل عظیم دربار کې قبول کړي.

د اسلامي امارت له نوي زعیم محترم شیخ القران والحدیث مولوي هبت الله اخوندزاده صاحب حفظه الله سره په سمع او طاعت او عسر او یسر- کې د بیعت اعلان کوم، ټولو شرعي امورو کې به د امیرالمومنین امر ته لبیک وایو او خپل جهادي خدمت ته به د دوی تر لارښوونو لاندې دوام ورکوو.

له الله جل جلاله څخه په ټولو شرعي امورو کې ورته کامل توفیق غواړم. والسلام

د کونړ ولایت د جهادي مسؤل تعزیت او بیعت

بسم الله الحمن الرحیم الحمدلله وحده ونصر عبده وهزم الاحزاب کله

د کونړ ولایت د ټولو مجاهدینو او د مجاهد ولس په نمایندګي د عالیقدر امیرالمومنین ملا اختر محمد منصور کورنۍ او د اسلامي امارت ټولو منسوبینو ته د زړه له کومي تسلیت وایم.

ان لله ما اخذ وله ما اعطى وکل شیئ عنده بمقدار واجل مسمی فاصبروا واحتسبوا تقبل الله شهادته

دوهم مور د امیرالمومنین هبة الله اخنذاده حفظه الله سره د الله په کتاب او په سنت د رسول الله په یسر او عسر کې بیعت اعلانو. اللهم وفقهم لماتحب وترضی

مراسم تعزیت و ختم قرآن کریم در مدارس و مکاتب ولایت بدخشان

از ولایت بدخشان گذارش رسیده است که در مکاتب و مدارس این ولایت ، مراسم متعدد ختم قرآن عظیم الشان به نیت ایصال ثواب به روح شهید امیرالمومنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله برگذار گردیده است.

این مراسم در ولسوالی های وردوج ، یمگان ، جرم ، بهارک ، شهداء ، یفتل و دیگر مناطق تحت کنترل مجاهدین امارت اسلامی برگذار گردید و در آخر برای شهید امیرالمؤمنین رحمه الله و تمام شهدای اسلام درجات عالیه و رضای الله متعال و برای امارت اسلامی موفقیت و پیروزی از بارگاه الله متعال خواسته شد.

د زابل ولایت د والي محترم مولوي بازمحمد فیضان دبیعت او تسلیت پیغام

زه مولوي بازمحمد فیضان د زابل ولایت د عمومي مسؤل په حیث د همدې ولایت د مرستیال والي، حاجي ملا عبدالهادي صاحب، د ولایتي کمیسیون د رئیس مولوي عطاؤالله فرید صاحب او د ټول ولایت د جهادي مسؤلینو، عامو مجاهدینو او ټول مؤمن ولس په نمایندګي د اسلامي امارت ټولو منسوبینو او باالخصوص د شهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور رحمه الله تعالی درنې کورنۍ ته د تعزیت او تسلیت مراتب وړاندې کوم، انالله وانااليه راجعون.

زه د زابل ولایت د ټولو مسؤلینو مجاهدینو او مؤمن ولس په نمایندګي له امیرالمؤمنین شیخ مولوی هبة الله اخنذاده صاحب سره بیعت کوم.

د کابل او جلال اباد د لویې لارې د مجاهدینو د مسؤول بیعت او تسلیت

زه مولوی شرافت الله حقانی د کابل-جلال اباد د لوی لارې د جهادي نظام خادم، د سروبي ولسوالی د عام خلکو او د لویې لارې د مجاهدینو ملګرو په نمایندګي د شهید امیرالمؤمنین الحاج ملااختر محمد منصور رحمه الله د شهادت په اړه د نوموړي قدرمني کورنۍ، د افغانستان مسلمان ولس، اسلامي امت او د سنګر ټولو مجاهدینو ته تسلیت وایم.

همداراز زه د خپلو ټولو ملګرو او مجاهدینو په نمایندګي د اسلامي امارت د نوي ټاکل شوي زعیم امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب حفظه الله سره د الله تعالی په کتاب او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په مبارکو سنتو بیعت کوم.

دشمال زون د حلقې مسؤل مولوي عبدالغیاث قانع د تسلیت او بیعت پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم نحمده و نصلي علی رسوله الکریم امابعد !

د اسلامي امارت سابق د کار امور اجتماعي وزیر او اوس د ښوونې او روزنې د کمیسیون مرکزي شورای غړی او د شمال زون د حلقې مسؤل الحاج مولوي عبدالغیاث قانع د شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله د وياړمن شهادت په اړه د مرحوم درنې کورنۍ، د افغانستان مسلمان ولس، ټول اسلامي امت، په سنګر کې ناستو مجاهدینو ، د قلم خاوندانو او د فرهنګي چارو کمیسیون کارکونکو او د اسلامي امارت نوي زعامت او مخلصینو ته د زړه له کومي تسلیت وایم، الله تعالی دې د منصور صاحب رحمه الله شهادت قبول کړي، کورنۍ او ټولو خاخوړو ته دې صبر جمیل او اجر جزیل نصیب کړي،

همدا راز د رهبري شورى د محترمو اعضاوو د مدبرانه او قاطع پریکړې هرکلی کوم او په زغرده له نوي ټاکل شوي

امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبت الله اخندزاده صاحب سره خپل بیعت اعلانوم او ژمنه کوم چي په خوښي او خفگان سختي او اساني کې به يي هر امر ته د شريعت په چوکاټ کي غاړه ږدم.

دجنوبي ولاياتو دمنتظره قطعو دعمومي مسول مولوي عبدالله حسيني دتسليت اوبيعت پيغام

زه دهیواد دجنوبي ولایاتو دمنتظره قطعو دمجاهدینو، مسولینو په استازيتوب دعاليقدر شهيد اميرالمؤمنين ملااخترمحمد منصور رحمه الله دوياړمن شهادت له امله دمرحوم درنی کورنی، دافغانستان مسلمان ملت اوټول اسلامي امت اوداسلامي امارت نوي زعامت ته دتسليت مراتب وړاندي کړل همداراز داسلامي امارت له نوي زعیم عاليقدراميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوي هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله سره په ټولو معروفو کارونوکی په على السمع والطاعة دبيعت اعلان کوم.

دشرقي ولايتو د نظامي قطعي د مسؤل او مجاهدينو د تسليت او بيعت پيغام

زه ملا محمد فريد قيام د شرق زون دقطعي مسؤل دخپلو ټولو مربوط مجاهدينو په استازيتوب دشهيد اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور نورالله مرقده دوياړمن شهادت په مناسبت افغان ولس او ټول مسلمه امت خصوصا دشهيد امير درنې کورنی ته دتسليت مراتب وړاندي کوم اوله نوي زعيم محترم شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده صاحب سره دشريعت په چوکاټ کي على السمع والطاعة دبيعت اعلان کوم او په عسر- او يسر کې به يې په شرعي اوامرو کې اطاعت کوم

مراسم فاتحه و قرآن خوانی در مدارس و مکاتب ولایت تخار

روز گذشته در تمام مدارس و مکاتب مناطق تحت کنترل مجاهدین امارت اسلامی در ولایت تخار ، مراسم باشکوه فاتحه خوانی و ختم قرآن عظیم الشان در رابطه به شهادت امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله برگذار گردیده است.

در این مجالس که از ساعت ۹ صبح آغاز گردید و تا ساعت ۱۲ ظهر ادامه داشت، قرآن عظیم الشان برای ایصال ثواب به روح مبارک حضرت امیرالمومنین رحمه الله ختم گردید.

اشتراک کنندگان در این مراسم ، مراتب تسلیت خویش را به خانوادهٔ امیرالمومنین رحمه الله ، زعیم جدید امارت اسلامی ، شورای رهبری ، مجاهدین امارت اسلامی ، ملت مسلمان افغانستان و کافهٔ امت اسلامی ابراز داشته و برای بلندی درجات زعیم شهید و کامیابی جهاد دعاء خیر نمودند.

دکندزولایت د جهادي مسؤل محترم ملا عبدالسلام اخند لخوا دتسليت او بيعت اعلان

بسم الله الرحمن الرحيم. من المؤمنين رجال صدقوا ماعاهدوا الله عليه فمنهم من قضى نحبه ومنهم من ينتظر. ومابدلوتبد يلا.

زه ملاعبدالسلام د اسلامي امارت له خوادکندوز دوالي په حيث دولايت د معاون محمد ، د ولايتي کمېسيون درئيس مولوي رحمة الله اوټولو غړيو، د دې ولايت د نظامي قطعې مسؤول مولوي فياض او دهغه د مرستيال او زموږ دټولو مسؤولينواوا ولس په نمائندگي دشهيد امير المؤمنين ملا اختر محمد منصور(رحمه الله) د وياړمن شهادت له امله د رهبرى شورا، ټولو مجاهدينو او دده درنې کورنۍ اوخپلوانو ته دزړه له تله تعزيت اوتسليت وايم. الله تعالى دي دهغه د پاکو وينو له برکته په افغانستان کي سچه اسلامي نظام حاکم کړي اوکورنۍ ته دي الله جميل صبر نصيب کړي.

همداراز د دوی ټولو په نمايندگي د اسلامي امارت له نوي امير محترم هبة الله اخند زاده(حفظه الله ونصره) سره په ټولو شرعي امورو، قران او احاديثو کي بالسمع والطاعه د اهل السنة والجماعة په منهج بيعت اعلانوم. الله پاک دي دوی او موږ

ټولو ته دخپلي رضا اودين په لاره کي د لاديرو خدمتونو توفيق را کړي.

همداراز زه دخپلو ټولو ملګروپه نمايندګي داسلامي امارت لپاره دنوي ټاکل شوي اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب حفظه الله سره دشريعت په چوکاټ کې بيعت کوم

دکندهاربښار دچريکي مجاهدينو دتسليت اوبيعت پيغام

زه سپين طالب دکندهار ولايت دکندهاربښار دچريکي مجاهدينو مسؤول دخپلو ټولو ملګرو اوټولو چريکي مجاهدينو په نمايندګي دشهيد اميرالمؤمنين ملااخترمحمدمنصور رحمه الله دويارمن شهادت په اړه داميرالمؤمنين درني کورنۍ، دافغانستان مسلمان ولس، اسلامي امت اودسنګر مجاهدينو ته تسليت وايم

الله تعالى دي دمنصور صاحب رحمه الله شهادت قبول کړي اوکورنۍ ته دي يې صبرجميل ورنصيب کړي.

همداراز زه دخپلو ټولو چريکي مجاهدينوپه نمايندګي داسلامي امارت له نوي زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب حفظه الله سره دالله تعالى پرکتاب اودنبي کريم صلى الله عليه وسلم په سنتو او داهل السنة والجماعة دمنهج له مخې په ټولو معروف کارونوکې په خوښي اوسختي کې په سمع اوطاعة سره بيعت کوم

دغور ولايت دمحترم والي صاحب د تسليت اوبيعت پيغام

الحمدلله رب العالمين منعم الشهداء وناصر المجاهدين ، ووالصلوة والسلام على اميرالمجاهدين خاتم النبيين و آله وصحبه اجمعين

امابعد: من ملاتيمورشاه اختد مسؤول مجاهدين ولايت غور بنمايندگی ازهمه مجاهدين وملت متدين وجهاد پيشه اين ولايت تسليت را برای همه مسؤولين ومجاهدين امارت اسلامي خصوصا خانواده شهيد سعيد وزعيم فقيد رحمه الله تقديم ميدارم ، الله متعال برای شهيد جنة الفردوس وبرای بازماندگان صبرجميل واجر جزيل عنايت فرمايد

وبيعت خودرا با اميرمنتخب شورای اهل الحل والعقد اعلان ميکنم . والسلام

د سمنګان ولايت د محترم والي بيعت او تسليت

د سمنګان د قاري محمد ظاهر د خان لخوا او د خپلو ټولو مسؤلينو او د سنګر د مجاهدينو لخوا د خپل مشفق رهبر شهيد امير المومنين ملا اختر محمد منصور رحمه الله د وياړمن شهادت په اړه د اميرالمؤمنين درنې کورنۍ او ټول امت مسلمه او د اسلامي امارت نوي زعامت ته د زړه له اخلاصه تسليت وايم.

زه د سمنګان ولايت د ټولو مسؤلينو ملګرو او عامو مجاهدينو او متدين ولس په نمايندګي د اسلامي امارت له نوي زعيم اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث هبت الله اخندزاده صاحب سره د الله تعالى په کتاب، د نبي عليه السلام په سنتو او د اهل سنت والجماعت د منهج له مخې په ټولو شرعي امورو کې په اسانۍ او په سختۍ کې بيعت کوم.

د غزني په شلګر کي ګڼو مجاهدينو او مجاهد ولس د بيعت مراسم ترسره کړل

نن د غزني ولايت د شلګر ولسوا لی په علي قلعه کلی کی د مرحوم امير المؤ مين د شهادت په پار د فاتحې او ختم مراسم ترسره شول.

په غونډه کې دغزنی والي مو لوی محمد قاسم صا حب او دلګی مشرانو او ز يات شمير عالمانو، جهادي قومندانانو، قومي مشيرانو او عامو خلګو ګډون درلود.

د غونډې په پای کې له اميرالمؤمنين شيخ هبت الله صاحب سره د غونډې ټولو ګډونوالو د بيعت اعلان وکړ.

د ننګرهار ولايت سرخ رود په ولسوالۍ کې د بيعت او فاتحې غونډه وشوه

نن د ننګرهار ولايت په سرخ رود ولسوالۍ کې د فاتحې او بيعت په موخه لويه غونډه وشوه.

په غونډه کې د تعليم او تربيې مسولينو، د مدارسو استاذانو، د مکاتبو معلمينو، او د سلګونو په تعداد کې عامو مسلمانانو ګډون کړی وو.

غونډه عاليقدر امير المؤمنين شهيد ملا اختر محمد منصور صاحب ته د ايصال ثوال په نيت د قرانکريم په ختم سره پيل شوه، ورپسې د شهيد امير المؤمنين رحمه الله پاک روح ته د رب العالمين له درباره ښه دعا وغوښتل شوه او بيا له نوي زعيم امير المؤمنين جناب شيخ القرآن والحديث مولانا هبت الله اخنزاده حفظه الله سره د لاسونو په پورته کولو سره بيعت وشو.

غونده اسلامي امارت ته د وحدت او کاميابی په دعا سره پای ته ورسيده.

د لغمان ولايت د منتظره قطعې د مسؤل بيعت او تسليت

زه مولوي ياسر لغماني د قطعی د مسئول په حيث سره د خپلو مربوطه ملګرو او دلګی مشرانو او سرګروپانو او د متدين او مجاهد ولس په نمايندګی د اسلامی امارت ټولو منسوبينو او بالخصوص د شهيد اميرالمؤمنين ملا اخترمحمد منصور رحمه الله تعالی درنې کورنۍ ته د تعزيت او تسليت مراتب وړاندې کوم، تقبله الله تعالی وجعل الجنة مثواه.

زه مولوی ياسر لغمانی د لغمان ولايت د خپل مربوطه دلګی مشرانو، سرګروپانو، مجاهدينو او مؤمن ولس په نمايندګی له اميرالمؤمنين شيخ الحديث مولوی هبت الله آخونداده صاحب حفظه الله تعالی سره د قرآني ارشاداتو په رڼا کې بيعت کوم. والسلام

د کابل د مرکز اړوند چريکي ګروپونو د تسليت او بيعت پيغام

زه اکرام د نورو ګروپونو او مجاهدينو په نمائندګی د پخواني اميرالمومنين ملا اخترمحمد منصور رحمه الله د شهادت مبارکې ټول مسلمه امت او بالخصوص افغان مجاهد ولس او د هغه غمجنې کورنۍ ته وايم، الله تعالی دې شهادت قبول او په خبل ديدار ونازوي.

د نوي اميرالمومنين شيخ الحديث والتفسير مولوی هبة الله اخندزاده (حفظه الله) ته د خپل ځان او د نورو ملګرو په نمائندګی علی السمع والطاعه بيعت اعلانوم او ژمنه کوم چې د ژوند تر اخري سلګۍ پورې به په ښه اخلاص خپل خدمت ته دوام ورکوو او هرې همکارۍ او قربانۍ ته تيار يو.

ومن الله توفيق

د نورستان ولايت د مرستيال والي بيعت او تسليت

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام علي رسوله الکريم وعلي آله وصحبه اجمعين وعلي من تبعهم باحسان الي يم الدين

زه منيب الله د الشيخ فقيرالله زوی د نورستان ولايت د مرستيال په صفت او د نورستان او کونړ د مجاهدينو په نمائندګي د مرحوم شهيد اميرالمؤمنين تقبله الله وجعل الجنة مثواه د شهادت مبارکي او تعزيت د اسلامي امارت قيادت او د شهيد بختورو ورثو او اسلامي امت ته وړاندي کوم.

د امارت نوي زعيم اميرالمؤمنين الشيخ هيبت الله اخونداده حفظه الله سره بيعت اعلانوم.

د کندهار د والي صاحب او ټولو مسئوولو مجاهدينو او عامو مسلمانانو تعزيت او بيعت پيغام

زه د کندهار ولایت مسئول الحاج ملا محمدزی اخند، له خپله لوري اصالتاً او دکندهار ولایت ټول امارتي مسئولینو، کمیسیونونو، محاکمو، نظامي قطعاتو، ولسوالانو، دلګی مشرانو، ټولو مجاهدینو د ولایت اړوند علماءکرامو، سپین ږیریو، قومي مشرانو، متنفذینو او دکندهار ټول مسلمان او مجاهد ولس لخوا نیابتاً د شهید امیرالمؤمنین الحاج ملا اخترمحمد منصور رحمه الله با افتخاره شهادت په اړه د مرحوم امیرالمؤمنین قدرمنې کورنۍ، خپلوانو، د اسلامي امارت نوی زعامت، ټولو مسئولینو، مجاهدینو ټولو هیوادوالو او دنړۍ مخلصو او دردیدلو مسلمانانوته ددې پیښې په اړه تسلیت او تعزیت وایم، الله تعالی دې د منصور صاحب رحمه الله قرباني اوخدمتونه قبول کړي، الله تعالی دې په کورنۍ او امارت کې بازماندګانو ته صبرجمیل او اجر جزیل ور په نصیب کړي

همدا ډول زه دخپل ځان له لوري اصالتاً او د پورته ټولو ذکر شوو ادارو، مجاهدینو او عامو مسلمانانو لخوا نیابتاً له نوي امیرالمؤمنین شیخ الحدیث الحاج مولوي هبة الله اخندزاده صاحب سره په ټولو شرعي امورو کې په سمع او اطاعت سره بیعت کوم، دالله تعالی څخه نوی زعیم او مرستیالانوته یې په دغه دروند مسئولیت کې توفیق او نصرت غواړم، موږ ټول د اسلامي امارت نوي زعامت ته له خپله لوري په ټولو راسپارل شوو امورو کې د پوره اطاعت، او فرمان برداری اطمنان او ډاډ ورکوو. والسلام

د ګوانتانامو شهید معلم اول ګل د کورنۍ تعزیت او بیعت

په ډېره خواشینۍ مو خبر ترلاسه کړ چې امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله د بې رحمه امریکایانو لخوا په شهادت ورسېد. الله جل جلاله دې زموږ د امیر شهادت په خپل دربار کې قبول کړي، د هغه له اجرونو دې الله جل جلاله موږ نه محروموي. ډېر خوښ یو چې د امریکایانو ارمانونه خاورو سره خاورې کیږي، که امیرالمؤمنین منصور رحمه الله شهید شو، داسې صالح خلف ورته الله جل جلاله پیدا کړ چې د مؤمنانو زړونه یې پرې تسکین کړل. موږ په خپل وار د خپلې ټولې کورنۍ په استازیتوب خپل امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخوندزاده سره په شریعت بیعت کوو. تر خپلې وسې او د شریعت په چوکاټ کې به یې د هر امر اطاعت کوو. محترم امیرالمؤمنین ته او محترمو نائبینو مولوي محمد یعقوب مجاهد او خلیفه صاحب ته د ښه جهاد او ثبات توفیق غواړو.

محمود او وحدت مجاهد د شهید الحاج معلم اول ګل رحمه الله ورونه

دمرحوم مولوي محمدیونس خالص بابا د نږدې ملګرو د تسلیت پیغام

په دې غمجن خو له افتخاره ډک مناسبت د امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد متصور رحمه الله د شهادت تعزیت او تسلیت وړاندې کوو. د ده کورنۍ ته، د اسلامي امارت مجاهدینو ته، د نړۍ مجاهدینو ته او ټول اسلامي امت ته. الله جل جلاله دې دده برکات او اجرونه په پاتې مسلمانانو کېږدي. اللهم لاتحرمنا اجره ولا تفتنا بعده!

د شهید ملا اخترمحمد منصور رحمه الله ځایناستي شیخ الحدیث امیرالمؤمنین هبة الله اخوندزاده صاحب ته د اوږد ژوند غوښتونکي یو. الله جل جلاله دې د خپلو اسلافو لپاره ښه خلف وګرځوي. الله جل جلاله دې د مسلمانانو دا نوی امیر د ټول امت د هیلو ترجمان کړي. همدا ډول د ده نائیبینو هر یو مولوي محمد یعقوب مجاهدصاحب او ملا سراج الدین حقاني صاحب ته د خپلو پلرونو په نقش قدم د تلو دعاء کوو، د اتفاق، بریا او اسلامي نظام د حاکمولو توفیق ورته غواړو. آمین

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

د خالص بابا نږدې ملګري قاري محمودشاه، قاري الهام الدین او حاجي عبدالبصیر

دهلمند ولایت د والي حاجي ملا عبدالمنان اخند د تسلیت او بیعت پیغام

د هلمند ولایت جهادي مسؤل او والي الحاج ملا عبدالمنان اخند د خپل ولایت د ټولو نظامي مسولینو،نظامي قطعاتو،مجاهدینو او د هلمند د ټول مومن ولس په نمایندګي دشهید امیرالمومنین ملا اختر محمد منصور تقبله الله د ویاړمن شهادت له امله د اسلامي‌امارت مشرتابه،او په ځانګړي توګه دشهید ملا اختر محمد منصور رحمه الله درنې کورنۍ ته د تسلیت مراتب وړاندي کړل.

همدا راز نوموړي د هلمندولایت د ټولو مسؤلینو او مجاهدینو په استازیتوب د اسلامي امارت له نوي امیر شیخ الحدیث هبة الله اخندزاده صاحب سره علی السمع والطاعة، خپل بیعت اعلان کړ او ژمنه یې وکړه چې په روا او معروف کارونو کې به د خپل امیر پوره اطاعت کوي.

دهیواد نامتو دیني عالم شیخ القرآن والحدیث مولوي غلام دستګیر صاحب دتعزیت او بیعت پیغام

دهیواد پیاوړي دیني عالم او د ارزوګان ولایت جهادي شخصیت محترم مولوي غلام دستګیر صاحب دشهید امیرالمؤمنین تقبله دشهادت له امله دنوموړي له ویاړمني کورنۍ، اسلامي امارت ، مجاهدینو او ټول اسلامي امت ته دتعزیت او غمشریکي مراتب وړاندي کړل، محترم شیخ صاحب د شهید امیرالمؤمتین تقبله الله جهادي کارنامې او ددین په لار کې نه ستړي کېدونکي هلي ځلي دقدر وړ وګڼلې او دنوړي شهادت یې د ټول اسلامي امت لپاره یوه نه جبرانېدونکي ضائعه وګڼله

نوموړي داسلامي امارت له نوي زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده صاحب سره په علی السمع والطاعة په سختۍ او آسانۍ کې دبوره همکارۍ او بیعت ژمنه وکړه محترم شیخ صاحب دغه راز په ټولو هیواد والو او دین دوستو کسانو باندي غږ وکړ چې داسلامي امارت دصف دواحد ساتلو ،د دښمنانو دشومو عزائمو دمخنیوي او دجهادي بهیر دلا پیاوړتیا لپاره دي ژر تر ژره داسلامي امارت له نوي زعیم سره بیعت اعلان کړي

دمیدان وردګ ولایت د والي مولوي احمد الله منصوراو مجاهدینو دتسلیت او بیعت پیغام

داسلامي امارت له لوري د میدان وردګ ولایت جهادي مسؤل او والي مولوي صاحب احمد الله مصنور دشهید امیرالمؤمنین تقبله الله دشهادت له امله دنوموړي له درنې کورنۍ، اسلامي امارت ، مجاهدینو او ټول اسلامي امت سره دغمرزاۍ او تعزیت مراتب شریک کړل.

دغه راز نوموړي دخپل ولایت دټولومسولینواو مجاهدینو په استازیتوب داسلامي امارت له نوي زعیم شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده صاحب سره بیعت اعلان کړ او یادونه یې وکړه چې داسلامي امارت وحدت او یوموټي ساتلو ته به تر پخوا زیاته توجه کوي، دجهاد سنګرونه به لا ګرم ساتي.

د غونډې په پیل کې د شهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور رحمة الله علیه فاتحه واخستل شوه او بیا له نوي زعیم شیخ الحدیث والتفسر هبت الله اخندزاده سره د بیعت اعلان وشو.

د ارزوګان ولایت مجاهدینو د فاتحې په مراسمو کې د بیعت تجدید وکړ

د ارزګان ولایت په چهارچینو ولسوالۍ کې د اسلامي امارت د مجاهدینو او عامو خلکو لخوا د فاتحې او بیعت پرتمینه غونډه وشوه.

دغه غونډه چې نږدې ۴۰۰ تنو علماء کرامو او مجاهدینو او متدین ولس پکې ونډه اخیستې وه د قرآن کریم د څو مبارکو ایاتونو په لوستلو پیل شوه.

په غونډه کې د یاد ولایت محترم والي صاحب هر اړخیزه وینا وکړه او دغه راز علماء کرامو هم په خپل وار خبرې وکړې.

وروسته د والي صاحب محترم په لاس د غونډې ټولو ګډونوالو د ولسوالی نظامي مسؤل حاجی بلال، د قطعې او د حاجی ملا فاضل مظلوم د ملګرو مسؤل الحاج ملا امین الله اخند، د ولایتي کمیسون عضو مولوي عتیق الله ا ونورو مسؤلینو او عامو خلکو د اسلامي امارت له نوي زعیم امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب حفظه الله سره د الله تعالی په کتاب او د نبي کریم علیه السلام په مبارکو سنت بیعت وکړ.

دزابل ولایت مرکزقلات په شمول په ټولوولسوالیوکې دشهیدمنصورصاحب دفاتحې مراسم دیوشمیر پرتمینو غونډوپه ترڅ کې ترسره شول

دتېرې پنجشنبې اوجمعې په ورځو دافغانستان اسلامي امارت دامیرالمؤمنین شهیدملااخترمحمد منصورتقبله الله دفاتحې مراسم داسلامي امارت دمجاهدینواوټول اولس له خوادپراخوغونډوپه ترڅ کې چې ګډون وال یې علماء، قومي مخوراوعام مسلمانان ووترسره شول

دزابل مرکزقلات،شاجوی،نوبهار،شملزي ،اتغر، شنکی، سیوری،شهرصفا،دایچوپان ،خاک افغان، میزانه اوارغنداب ولسوالیوپه هغوسیموکې چې دمجاهدینو په واک کې دي په ترسره شویوغونډوکې علماءکراموټول مجاهدین اوولس اتحاداواتفاق ته راوبلل غونډې دقرآن کریم په تلاوت سره پیل شوې وروسته دموضوع په ارتباط علمي او په زړه پورې وېناوې وشوې اوداسلامي امارت له نوي زعیم امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هیبت الله اخندزاده صاحب سره بیعتونه وشول

وریسې داسلام دټولوشهداو اومبارکو ارواحواو دمسلمانانو داتحاد اواتفاق لپاره دعاوې وشوې

په ټول ولایت کې بیعتونه په لاندې ډول ترسره شول:

دزابل په مرکزقلات کې دجهادي مسؤل مولوي عبدالقیوم هلال په توسط بیعتونه وشول ،په شاجوی ولسوالي کې دهمدي ولسوالی دنظامي مسؤل ملاعبدالله حبیب په توسط بیعتونه وشول، په نوبهارکې دالحاج شهیدملاروزي خان عاکف دمشرملګري ملاسلیمان اغابهیردځای ناستي اسدالله واسرپه توسط بیعتونه وشول ،په شملزوولسوالي کې دشهیدمولوي محمدعالم کلیم دملګري اوشملزوولسوالی لپاره دجهادي مسؤل حاجي نقیب الله مقیم په توسط بیعتونه وشول ،په اتغرولسوالي کې دنقشبندي دملګري غازي په توسط بیعتونه وشول ،په شنکی ولسوالي کې دجهادي مسؤل ملاسعد محمدبریالي دځای ناستي سیرت په توسط بیعتونه وشول ،په سیوري کې دجهادي مسؤل ملاعبدالجبارياسرپه توسط بیعتونهوشول ،په شهرصفاکې دجهادي مسؤل بلال په توسط بیعتونه وشول، په دایچوپان کې دشهید ملامحمد جهادي دوروراوددایچوپان جهادي مسؤل ملاعطاؤالله جهادي په توسط بیعتونه وشول ،په خاک افغان کې دجهادي مسؤل مختارپه توسط بیعتونه وشول ،په میزانه ولسوالي کې دجهادي مسؤل ملااحمدالله زبیرپه توسط بیعتونه وشول اوپه ارغنداب ولسوالي دجهادي مسؤل ملادادګل مسلم په توسط بیعتونه وشول.

دیادولوده داسلامي امارت دمشرتابه له هدایاتوسره سم په ټول زابل کې مجاهدینواوعام اولس له خپلو عمومي جهادي مسؤلینو سره بیعتونه کول اومسؤلینونن سهاردخپل ولایت دوالي مولوي بازمحمدفیضان صاحب په توسط دافغانستان داسلامي امارت له زعیم شیخ القرآن والحدیث مولوي هیبت الله اخندزاده صاحب سره خپل بیعتونه اعلان کړل

د اسلامي امارت د استشهادي کنډک د مسؤل ملا تاج میر جواد دتسلیت او بیعت پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم الحمدلله وحده والصلوة والسلام علی من لانبی بعده قال الله تعالی إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهُ ۚ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ

(۱۴۰)وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ (۱۴۱) آل عمران

وبعد :

اولاً : زه ملا تاج میر جواد د اسلامي امارت د استشهادي کنډک مسؤل او زما ټول مجاهدین ، استشهادیان ملګري او د شهید شویو استشهادیانو کورنۍ د اسلامي امت د ستر قهرمان عالیقدر امیرالمؤمنین ملااخترمحمد منصور تقبله الله له ویاړ او افتخار څخه ډک شهادت له امله د نوموړي درنې کورنۍ ، د اسلامي امارت مشرتابه ، مسئولینو او مجاهدینو ، د افغانستان مجاهد ولس ، دنړۍ په ساره او اوږده کې خواخوږو مسلمانانو ، د جهاد مشرانو او مجاهدینو ته د مبارکۍ ، تسلیت او تعزیت مراتب وړاندې کوم ؛ الله جل جلاله دې د اسلام د دې ستر قهرمان شهادت قبول کړي ، په جنتونو کې دې په لوړو مقامونو ونازوي او مونږ او تاسې ته دې لوی الله جل جلاله ستر اجرونه او جمیل صبر را په نصیب کړي .

یقیناً د اسلام دا زمری د کفر او نفاق په ټټر ستر خنجر وو ، د کفر لوی ائمه او سترې شیطاني لښکرې ترې په ویره کې وې ، الله جل جلاله د نوموړي اتل تقبله الله په لاس د نړۍ د سترو دجالي سازمانونو له شیطانت څخه ډک ډیر مکرونه او شیطانتونه له خاورو سره برابر کړي وو .

یقیناً شهید امیرالمؤمنین تقبله الله د اسلامي امت ځلیدونکی تاج او د هر دردیدلي مسلمان د زړه ټکور او د ارمانونو رښتونی انعکاس وو . نوموړي اتل تقبله الله په پوره امانت خپله ورسپارل شوې دنده سرته ورسوله؛ دا زمونږ او ستاسې لپاره د ویاړ او افتخار ځای ده او باید شکر یې د الله په لاره کې په سترو سربښندنو اداکړو.

څرنګه چې شهید امیرالمؤمنین تقبله الله د الله په لار کې خپل ژوند سپیلنی کړ او د کفر دسیسو ته تسلیم نشو بناءاً په داړ ویلای شو چې نوموړی اتل مړ نده بلکه ژوندی ده او د قیامت تر ورځې پورې به هم په دنیا کې د اسلامي امت د تاریخ په راتلونکو زرینو اوراقو او د مسلمانانو په زړونو کې ژوندی وي او هم به یې روح په جنتونو کې د شنو مارغانو په ججورو کې ترقیامته پورې ګرځي راګرځي ؛ نحسبه کذلک والله حسیبه.

که مونږ د ده له سپیڅلو ارمانونو سره وفا وکړه او د ده له نجات څخه په ډکې تګلارې مو تګ وکړ نو بیا به په رښتونې توګه د خپل دې شهید محبوب رهبر له رښتونو لارویانو څخه بلل کیږو ؛ الله دې توفیق راکړي.

ثانیاً : مونږ د لوی الله جل جلاله د نصرت د رښتونې وعدې په اتکاء دا ژمنه کوو چې د نوموړي اتل د وینو د هرڅاڅکي انتقام به د خپلو وینو ، غوښو او هډوکو په بیه د اسلام او مسلمانانو له سر سختو او تور زړو غلیمانو څخه اخلو ان شاءالله ؛ صلیبیان دې داسې فکر نه کوي چې مونږ د ویر په تغر ناست یو او یواځې اوښکې به تویو ، دوی باید په دې پوه شي چې مونږ د خپلو محبوبو رهبرانو شهادت او فراق یقیناً ډیر دردوي خو زمونږ مورال او عزمونه ډیر لوړوي او اسمان څکې کوي او د انتقام جذبه مو په خورا جوش کې راولي، دوی ته دې څرګنده وي چې د کفر په مقابل کې د روحې او مورال ماتوالی زمونږ د سربښندنو په قاموس بیخي نشته .

انتظار اوسئ که الله ته خوښه وه لا به زیاته درته روښانه او جوته شي چې زمونږ د محبوب رهبر له ویاړمن شهادت نه ستاسې ناولې هیلې څومره بې معنا او بې ګټې دي او ان شاء الله نامرادي تل ستاسې په برخه ده .وماذالک علی الله بعزیز . والله عزیز ذوالنتقام

ثالثاً : مونږ د اسلامي امارت د رهبري شورى ددرنو او قدرمنو غړو له لوري چې د اسلامي شریعت له مخې د اهل الحل والعقد له اعتبار نه برخمن دي د اسلامي امارت د نوي زعیم او امیرالمؤمنین په توګه د شیخ الحدیث والقرآن مولوي هیبت الله اخنداده حفظه الله ونصره ټاکل کیدل استقبالوو .

زمونږ ګران او عالی القدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث والقران مولوي هیبت الله صاحب!!

زه د خپل ځان لـه لـوري اصالتاً او د خپلـو مجاهـدينو ، استشهادي ملګرو او د شهيدانو د کورنيو له لوري (چې پـه تېـرو څو ورځو کې په بيلابيلو سيمو کې غونډې ترسره او ماتـه يـې بيعتونه رااستولي دي) نيابتاً پـه خوښـۍ او خفګـان ، سختـۍ او اسانۍ او هر حالت کـې د اسلامي شريعت پـه چوکـاټ کـې د اهل سنت والجماعت په منهج له تاسې محترم سره خپـل بيعت اعلانوم او د لوی الله جل جلاله د نصرت په اتکاء بشپړ اطمنان درکـوم لکـه څنګـه مـو چـې د اسـلام د سـتر خـادم عاليقـدر اميرالمؤمنين ملامحمدعمر مجاهـد رحمت الله عليـه او د شـهيد اميرالمؤمنين ملااخترمحمد منصور تقبلـه الله اطاعـت کـاوو او د دوی په اشاره مو د اسلام د قسم خوړلو دښـمنانو د ځپلـو پـه لار کې له هيڅ ډول قرباني څخه دريغ نه کاوو همداسې به د اسلام د سر سخته دښمنانو د ځپلو په مقصـد ستاسـې د اوامـرو د پـلي کولو په لار کې له هـيڅ ډول قربـاني څخـه دريـغ ونـه کـړو .ان شاءالله

له لوی الله جل جلاله څخه تاسې تـه لـه خيـر ، برکـت او عافيت څخه ډک ژوند غواړو ، لوی الله دې خپله کلمـه ستاسـې پر لاس په ګرده نړۍ کې اوچته او ټـول مسلمانان دې د عـزت او سرلوړي له ژوند څخه برخمن کړي . آمين يارب العالمين .

دمرحوم مولوي محمديونس خالص بابـا د کـورنۍ او مجاهدينو د تسليت پيغام

الحمـدلله الـذي لااله الا هـو يحـي ويميـت ، وهـوحي لايموت ، والصلاة والسلام علي نبيه محمـد والـه ، ومـن تـبعهم باحسان الی يوم البعث والنشور .

